# نجم القرآن

## د قرآن کریم اسانه ترجمه او تفسیر

ډاکټر محمد عثمان نظامي

سپاره نمبر 12

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

۞ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا وَيَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ ﴿٦﴾

۞ وَ او مَا نشته مِن د دَآبَّةٖ هيڅ يو خوځيدونكي(ځيني) فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمكه كې إِلَّا مګر(دا چې) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى باندې رِزۡقُهَا رزق دى د هغه وَ او يَعۡلَمُ هغه«جل جلاله»پوهيږي(پيژني) مُسۡتَقَرَّهَا د هغه د اوسيدلو دائمې ځاى وَمُسۡتَوۡدَعَهَاۚ او د هغه د اوسيدلو مؤقتي ځاى كُلّٞ (دا) ټول فِي كِتَٰبٖ په يو كتاب مُّبِينٖ روښانه(كې دي) ﴿٦﴾

۞ وَمَا مِن دَآبَّةٖ فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمكه كې هيڅ يو خوځيدونكى نشته إِلَّا مګر(دا چې: د هر خوځيدونكي او حركت والا) عَلَى ٱللَّهِ رِزۡقُهَا رزق په الله تعالى باندې دى(يعني ټول ضرورتونه يې الله تعالى پوره كوي،مثلاً غذايي مواد،هوا،اوبه،انرجي،عقل، استعداد....) وَ او(علاوه د دې څخه چې هر يو ته رزق وركوي،د هر يو) يَعۡلَمُ مُسۡتَقَرَّهَا د اوسيدلو دائمې ځاى(هم)پيژني) وَ او(د هر يو) مُسۡتَوۡدَعَهَاۚ د اوسيدلو مؤقتي ځاى(هم) پيژني (انسان د دنيا څخه د آخرت په طرف د خپل مستقر يعني دائمي كور خوا ته روان دى،د آخرت نه مخكې ټول ځايونه د انسان دپاره مؤقتي كورونه دي،په يو ځاى كې هم په دائمي توګه نشي پاتې كيدلاى،دا په دې معنى چې

آخرت ته د رسیدلو څخه د مخه ټول ځایونه د انسان دپاره مستودع یعني مؤقتي کورونه دي،هغه که د نطفي په شکل د پلار په وجود کې وي،یا د جنین په شکل د مور په رحم کې وي،یا که د دنیا په هر کور،هره کوڅه،هرکلي او بازار او هر ملک کې وي،او یا که د مرګ نه وروسته په برزخ کې وي،دا ټول ځایونه د انسان دپاره مؤقتي کورونه یعني مستودع دي،ځکه چې په یو ځای کې هم همیشه یا په دائمي توګه نشي پاتي کیدلای، یا په بل عبارت د آخرت څخه مخکې انسان مستودع یعني په مؤقتي ځای یا کور کې اوسیږي، لیکن کله چې آخرت یعني خپل مستقر ته ورسیږي،سفر یې ختم شي او د همیشه دپاره په آخرت کې یا په جنت او یا په دوزخ کې اوسیږي.)
كُلّٞ فِي كِتَٰبٖ مُّبِينٖ او دا ټول(هرڅه)په یو روښانه کتاب کې(ثبت)دي(یعني په لوح محفوظ کې چې د الله تعالی د علم څخه لیکل شوئ دی،ثبت دي) ﴿٦﴾

وَهُوَ ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ لِيَبۡلُوَكُمۡ أَيُّكُمۡ أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ وَلَئِن قُلۡتَ إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا سِحۡرٞ مُّبِينٞ ﴿٧﴾

وَ او هُوَ هغه«جل جلاله» ٱلَّذِي هغه ذات دی خَلَقَ چې پیدا ئې کړل ٱلسَّمَٰوَٰتِ آسمانونه وَٱلۡأَرۡضَ او ځمکه فِي سِتَّةِ په شپږو أَيَّامٖ ورځو کې(مرحلو کې) وَ او كَانَ وو عَرۡشُهُۥ عرش د هغه«جل جلاله» عَلَى ٱلۡمَآءِ په اوبو باندې لِيَبۡلُوَ د دې دپاره(ئې اسمانونه او ځمکه پیدا کړل)چې امتحان کړي كُمۡ تاسو أَيُّكُمۡ چې کوم یو ستاسو أَحۡسَنُ ډېر خایسته عَمَلٗاۗ عمل والا دی وَ او لَئِن که چیرته قُلۡتَ ته ووایې(خلکو ته چې:) إِنَّكُم بېشکه تاسو مَّبۡعُوثُونَ راوژندې کیږئ مِنۢ بَعۡدِ وروسته د ٱلۡمَوۡتِ مرګ نه

لَيَقُولَنَّ يقيناً وايي به ٱلَّذِينَ هغه خلک كَفَرُوٓاْ چي كافران دي إِنۡ
نه ده هَٰذَآ دا(خبره ستا ريښتيا) إِلَّا مګر سِحۡرٞ جادو دی مُّبِينٞ
ښکاره(يعني لکه څنګه چي جادو حقيقت نه دی همداسي دا خبره هم
حقيقت نه ده) ﴿٧﴾

وَهُوَ ٱلَّذِي او الله تعالی هغه ذات دی خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ فِي سِتَّةِ
أَيَّامٖ چي آسمانونه او ځمکه يې په شپږ ورځو کي پيدا کړل(د شپږ
ورځو څخه مطلب شپږ مرحلي دي چي اندازه او مقدار يې الله تعالی
ته معلوم دي) وَكَانَ عَرۡشُهُۥ عَلَى ٱلۡمَآءِ او د الله تعالی عرش په اوبو
باندي و(د قرآن د نزول په زمانه کي يعني ۱۴۰۰ کلونه پخوا
ساينسدانان او عام خلک په دې نه پوهيدل،ليکن د شلمي او يويشتمي
پيړۍ ساينس پوهان د نوو تحقيقاتو په رڼا کي وايي چي:د ځمکي او
لمر د پيدا کيدلو څخه بيليونونه کلونه مخکي په دنيا کي اوبه موجود
وي) لِيَبۡلُوَكُمۡ د دې دپاره چي امتحان وکړي تاسو(يعني الله تعالی
آسمانونه او ځمکه يا دا مادي کائنات د دې دپاره پيداکړل چي ستاسو
نه په کي امتحان واخلي،يعني کائنات يې ستاسو دپاره او تاسو يې د
امتحان دپاره پيدا کړئ او امتحان ئي د دې دپاره پيدا کړ) أَيُّكُمۡ
أَحۡسَنُ عَمَلٗاۗ چي ستاسو څخه کوم يو د ښايسته اعمالو والا دی(يعني
چي په تاسو کي د بهترو او ښايسته عملونو والا بيل او جنت ته يې
داخل کړي،ليکن!) وَلَئِن قُلۡتَ او که چيرته ته ووايي(يعني که ته
خلکو ته ووايي چي تاسو دلته د امتحان دپاره راغلي يئ،او چي د
امتحان وخت پوره شي مړه کيږئ،ليکن د مرګ پواسطه د منځه نه
ځئ بلکي!) إِنَّكُم مَّبۡعُوثُونَ مِنۢ بَعۡدِ ٱلۡمَوۡتِ پرته د شک او شبهي
څخه د مرګ څخه وروسته بيرته راژوندي کيږئ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ
كَفَرُوٓاْ نو يقيناً هغه خلک چي کافران دي هغوی به وايي إِنۡ هَٰذَآ
چي نه ده دا(خبره ستا حقيقت) إِلَّا مګر(دا ته چي څه وايي دا خو)
سِحۡرٞ مُّبِينٞ ښکاره سحر دی(يعني لکه څنګه چي سحر حقيقت نه دی

او صرف د سترګو دوکه ده همداسې ستا دا خبره هم حقیت نه دی هسې مونږ ته دوکه راکول غواړې،او نورې مسخرې به هم کوي)﴿٧﴾

وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ لَّيَقُولُنَّ مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ ﴿٨﴾

کله چې کفارو ته پس د مرګ څخه د بیا ژوندې کولو خبرې کوي، د الله تعالی د عذاب څخه یې ویروي او د سرکشئ او د ایمان د نه راوړلو په صورت کې اخطار ورکوي چې:د الله تعالی عذاب به مو ونیسې.نو دوی وایې چې:نه پس دمرګ څخه ژوندې کیدل شته،نه جنت شته،نه دوزخ شته او نه حساب،دا هرڅه دروغ او د عقل خلاف خبرې دي چې ته یې کوي،او که بیا هم ته ځان ریښتینئ ګڼې؟ نو د کوم عذاب نه چې مونږ ویروي او اخطارونه راکوي،نو بیا دې خپل رب ته ووایه چې هغه عذاب په مونږ راولي. آیت ته توجه وکړئ!

وَ او لَئِنۡ که چیرته أَخَّرۡنَا مونږ وروسته کړو(معطلل کړو،وځنډوو) عَنۡهُمُ د دوی نه ٱلۡعَذَابَ عذاب إِلَىٰٓ أُمَّةٖ د یو وخت مَّعۡدُودَةٖ معلوم پورې(یعني که زر عذاب ورنه کړو،نو!) لَّيَقُولُنَّ یقیناً خامخا به دوی وایې(د مسخرو نه) چې: مَا څه شی يَحۡبِسُهُۥٓۗ منع کوي هغه(عذاب زمونږ څخه د کوم چې ته مونږ ته اخطارونه راکوي) أَلَا خبردار يَوۡمَ کومه ورځ يَأۡتِيهِمۡ چې راشي دوی ته هغه(عذاب.نو) لَيۡسَ نه به شي مَصۡرُوفًا دفع عَنۡهُمۡ د دوی نه وَ او حَاقَ راچاپیره به شي بِهِم په دوی باندې مَّا هغه عذاب كَانُواْ بِهِۦ چې دوی به په هغه باندې يَسۡتَهۡزِءُونَ مسخرې کولې ﴿٨﴾

وَلَئِنۡ أَخَّرۡنَا عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابَ إِلَىٰٓ أُمَّةٖ مَّعۡدُودَةٖ او كه مونږ د يو معلوم وخت دپاره د دوی عذاب وروسته کړو(یعني که الله تعالی د يو حکمت دپاره د وی ته زر عذاب ورنکړي،نو!) لَّيَقُولُنَّ مَا يَحۡبِسُهُۥٓۗ يقيناً خامخا به دوی(د ریشخند او مسخرو نه)وايي چې:څه شی د هغه(عذاب) مخه نیسي(چې ستا رب يي په مونږ نازلوي،یعني دا هسې لکه د جادو غیرې حقیقي خبرې دي،نه عذاب شته،او نه پس د مرګ څخه دوباره ژوندون،الله تالی فرمایی!) أَلَا يَوۡمَ يَأۡتِيهِمۡ خبردار(دا زمونږ د حکمت تقاضا ده،د دوی عذاب مونږ معطل کړئ دی،او) هغه ورځ چې په دوی باندې عذاب راشي لَيۡسَ مَصۡرُوفًا عَنۡهُمۡ (نو بیا) د دوی نه بیرته ګرځیدونکی(او لرې کوونکی)نه دی وَحَاقَ بِهِم مَّا كَانُواْ بِهِۦ يَسۡتَهۡزِءُونَ او هغه عذاب به وربانديې راچاپیره شي،په کوم باندې به چې دوی مسخرې کولې. ﴿۸﴾

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ ﴿۹﴾

وَ او لَئِنۡ كه چیرته أَذَقۡنَا مونږ وڅکوو(مونږ ورکړو) ٱلۡإِنسَٰنَ انسان ته مِنَّا د خپل طرف نه رَحۡمَةٗ رحمت(يو نعمت) ثُمَّ (او) بیا نَزَعۡنَٰهَا بیرته واخلو هغه(نعمت) مِنۡهُ د هغه نه إِنَّهُۥ بېشکه هغه(انسان) لَيَـُٔوسٞ نااميده كَفُورٞ (او) ناشکره (شي.) ﴿۹﴾

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِنَّا رَحۡمَةٗ او كه مونږ د خپل طرف څخه انسان ته يو نعمت ورکړو ثُمَّ نَزَعۡنَٰهَا مِنۡهُ (او)بیا مونږ بیرته هغه نعمت د هغه څخه واخلو إِنَّهُۥ لَيَـُٔوسٞ كَفُورٞ نو بېشکه هغه ډېر نااميده (او) ناشکره(کیږي) ﴿۹﴾ یعني هغه خلک چې پس د مرګ څخه ژوندې

کيدل نه مني،او د الله تعالی د عذاب پورې مسخرې کوي،په حقيقت کې دوی دومره کمزورې او بزدله دي،که واقعاً عذاب وربانديې راشي چغې به يې تر آسمانه ورسيږي.د دې خلکو يو خاصيت داسې دی چې:کله الله تعالی نعمتونه مثلاً ښه صحتونه،مالونه ورکړي،نو نه يې خالق په ياد وي او نه شکر وباسي،ليکن کله چې الله تعالی ورڅخه نعمتونه بيرته واخلي،مثلاً مال او صحت ترې واخلي،مريض شي،نو بيا هر څه د لاسه ورکړي،نااميده او ډيپرس شي،د ناشکرۍ او کفر خبرې کوي.

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ ﴿١٠﴾

وَلَئِنۡ او که چيرته أَذَقۡنَٰهُ مونږ وڅکوو(ورکړو)هغه ته نَعۡمَآءَ نعمتونه بَعۡدَ ضَرَّآءَ وروسته د(هغه) تکليف څخه مَسَّتۡهُ چې رسيدلئ و هغه ته لَيَقُولَنَّ يقيناً وايي به چې: ذَهَبَ لاړل ٱلسَّيِّـَٔاتُ تکليفونه عَنِّيٓۚ زما څخه إِنَّهُۥ بېشکه هغه لَفَرِحٞ خوشاله(کبرجن او) فَخُورٌ فخرکوونکی(شي) ﴿١٠﴾

وَلَئِنۡ أَذَقۡنَٰهُ نَعۡمَآءَ بَعۡدَ ضَرَّآءَ مَسَّتۡهُ او که د ورسيدلي تکيف څخه وروسته(بيا) نعمتونه ورکړو(يعنې روغ صحت او مال بيرته ورکړو نو!) لَيَقُولَنَّ ذَهَبَ ٱلسَّيِّـَٔاتُ عَنِّيٓۚ يقيناً وايي چې تکليفونه(او مصيبتونه) راڅخه لاړل(يعنې په داسې انداز کې به يې وايي لکه چې الله تعالی هيڅ شی نه وي ورکړئ،او دا هرڅه د ده د خپل عقل او کمال نتيجه وي،او) إِنَّهُۥ لَفَرِحٞ فَخُورٌ بېشکه(د کبر څخه ډک) خوشال (او) فخر کوونکی(به وي.نه به ئې الله تعالی په ياد وي،او نه به شکر وباسي،خپله خوشالي به د عياشی او موسيقی د محفلونو په شکل

ښکاره کوي،او لويږي او کبرجنې خبرې به کوي.يعني دا قسم خلک هم د صبر په امتحان کې ناکام شي او هم د شکر په امتحان کې ناکام شي.)﴿١٠﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ ﴿١١﴾

إِلَّا مګر ٱلَّذِينَ هغه خلک صَبَرُواْ چې هغوی صبر کړی وَعَمِلُواْ او هغوی عملونه کړي ٱلصَّٰلِحَٰتِ نيک أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَهُم د همدوی دپاره مَّغۡفِرَةٞ ښښنه ده وَأَجۡرٞ او اجر دی كَبِيرٞ ډېر لوی ﴿١١﴾

إِلَّا ٱلَّذِينَ صَبَرُواْ مګر هغو خلکو چې (په تکليفونو او مصيبتونو يې) صبر کړی دی وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او نيک عملونه يې کړي دي أُوْلَٰٓئِكَ لَهُم مَّغۡفِرَةٞ وَأَجۡرٞ كَبِيرٞ دغو خلکو ته بخښنه او لوی اجر دی(د الله تعالی د طرف څخه.يعني چې په تکليف کې د صبر او د نعمتونو په وخت کې د شکر په امتحان کې کامياب شوي وي،نو د داسې خلکو دپاره د الله تعالی بخښنه او د جنت نعمتونه دي.) ﴿١١﴾

فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٞۚ وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ ﴿١٢﴾

مشرکانو نبی عليه السلام ته د ايمان راوړلو دپاره عجيبه احمقانه شرايط ايښودل،لکه ويل به يې!مونږ په قرآن ځکه ايمان نه راوړو چې زمونږ د بتانو بدې په کې بيان شوي ده،يا مونږ ته بل قرآن راوړه چې د بتانو بدې

په کې نه وي بيان شوي او يا په دې قرآن کې ترميم او تغير راوله،او که ته په ريښتيا د الله تعالى پيغمبر يې نو الله تعالى به پريمانه خزانې درته رالیږلې وې،پخپله به دې هم مزې کولې او مونږ ته به دې هم راکولې،يا به يې درسره فرشته رالیږلې وه چې ستا د پيغمبرئ تصديق يې کولو،بيا که چا ايمان نه راوړلو فريشتې به سمدستي عذاب ورکولو.آيت ته توجه وکړئ!

فَلَعَلَّكَ نو شايد چې ته تَارِكُۢ پريښودونکى يې بَعۡضَ ځينې مَا د هغه څه يُوحَىٰٓ چې وحي کيږي إِلَيۡكَ تا ته وَ او(شايد چې) ضَآئِقُۢ تنګه يې بِهِۦ په هغې(خبرو) صَدۡرُكَ سينه ستا أَن چې يَقُولُواْ وايې دوى لَوۡلَآ ولې نه ده أُنزِلَ راليږل شوې عَلَيۡهِ ده ته كَنزٌ خزانه أَوۡ يا جَآءَ (ولې نه ده) راغلې مَعَهُۥ د ده سره مَلَكٌۚ يوه فرشته إِنَّمَآ بېشکه حقيقت دا دى چې: أَنتَ ته نَذِيرٌۚ ويرونکى يې وَ او ٱللَّهُ الله تعالى عَلَىٰ په كُلِّ هر شَيۡءٖ شي وَكِيلٌ نګران دى(او ساتونکئ دى) ﴿١٢﴾

فَلَعَلَّكَ تَارِكُۢ بَعۡضَ مَا يُوحَىٰٓ إِلَيۡكَ (اى پيغمبر«صلى الله عليه وسلم»د خلکو د احمقانه او جاهلانه غوښتنو او اخطارونوپه سبب)د هغه څه نه يوه حصه(يعنې د قرآن کوم آيت د وينا ښخه) پرې نه دې کوم چې تا ته وحي کيږي(يعنې د خلکو د خفګان او اخطارونو پروا مه کوه او د الله تعالى احکام پوره وررسوه) وَضَآئِقُۢ بِهِۦ صَدۡرُكَ او مه خپله سينه په دې خبرو تنګوه(او مه خپل زړه په دې خفه کوه) أَن يَقُولُواْ لَوۡلَآ أُنزِلَ عَلَيۡهِ كَنزٌ چې خلک وايې چې ولې هغه عليه السلام ته خزانه نه ده راليږل شوې(يعنې ولې ولې الله تعالى پريمانه مال او دولت نه دى ورکړئ) أَوۡ جَآءَ مَعَهُۥ مَلَكٌۚ يا ولې ورسره يوه فرشته نه ده راغلې(چې د ده عليه السلام د پيغمبرئ تصديق يې کولو(نو که چا انکار کولو سمدستئ به يې جزا ورکوله،نو) إِنَّمَآ أَنتَ نَذِيرٌۚ

بېشکه حقيقت دا دی چې: ته صرف ويرونکی(خبر ورکوونکی) يې(يعنې چې حق دين،پس د مرګ څخه ژوند،جنت،دوزخ او حساب څخه خلک خبر کړې او د الله تعالی د عذاب څخه يې وويروې،او نور نو د دوی د ايمان راوړلو دپاره مسؤل نه يې چې حتماً به په خلکو په زوره ايمان راوړې،او نه ته د دوی په اعمالو نګران يې چې ښه به کوي او بد به نه کوي) وَٱللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٖ وَكِيلٌ او الله تعالی په هر شي باندې نګران(او ساتونکی) دی.(يعنې دا فيصله د الله تعالی عدالت او انصاف کوي،چې چا ته د ايمان راوړلو او د نيکو اعمالو توفيق ورکړي.) ﴿۱۲﴾

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ ﴿۱۳﴾

أَمۡ آيا يَقُولُونَ دوی وايې چې ٱفۡتَرَىٰهُۖ هغه«صلی الله عليه وسلم» د ځان څخه دا قرآن جوړ کړئ دی قُلۡ ته(ورته)ووايه فَأۡتُواْ نو تاسو(هم) راوړئ بِعَشۡرِ لس سُوَرٖ سورتونه مِّثۡلِهِۦ په شان د دې(قرآن) مُفۡتَرَيَٰتٖ د ځان څخه جوړ شوي وَٱدۡعُواْ او راوغواړئ مَنِ څوک چې ٱسۡتَطَعۡتُم تاسو کولای شئ مِّن دُونِ پرته د ٱللَّهِ الله تعالی(څخه) إِن که چيرته كُنتُمۡ ياستئ تاسو صَٰدِقِينَ رېښتيني. ﴿۱۳﴾

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ آيا کافران وايې چې دا قرآن(د الله تعالی د طرف څخه نه دی نازل شوئ او) پيغمبر«صلی الله عليه وسلم» د خپل ځان څخه جوړ کړئ دی. قُلۡ ته (ورته) ووايه فَأۡتُواْ بِعَشۡرِ سُوَرٖ مِّثۡلِهِۦ مُفۡتَرَيَٰتٖ نو تاسو(هم) د دې قرآن په شان لس سورتونه د ځان څخه جوړ شوي راوړئ(يعنې چې تاسو وايئ چې دا د انسان کلام دی،نو

بيا خو تاسو هم انسانان يئ،تاسو هم د قرآن په شان لس سورتونه جوړ کړئ) وَٱدۡعُواْ مَنِ ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ او(د دې کار د کولو دپاره) پرته د الله تعالی څخه،هر څوک چې کولای شئ راوبلي غواړئ(یعني هر څومره ادیبان او لیکوالان چې کولای شئ راو يې غواړئ چې د سورتونو په جوړولو کې درسره کومک وکړي.) إِن كُنتُمۡ صَٰدِقِينَ که چیرته تاسو ریښتیني یاستئ(یعني که تاسو د زړه نه دا خبره کوئ چې قرآن د الله تعالی کلام نه دی،او نبي علیه السلام د خپل ځان څخه جوړ کړئ دی) ﴿١٣﴾

فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ فَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّمَآ أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ وَأَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ فَهَلۡ أَنتُم مُّسۡلِمُونَ ﴿١٤﴾

فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ نو که چیرته دوی جواب درنکړي لَكُمۡ تاسو ته فَٱعۡلَمُوٓاْ نو پوه شئ أَنَّمَآ چې پرته د شک او شبهې څخه دا قرآن أُنزِلَ نازل شوئ دی بِعِلۡمِ ٱللَّهِ د الله تعالی په علم سره وَأَن او دا چې لَّآ نشته إِلَٰهَ لایق د عبادت(معبود) إِلَّا پرته د هُوَۖ هغه«جل جلاله» څخه فَهَلۡ نو آیا أَنتُم یاستئ تاسو مُّسۡلِمُونَ مسلمانان ﴿١٤﴾

فَإِلَّمۡ يَسۡتَجِيبُواْ لَكُمۡ نو که دوی تاسو ته جواب درنکړي(یعني د قرآن په شان لس سورتونه جوړ نکړي) فَٱعۡلَمُوٓاْ نو پوه شئ چې(د قرآن چلنج ته د دوی جواب نه ورکول،د دې دلیل دی) أَنَّمَآ چې پرته د شک او شبهې څخه دا (قرآن) أُنزِلَ بِعِلۡمِ ٱللَّهِ د الله تعالی په علم سره نازل شوئ دی(یعني د الله تعالی په علم مشتمل دی،او د الله تعالی د علم مقابله انسان نشي کولای) وَ (او پوه شئ) أَن لَّآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَۖ چې نشته لایق د عبادت مګر الله تعالی لایق د عبادت دی. فَهَلۡ

أَنتُم مُّسۡلِمُونَ نو آیا تاسو مسلمانان یئ(نو آیا او س تاسو په اسلام باندې ثابت قدمه یاستئ؟) ﴿١٤﴾

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ ﴿١٥﴾

مَن څوک كَانَ يُرِيدُ چې غواړي ٱلۡحَيَوٰةَ ژوند ٱلدُّنۡيَا د دنيا وَزِينَتَهَا او زینت(او ښایست)د هغې نُوَفِّ پوره به ورکړو إِلَيۡهِمۡ دوی ته أَعۡمَٰلَهُمۡ بدل د عملونو د دوی فِيهَا په دې(دنیا) کې وَهُمۡ فِيهَا او دوی ته به په دې(بدل ورکولو)کې لَا يُبۡخَسُونَ څه کموالئ نه کیږي. ﴿١٥﴾

مَن كَانَ يُرِيدُ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا وَزِينَتَهَا څوک چې د دنیا ژوند او زیب او زینت غواړي(هر څه د دنیا د ګټلو دپاره کوي،یعنې هره اختراع، کسب او علم صرف د دنیا د ګټلو دپاره زده کوي،د الله تعالی د رضاء دپاره نه دیني علم زده کوي او نه دنیایي،د دنیا د ګټلو هر شی او هر کار ورته مهم او د اهمیت وړ وي،لیکن د آخرت د ګټلو یوشی او یو کار ورته نه مهم ښکاري او نه ورته اهمیت لري،که د دنیا او آخرت د ګټلو کارونه ورته په یو وخت مخې ته راشي،د دنیا کار کوي او د آخرت پریږدي، نو!) نُوَفِّ إِلَيۡهِمۡ أَعۡمَٰلَهُمۡ فِيهَا پوره به ورکړو دوی ته د دوی د عملونو بدل په دنیا کې وَهُمۡ فِيهَا لَا يُبۡخَسُونَ او په دې کې به د دوی سره هیڅ کموالئ نه کیږي.) ﴿١٥﴾

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا وَبَٰطِلٞ
مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ ﴿١٦﴾

أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک (چې ديني او دنيايي علمونه،کسبونه او اختراګانې
صرف د دنيا د ګټلو دپاره زده کوي،او کوي نو!) ٱلَّذِينَ دوی هغه
خلک دي لَيۡسَ چې نشته لَهُمۡ دوی ته فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت
کې(بل هيڅ شی) إِلَّا پرته ٱلنَّارُۖ د اور نه وَحَبِطَ او برباد شوي
مَا هغه عملونه صَنَعُواْ چې کړي دي دوی فِيهَا په دې(دنيا)کې
وَبَٰطِلٞ او باطل دي مَّا هغه(څه) كَانُواْ يَعۡمَلُونَ چې دوی کول
﴿١٦﴾

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ لَيۡسَ لَهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ إِلَّا ٱلنَّارُۖ دغه خلک(چې هر څه د دنيا
دپاره کوي،يعني ذهن،فکر او کارونه صرف د دنيا د ګټلو دپاره
کوي،او د آخرت دپاره وخت نلري،حتي چې د آخرت خبرو اوريدلو
ته هم وخت نلرې،او نه وربانديې بنې لرېږي،که په داسې مجلس کې
کيني چې هلته د آخرت خبرې کيږي،زړه يې پکې تنګيږي،او اکثره د
مجلس څخه وځې،نو !) دغه هغه خلک دي چې د دوی دپاره په
آخرت کې پرته د اور څخه نور هيڅ نشته وَحَبِطَ مَا صَنَعُواْ فِيهَا او
(او هلته به معلوم شي) هغه څه يې چې په دنيا کې جوړ کړي
وو(ټولې کارخانې،بلډنګونه،او کورونه به يې) برباد او تباه شي
وَبَٰطِلٞ مَّا كَانُواْ يَعۡمَلُونَ او هغه اعمال چې (په دنيا کې به يې د ريا
او ځان ښودنې دپاره د نيکی په نوم) کول هغه به(ټول) باطل شي
﴿١٦﴾

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ
إِمَامًا وَرَحْمَةً أُوْلَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦۚ وَمَن يَكْفُرْ بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ فَٱلنَّارُ
مَوْعِدُهُۥۚ فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ مِّنْهُۚ إِنَّهُ ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يُؤْمِنُونَ ﴿١٧﴾

أَفَمَن نو آيا هغه څوک كَانَ چې يې عَلَىٰ بَيِّنَةٍ په روښانه(حق دين)باندې مِّن رَّبِّهِۦ د خپل رب د طرف څخه وَيَتْلُوهُ او ورسره وي شَاهِدٌ شاهد(يعني قرآنكريم) مِّنْهُ د هغه«جل جلاله»د طرف څخه(چې د دين تائيد او تصديق يې کوي) وَمِن قَبْلِهِۦ او مخکې د دې(قرآنكريم)څخه كِتَٰبُ کتاب مُوسَىٰٓ د موسی علیه السلام(يعني تورات ئې هم تائيد او تصديق کوي،چې نوموړی کتاب يا تورات په خپل وخت کې د انسانانو دپاره) إِمَامًا رهنما وَرَحْمَةً او رحمت و(نو ايا دا کس د هغه چا غوندې کيدئ شي چې شپه او ورځ يې د دنيا دپاره وقف کړي وي، نه په حق دين باندې وي او نه په قرآنكريم باندې ايمان راوړي) أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک(چې په حق دين باندې دي،همدوی) يُؤْمِنُونَ ايمان راوړي بِهِۦۚ په دې(قرآنكريم)باندې وَمَن او څوک چې يَكْفُرْ کفر کوي بِهِۦ په دې (قرآنكريم)باندې مِنَ ٱلْأَحْزَابِ د فرقو(او ډلو)څخه(لکه د يهوديانو،نصارو،مشرکانو او او نورو څخه) فَٱلنَّارُ نو اور مَوْعِدُهُۥۚ د هغه د وعدې ځای دی (يعني جهنم يې ځای دی) فَلَا تَكُ نو (ای لوستونکيه!)ته مه کيږه فِي مِرْيَةٍ په شکه کې مِّنْهُۚ د دې قرآن په باره کې إِنَّهُ پرته د شک او شبهې څخه دا(قرآن) ٱلْحَقُّ حق(او ريښتيا) دی مِن رَّبِّكَ ستا د رب د طرفه وَلَٰكِنَّ خو ليکن أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ اکثره خلک لَا يُؤْمِنُونَ (ورباندې) ايمان نه راوړي(د جهالت او ضد په سبب) ﴿١٧﴾

أَفَمَن كَانَ عَلَىٰ بَيِّنَةٍ مِّن رَّبِّهِۦ آيا هغه څوک چې د خپل رب د طرف
څخه په روښانه حق دين باندې وي وَيَتْلُوهُ شَاهِدٌ مِّنْهُ او د الله تعالى
د طرف څخه ورسره يو شاهد(يعنې قرآن هم)وي(چې د ده د دين د
حقانيت تصديق او تائيد کوي) وَمِن قَبْلِهِۦ كِتَٰبُ مُوسَىٰٓ إِمَامًا وَرَحْمَةً
(او يوازې دا نه چې قرآن ئې تصديق کوي،بلکې)د قرآن څخه مخکې
د موسى عليه السلام کتاب(تورات ئې هم تائيد او تصديق کوي،کوم
چې په خپل وخت کې د انسانانو دپاره) رهنما او رحمت و،نو آيا
داسې کس د هغه چا پشان کيدئ شي چې شپه او ورځ ئې د دنيا د
ګټلو دپاره وقف کړي وي، نه په حق دين باندې وي،او نه په قرآن
باندې ايمان راوړي؟نو) أُوْلَٰٓئِكَ يُؤْمِنُونَ بِهِۦ دغه خلک(چې په حق
دين باندې دي همدوى) په قرآنکريم باندې ايمان راوړي وَمَن يَكْفُرْ
بِهِۦ مِنَ ٱلْأَحْزَابِ او څوک چې د فرقو(او ډلو څخه لکه د يهودو ،
نصاراو،مشرکانو او نورو فرقو څخه په قرآن باندې ايمان نه
راوړي) فَٱلنَّارُ مَوْعِدُهُۥ نو د دوى ځاى جهنم دى فَلَا تَكُ فِي مِرْيَةٍ
مِّنْهُ نو(اى لوستونکيه) ته د قرآنکزيم په باره کې شک مه کوه إِنَّهُ
ٱلْحَقُّ مِن رَّبِّكَ پرته د شک او شبهې څخه دا قرآن ستا د رب د طرف
څخه حق(او ريښتيا کتاب) دى وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يُؤْمِنُونَ خو
اکثره خلک(د ضد او جهالت په سبب ورباندې)ايمان نه راوړي.
﴿١٧﴾

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ ٱفْتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا أُوْلَٰٓئِكَ يُعْرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمْ وَيَقُولُ
ٱلْأَشْهَٰدُ هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُوا۟ عَلَىٰ رَبِّهِمْ أَلَا لَعْنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٨﴾

وَ او مَنْ څوک أَظْلَمُ ډېر ظالم دى مِمَّنِ د هغه چا څخه
ٱفْتَرَىٰ چې هغه تړلې وي(جوړ کړي وي) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالى
باندې كَذِبًا دروغ أُوْلَٰٓئِكَ دغسې خلک(چې په الله تعالى باندې يې
دروغ تړلې وي،د قيامت په ورځ به) يُعْرَضُونَ وړاندې کولئ شي

عَلَىٰ رَبِّهِمۡ خپل رب«جل جلاله» ته وَيَقُولُ او وايي به ٱلۡأَشۡهَٰدُ شاهدان هَٰٓؤُلَآءِ چې دا ٱلَّذِينَ هغه خلک دي كَذَبُواْ چې دوی دروغ ويلي وو عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ په خپل رب باندې أَلَا (اعلان به وشي.واورئ) خبردار لَعۡنَةُ لعنت ٱللَّهِ د الله تعالی دی عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ په ظالمانو باندې. ﴿١٨﴾

وَمَنۡ أَظۡلَمُ مِمَّنِ او د هغه چا نه به څوک ډېر ظالم وي؟(يعنې د هغه چا نه لوی ظالم نشته،څوک!) ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًاۚ چې په الله تعالی باندې دروغ تړي(يعنې وايي چې:نعوذبالله د الله تعالی ځوی شته لکه عيسايان چې عيسی عليه السلام ته د الله تعالی ځوی وايي،مشرکان فريښتې د الله تعالی لورګانې ګڼې،په خپلو لاسونو تراشلي بتان ورسره په خدايۍ کې شريکوي...او داسې نور...،نو!) أُوْلَٰٓئِكَ يُعۡرَضُونَ عَلَىٰ رَبِّهِمۡ دغه خلک به د قيامت په ورځ د الله تعالی حضور ته (د حساب دپاره)وړاندې کيږي وَيَقُولُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ او شاهدان(لکه فريښتې،پيغمبران،داعيان،ځمکه او د مجرم خپل اندامونه) به وايي چې: هَٰٓؤُلَآءِ ٱلَّذِينَ كَذَبُواْ عَلَىٰ رَبِّهِمۡۚ دا هغه خلک دي چې:دوی په خپل رب باندې دروغ ويلي وو(په دنيا کې) أَلَا لَعۡنَةُ ٱللَّهِ عَلَى ٱلظَّٰلِمِينَ (اعلان به وشي) خبردار(واورئ)چې په ظالمانو د الله تعالی لعنت دی. ﴿١٨﴾

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ ﴿١٩﴾

هغه ظالمان چې په هغوی باندې د قيامت په ورځ د الله تعالی د لعنت اعلان کيږي،دوی!

ٱلَّذِينَ هغه خلک دي يَصُدُّونَ چې منع کوي خلک عَن سَبِيلِ د لارې څخه ٱللَّهِ د الله تعالی وَيَبۡغُونَهَا او غواړي چې هغه عِوَجٗا

کړه (خلکو ته معرفي کړي) وَهُم او دوى بِٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت باندې هُمۡ كَٰفِرُونَ همدوى کافران دي(يعني د آخرت څخه منكر دي) ﴿١٩﴾

هغه ظالمان چې په هغوى باندې د قيامت په ورځ د الله تعالى د لعنت اعلان کيږي،دوى!

ٱلَّذِينَ يَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ هغه خلک دي چې د الله تعالى د لارې(يعني د الله د دين) څخه خلک منع کوي وَيَبۡغُونَهَا عِوَجٗا او غواړي چې هغه کږه خلکو ته معرفي کړي(يعني د الله تعالى دين خلکو ته غلط معرفي کوي،قِسم-قِسم اعتراضات کوي،ترڅو چې خلکو ته شک پيدا شي او د الله تعالى د دين لار اختيار نکړي) وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ او همدا خلک د آخرت څخه منکر دي(يعني دا خلک که کافر وي او که د اسلام په لباس کې وي،ليکن خبرې د اسلام او اسلامي قانون په ضد کوي،او خلک د اسلام څخه زړه توري کوي،نو حقيقت دا دى چې:دوى په آخرت باندې يقين او باور نلري،ځکه که په آخرت او حساب يې يقين وو،بيا يې داسې نه کول.) ﴿١٩﴾

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ ﴿٢٠﴾

په آخرت کې به دا اعلان هم وشي چې:دا ظالمان چې په دنيا کې يې خلک د الله تعالى د لارې څخه منعه کول او د دين په باره کې يې خلکو ته شکونه او نفرتونه پيدا کول!

أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک لَمۡ يَكُونُواْ نه وو مُعۡجِزِينَ عاجزه کوونکي(د الله تعالى) فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې وَمَا كَانَ او نه وو لَهُم دوى ته مِّن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالى څخه مِنۡ أَوۡلِيَآءَ (څوک)د مرسته

کوونکو څخه يُضَٰعَفُ دوه چنده کیږي به لَهُمُ دوی ته ٱلۡعَذَابُۚ عذاب مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ دوی نشو کولی ٱلسَّمۡعَ اوریدل(دحق) وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ او نه يې(حق)لیدلو ﴿٢٠﴾

په آخرت کې به دا اعلان هم وشي چې:دا ظالمان چې په دنیا کې يې خلک د الله تعالی د لارې څخه منعه کول او د دین په باره کې يې خلکو ته شکونه او نفرتونه پیدا کول!

أُوْلَٰٓئِكَ لَمۡ يَكُونُواْ مُعۡجِزِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ دغه(ظالمان) په دنیا کې د الله تعالی عاجزه کوونکې نه وو(یعني دوی په دنیا کې هم د الله تعالی د عذاب څخه ځان نشو بچ کولئ) وَمَا كَانَ لَهُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ أَوۡلِيَآءَۘ او نه د دوی پرته د الله تعالی څخه داسې دوست او مددګار وو(چې د الله تعالی د عذاب څخه يې خلاص کړي وو،لیکن دنیا داروالامتحان وو،الله تعالی مهلت ورکړئ وو) يُضَٰعَفُ لَهُمُ ٱلۡعَذَابُۚ او دوی ته به دوه چنده عذاب ورکول کیږي(ځکه چې دوی پخپله هم ګمراهان وو او نور خلک يې هم ګمراه کول،او دوی د حق دین سره د د ښمنۍ او د نفسي خواهشاتو د پوره کولو په سبب) مَا كَانُواْ يَسۡتَطِيعُونَ ٱلسَّمۡعَ نشو کولای چې(قرآن)واوري وَمَا كَانُواْ يُبۡصِرُونَ او(د الله تعالی د وحدانیت دلایل او نښې په خپل ځان او کائناتو کې)وګوري(او په قرآن باندې ایمان راوړي) ﴿٢٠﴾

أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ خَسِرُوٓاْ أَنفُسَهُمۡ وَضَلَّ عَنۡهُم مَّا كَانُواْ يَفۡتَرُونَ ﴿٢١﴾

دغه ظالمان چې:د الله تعالی په حضور کې حاضر کړل شي،او شاهدان وربانديې شاهدي ووايې چې:دوی په دنیا کې پخپله هم ګمراهان وو،او نور خلک يې هم د الله تعالی د سمې لارې څخه منع کول،او شرک او کفر ته يې دعوت ورکولو،نو کله چې د الله تعالی د طرفه د دوه چنده عذاب

ورکولو فیصله واوري،نو د خپلو هغو معبودانو چې:د تیږو او انسانانو څخه یې په دروغو په دنیا کې جوړ کړي وو،او یقین یې ورباندې لرلو چې دوی به زمونږ شفاعت کوي،نو سترګې به یې د هغوی په لټه کې شي،لیکن ټول به ورڅخه ورک شي.آیت ته توجه وکړئ.

أُوْلَٰٓئِكَ دغه ٱلَّذِينَ هغه خلک دي خَسِرُوٓاْ چې تاوان یې رسولئ أَنفُسَهُمۡ خپلو ځانونو ته وَضَلَّ او ورک شو عَنۡهُم د دوی نه مَّا هغه(خدایان او شفاعت کوونکې چې دوی د بتانو او انسانانو څخه په دنیا کې) كَانُواْ يَفۡتَرُونَ د دروغو جوړول(او فکر یې کولو چې دا تیږې او انسانان به یې د الله تعالی د عذاب څخه خلاص کړي او جنت ته به یې بوځي) ﴿٢١﴾

لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ فِي ٱلۡأٓخِرَةِ هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ ﴿٢٢﴾

لَا جَرَمَ أَنَّهُمۡ شک نشته چې دوی(یعنې دا مخکې ذکر شوي ظالمان) فِي ٱلۡأٓخِرَةِ په آخرت کې هُمُ ٱلۡأَخۡسَرُونَ همدوی تر ټولو ډېر زیات تاوانیان دي ﴿٢٢﴾

د جهنمیانو د ذکر څخه وروسته سمدستې د جنتیانو ذکر راځې!

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَأَخۡبَتُوٓاْ إِلَىٰ رَبِّهِمۡ أُوْلَٰٓئِكَ أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ هُمۡ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٢٣﴾

إِنَّ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ بیشکه هغه خلک چې ایمان یې راوړئ(په قرآن او محمد«صلی الله علیه وسلم») وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ او(د ایمان راوړلو سره یې) نیک عملونه کړي دي وَأَخۡبَتُوٓاْ او ډېره عاجزي یې(هم) کړې ده إِلَىٰ رَبِّهِمۡ خپل رب ته أُوْلَٰٓئِكَ دغه خلک أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِۖ

جنتیان دي هُمۡ فِيهَا چې دوی به په دې(جنت)کې خَٰلِدُونَ همېشه وي ﴿٢٣﴾

۞ مَثَلُ ٱلۡفَرِيقَيۡنِ كَٱلۡأَعۡمَىٰ وَٱلۡأَصَمِّ وَٱلۡبَصِيرِ وَٱلسَّمِيعِۚ هَلۡ يَسۡتَوِيَانِ مَثَلًاۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٤﴾

۞ مَثَلُ مثال ٱلۡفَرِيقَيۡنِ د دې دوه ډلو(یعنې د کفارو او مؤمنانو چې مخکې ذکر شو) كَٱ پشان(د مثال د هغو دوه کسانو دی چې یو!) لۡأَعۡمَىٰ ړوند وَٱلۡأَصَمِّ او کوڼ وي وَ او(بل) ٱلۡبَصِيرِ بینا وَٱلسَّمِيعِۚ او اوریدونکۍ وی هَلۡ آیا يَسۡتَوِيَانِ دا دواړه برابر دي مَثَلًاۚ په اعتبار د مثال سره(یعنې د کافر مثال د ړوند او کوڼ دی،او د مؤمن مثال د بینا او اوریدونکې دی،ښکاره خبره ده چې بینا او او ریدونکۍ په سمه لاره ځې،او ړوند او کوڼ په ګډو وډو لارو روان وي،چې بلآخره به په کنده کې ولیږي او هلاکیږي به.) أَفَلَا تَذَكَّرُونَ نو آیا تاسو نصیحت(او عبرت) نه اخلئ؟ ﴿٢٤﴾

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ إِنِّي لَكُمۡ نَذِيرٞ مُّبِينٌ ﴿٢٥﴾ أَن لَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّا ٱللَّهَۖ إِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ يَوۡمٍ أَلِيمٖ ﴿٢٦﴾

د نوح علیه السلام قوم د بتانو عبادت کولو!

وَلَقَدۡ او یقیناً أَرۡسَلۡنَا لیږلۍ وو مونږ نُوحًا نوح«علیه السلام» إِلَىٰ قَوۡمِهِۦٓ د هغه قوم ته(چې خلک د بتانو د عبادت څخه منع او د یو الله عبادت ته یې راوبلي،نو خپل قوم ته ئې وویلې:ای زما قومه!) إِنِّي پرته د شک او شبهې څخه زه لَكُمۡ تاسو ته نَذِيرٞ مُّبِينٌ صاف-صاف خبر درکوونکۍ یم(د الله تعالی د طرف نه) ﴿٢٥﴾ أَن چې لَّا تَعۡبُدُوٓاْ (د بتانو او غیرالله) عبادت مه کوئ إِلَّا

مګر(صرف د يو) ٱللَّهَۖ الله تعالی عبادت کوئ(او که زما خبره ونه منئ نو!) إِنِّيٓ پرته د شک څخه زه أَخَافُ ويريږم عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې عَذَابَ د عذاب يَوۡمٍ أَلِيمٖ د يوې دردناکې ورځې څيني(يعني که دبتانو عبادت پرينږدئ،او يوازې د الله تعالی بندګي ونکړئ،نو د الله تعالی عذاب به درباندې راشي،چې بيا به هيڅ نشئ کولای) ﴿٢٦﴾

فَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرٗا مِّثۡلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمۡ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ ٱلرَّأۡيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمۡ عَلَيۡنَا مِن فَضۡلِۭ بَلۡ نَظُنُّكُمۡ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾

فَقَالَ نو(د نوح عليالسلام په جواب کې) ووېلې ٱلۡمَلَأُ مشرانو(او سردارانو خو!) ٱلَّذِينَ هغو مشرانو(او سردارانو) كَفَرُواْ چې کافران وو مِن قَوۡمِهِۦ د هغه عليه السلام د قوم څخه مَا نَرَىٰكَ مونږ(خو)نه ګورو تا( زمونږ څخه مختلف او بل قِسم) إِلَّا مګر(ته هم) بَشَرٗا يو انسان ئې مِّثۡلَنَا زمونږ پشان(يعنی ته خو نه فرشته يې او نه بل کوم مخلوق يې،بلکې ته خو زمونږ پشان يو انسان يې،او انسان څنګه د الله تعالی پيغمبر کيدلای شي؟دا خو زمونږ عقل نه منې) وَ او(بله دا چې:) مَا نَرَىٰكَ چې مونږ نه ګورو تا ٱتَّبَعَكَ چې پيروي کړې وي ستا(لويو او باعقله خلکو) إِلَّا پرته ٱلَّذِينَ د هغو خلکو څخه چې هُمۡ هغوی أَرَاذِلُنَا لاندې(او ذليل) ول زمونږ بَادِيَ ٱلرَّأۡيِ په ظاهره سره(يعني ستا په ملګرو کې شريف او د لوړې مرتبې څوک نشته،بلکې ستا ټول ملګرې زمونږ د ټولنې ټيټ(خوار او ذليل)خلک دي،چې پرته د غور او فکر کولو څخه يې په تا باندې ايمان راوړئ دی.) وَ او(بله دا چې:) مَا نَرَىٰ مونږ نه ګورو لَكُمۡ په تاسو کې عَلَيۡنَا په مونږ باندې مِن فَضۡلِۭ څه فضليت(او برتري،يعني مونږ په تا او ستا په ملګرو کې داسې کومه

برتري او فضلیت نه وینو چې د هغې په سبب مونږ دا ومنو چې ته د الله پیغمبر ئې،او ته او ملګري دې په حقه یاستئ،او مونږ هم باید درباندې ایمان راوړو.) بَلۡ بلکې نَظُنُّكُمۡ مونږ ګمان کوو چې تاسو كَٰذِبِينَ دروغژن یئ(یعني تول خوار او غریب سره راټول شوي یاستئ،او د مال او دولت د پیداکولو دپاره مو چلسازې جوړه کړې ده) ﴿٢٧﴾

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي رَحۡمَةٗ مِّنۡ عِندِهِۦ فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ أَنُلۡزِمُكُمُوهَا وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ ﴿٢٨﴾ وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ﴿٢٩﴾
وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٣٠﴾

قَالَ نوح علیه السلام وویل يَٰقَوۡمِ ای زما قومه! أَرَءَيۡتُمۡ آیا تاسو غور کړئ دی؟ إِن كُنتُ اګر چې یمه زه عَلَىٰ بَيِّنَةٖ په واضحه دلیل(او معجزو) باندې مِّن رَّبِّي د خپل رب د طرف څخه(ستاسو دپاره پیغمبر) وَءَاتَىٰنِي او هغه جل جلاله راکړئ ما ته رَحۡمَةٗ رحمت(یعني نبوت ئې راکړئ او وحې راته راځي) مِّنۡ عِندِهِۦ د هغه جل جلاله د لورې څخه فَعُمِّيَتۡ عَلَيۡكُمۡ خو تاسو ته نه ښکاري(یعني تاسو چې وایئ چئ ته هم زمونږ په شان انسان یې،او په مونږ څه فضلیت نلرې،نو مونږ څنګه ستا خبره ومنو؟چې خپل معبودان پرېږدو او په تا ایمان راوړو.دا خو سمه ده چې زه هم انسان یم لیکن زما فضلیت دا دی چې زه الله تعالی ستاسو دپاره نبي انتخاب کړئ یم چې د الله تعالی پیغام دررسوم،او نبوت مې د الله تعالی د طرفه په واضحه دلایلو،نښو او معجزو سره ثابت دی،خو تاسو ځانونه ړانده کړي دي،تاسو ته نه ښکاري،تاسو خپلې د بصیرت او عقلونو سترګې د ضد او جهالت په پټیو تړلي دي، خپل عقلونه نه

استعمالوئ چې حق وپیژنئ، ترڅو چې د الله تعالی پیغام ته غوږ
کینږدئ،غور او فکر ونکړئ او پخپله خوښه د ایمان راوړلو فیصله
ونکړئ.نو) أَنُلۡزِمُكُمُوهَا آیا مونږ په زوره هغه په تاسو ومنو؟
وَأَنتُمۡ لَهَا كَٰرِهُونَ په داسې حال کې چې تاسو هغه بد ګڼئ(یعني مونږ
تاسو ته د حق دین پیغام درسوو،نوره ستاسو خپل اختیار او خوښه ده
چې ایمان راوړئ او که نه،یعني دا د الله تعالی اصول دي چې:نه په
چا په زوره ایمان راوړي او نه څوک په زوره ګمراه کوي.) ﴿۲۸﴾
وَ او(نور نوح علیه السلام خپل قوم ته وویلې!) يَٰقَوۡمِ ای زما قومه!
لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ زه نه غواړم ستاسو څخه عَلَيۡهِ په دې(د الله تعالی د پیغام
په رسولو باندې) مَالًاۖ څه مال إِنۡ أَجۡرِيَ (او)نه دی
اجر(مزدوري) زما(په تاسو) إِلَّا مګر (اجر زما) عَلَى ٱللَّهِۚ په الله
تعالی باندې دی. وَمَآ أَنَا۠ او نه یم زه بِطَارِدِ شړونکئ ٱلَّذِينَ د
هغو خلکو ءَامَنُوٓاْ چې ایمان یې راوړئ دی(یعني هغه خلک چې
تاسو ورته ذلیل او د ښکته طبقې خلک وایئ،او د خپل ایمان راوړلو
دپاره دا شرط ږدئ چې هغوی د ځان څخه بیل کړه نو،زه ستاسو په
خوله هغوی د ځان څخه نه بیلوم،هغوی ایمان راوړئ دی او مؤمنان
دي) إِنَّهُم بیشکه دوی مُّلَٰقُواْ ملاقات کوونکي دي رَبِّهِمۡ د خپل
رب سره وَلَٰكِنِّيٓ لیکن زه(خو) أَرَىٰكُمۡ تاسو وینم قَوۡمًا داسي
خلک تَجۡهَلُونَ چې جهالت کوئ(یعني تاسو چې چاته احمق او ذلیل
وایئ،په حقیقت کې په تاسو کې خو هوښیار هماغه وو څکه چې
عقلونه یې استعمال کړل،ایمان یې راوړو،د الله تعالی په وړاندې د
هغوی عزت او مقام دی او په آخرت کې به یې د خپل رب سره
ملاقات وشي،حقیقي ذلیل او جاهل خو تاسو یئ څکه چې د ضد او
جهالت لار مو نیولې ده، نه د الله تعالی پیغام منئ.او نه خپل عقلونه
استعمالوئ،صرف د روایاتو پسې روان یاستئ،په آخرت کې به الله
تعالی درسره خبرې ونکړي او په جهنم کې به مو واچوي.) ﴿۲۹﴾ وَ
او (نور ورته وایې چې) يَٰقَوۡمِ ای زما قومه مَن څوک يَنصُرُنِي
به بچ کړي ما مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی(د عذاب څخه) إِن که

طَرَدتُّهُمۡۚ زه وشړم دوی أَفَلَا تَذَكَّرُونَ نو آيا تاسو غور(او فكر) نكوئ؟ ﴿٣٠﴾

وَلَآ أَقُولُ لَكُمۡ عِندِي خَزَآئِنُ ٱللَّهِ وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ وَلَآ أَقُولُ إِنِّي مَلَكٞ وَلَآ أَقُولُ لِلَّذِينَ تَزۡدَرِيٓ أَعۡيُنُكُمۡ لَن يُؤۡتِيَهُمُ ٱللَّهُ خَيۡرًاۖ ٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِمَا فِيٓ أَنفُسِهِمۡ إِنِّيٓ إِذٗا لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٣١﴾

ځينو خلكو داسې اعتراضونه كول!

كه نوح عليه السلام پيغمبر وي نو بايد چې د الله تعالى د خزانو اختيار ورسره و،دغيبو علم ورسره و، بايد چې زمونږ پشان خوراک او څښاک ئې نه كولو او زمونږ پشان انسان نه و،نو چې دا يو صفت هم په كې نشته نو مونږ يې څنګه د الله تعالى پيغمبر ومنو.نو په دې آيت كې د دوی د دې شكونو او اعتراضونو جوابونه دي.

وَ او(نوح عليه السلام ورته وويلي) لَآ أَقُولُ زه نه وايم لَكُمۡ تاسو ته عِندِي چې زما سره خَزَآئِنُ ٱللَّهِ د الله تعالى خزاني دي وَلَآ أَعۡلَمُ ٱلۡغَيۡبَ او نه زه په غيبو(او پټو شيانو)پوهيږم وَلَآ أَقُولُ او نه زه وايم إِنِّي چې بېشكه زه مَلَكٞ يوه فرښته يم(يعني هغه خبرې چې نه ما كړي دي،نه مې كومه دعوه كړي چې زه يا فريشته يم،يا د الله تعالى د خزانو كليګاني راسره دي او يا زه په غيبو او پټو شيانو پوهيږم.نو بيا تاسو داسې خبرې زما د نبوت د نه منلو دپاره ولې دليل نيسئ؟فكر وكړئ،د قرآنكريم د تعليماتو په اساس خو :پيغبران په غيبو نه پوهيدل،نو بيا د پيغمبرانو امتيان خو هيڅ امكان نلري چې په غيبو پوه شي او خلكو ته دغيبو او پټو خبرو حال ووايي. افسوس د هغه چا په حال چې د پوهې سره-سره د عزت،دولت، شهرت او نفسي خواهشاتو د پوره كولو دپاره د قرآن د آياتونو تفسير په خپله

رايه او خوښه کوي،پخپله هم ګمراه او نور خلک هم ګمراه کوي،او ځان د دوه چنده عذاب مستحق ګرځوي. نوح عليه السلام خلکو ته نور وايي چې:) وَلَآ أَقُولُ او نه زه وايم لِلَّذِينَ چې هغو خلکو ته(کوم چې) تَزۡدَرِيٓ حقير(او سپک)ښکاري أَعۡيُنُكُمۡ ستاسو سترګو ته(يعنې زه نه وايم چې کوم خلک چې ستاسو په نظر کې سپک ښکاري) لَن يُؤۡتِيَهُمُ وربه نکړي هغوی ته ٱللَّهُ الله تعالى خَيۡرًاۖ څه خير(يعنې کيدای شي چې:دوی د الله تعالى په وړاندې ډېر عزتمن وي،او لوړې مرتبې ورکړي) ٱللَّهُ الله تعالى أَعۡلَمُ ډېر ښه پوهيږي بِمَا په هغه څه باندې فِيٓ أَنفُسِهِمۡ چې د دوی په زړونو کې دي(يعنې په دې الله تعالى ډېر ښه پوهيږي چې څوک په خپل ايمان کې څومره مخلص دی،او د چا په زړه کې د الله تعالى ته څومره محبت دی،ليکن!) إِنِّيٓ بېشکه که زه(داسې وکړم چې د ځان څخه يې وشړم،نو) إِذٗا هغه وخت به لَّمِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ خامخا زه د ظالمانو څخه يم. ﴿٣١﴾

قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٣٢﴾

نوح عليه السلام ۹۵۰ کلونه خپل قوم ته تبليغ وکړو،خو بلآخره د هغوی سره نور هيڅ علمي او منطقي جواب نه وو،نو په ځای د دې چې ايمان راوړي،د ضد او جهالت لار يې ونيوله،او نوح عليه السلام ته يې وويل چې:نور بحثونه او مناظرې درسره نه کوو،که رښتيا د الله تعالى نبي يې،نو په مونږ هغه عذاب راوله د کوم څخه چې ته هر وخت مونږ ويروي.آيت ته توجه وکړئ!

قَالُواْ هغوی(یعني د نوح علیه السلام د قوم خلکو)وویلي يَٰنُوحُ ای نوحه«علیه السلام» قَدۡ یقیناً جَٰدَلۡتَنَا تا بحثونه(او مناظرې)زمونږ سره وکړې فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا او ښه ډېر بحثونه(او مناظرې)دې زمونږ سره وکړې(خو نور مونږ ستا سره بحث نه کووو) فَأۡتِنَا نو بیا راوله په مونږ بِمَا هغه (عذاب د کوم چې) تَعِدُنَآ ته مونږ ته وعده راکوې(یعني ته چې هر وخت مونږ په دې ویروې،که شرک پرینږدئ او ایمان رانوړئ،نو عذاب به دربانديږ راشي،نو مونږ نه شرک پرېږدو او نه ایمان راوړو،نو عذاب دې راوله) إِن که چیرته كُنتَ یې ته مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ د رېښتیا ویوونکو څخه(یعني که ته په رېښتیا نبي یې) ﴿٣٢﴾

قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ﴿٣٣﴾

قَالَ هغه(علیه السلام ورته) وویلي إِنَّمَا بېشکه حقیقت دا دی چې: يَأۡتِيكُم رابه ولي تاسو ته بِهِ هغه(عذاب چې تاسو یې غواړئ) ٱللَّهُ الله تعالی إِن شَآءَ که چیرته هغه«جل جلاله وغواړي» وَ او(که د الله تعالی عذاب دربانديږ راغئ نو بیا به) مَآ أَنتُم تاسو نه يئ بِمُعۡجِزِينَ (د هغه«جل جلاله» د عذاب) مخ نیونکې(یعني که په رېښتیا دربانديږ د الله تعالی عذاب راشي،نو بیا تاسو دومره زورور نه يئ چې مخه یې ونیسئ) ﴿٣٣﴾

وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ أَرَدتُّ أَنۡ أَنصَحَ لَكُمۡ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغۡوِيَكُمۡۚ هُوَ رَبُّكُمۡ وَإِلَيۡهِ تُرۡجَعُونَ ﴿٣٤﴾

وَ او(نور نوح علیه السلام ورته وایې چې:) لَا يَنفَعُكُمۡ فایده به ونکړي تاسو ته نُصۡحِيٓ خیر خواهي (اونصیحت) زما إِنۡ که أَرَدتُّ زه وغواړم أَنۡ چې أَنصَحَ خیرخواهي (اونصیحت) وکړم لَكُمۡ تاسو ته إِن كَانَ که چیرته ٱللَّهُ الله تعالی يُرِيدُ اراده کړي وي أَن چې يُغۡوِيَكُمۡۚ تاسو ګمراه کړي(یعني که تاسو شرک پرینږدئ او ایمان رانوړئ،او ستاسو د ګناهونو په سبب د الله تعالی عدالت او انصاف په تاسو د ګمراهانو فیصله وکړي،او د ګناهونو په سبب مو په زړونو مهرونه ولږیږي،نو بیا که زه تاسو ته هر څومره نصیحت هم وکړم خوستاسو مهر شوو،تورو زړونو ته به زما نصیحت داخل نشي،او نه به څه ګټه درته وکړي.) هُوَ هغه«جل جلاله» رَبُّكُمۡ رب دی ستاسو(یعني په دنیا کې ستاسو پالنه،تاسو ته رزق برابرول او ستاسو دنیایي ضرورتونه پوره کول ستاسو خپل کمال نه دی،بلکې دا هرڅه درته الله تعالی برابروي) وَ او(بیرته به پس د مرګه په آخرت کې) إِلَيۡهِ هغه«جل جلاله» ته تُرۡجَعُونَ (د حساب دپاره) وروستل کیږئ. ﴿٣٤﴾+

أَمۡ يَقُولُونَ ٱفۡتَرَىٰهُۖ قُلۡ إِنِ ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ فَعَلَيَّ إِجۡرَامِي وَأَنَا۠ بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُجۡرِمُونَ ﴿٣٥﴾

دا آیت یوه معترضه جمله ده،یعني د نوح علیه السلام په بحث کې د خبرې مخ د محمد«صلی الله علیه وسلم» په لور اړول کیږي. کله چې نبي علیه السلام د نوح علیه السلام په باره کې معلومات خلکو ته ورکړو،نو د مکې مشرکانو او کافرانو به ویل،چې دا خبرې او قصې نبي علیه السلام د خپل ځان څخه جوړوي، د الله تعالی خبرې نه دي.په دې آیت کې د کفارو د دې خبرو جواب دی،او د دې آیت څخه وروسته د خبرې مخ بیرته د نوح علیه السلام د بحث خواه ته اړول کیږي.آیت ته توجه وکړئ!

أَمۡ آیا يَقُولُونَ دوی(یعنې کفار) وایې ٱفۡتَرَىٰهُ چې:هغه(یعنې محمد صلی الله علیه وسلم د نوح علیه السلام او دې ته ورته خبرې او قصې)د خپل ځان څخه جوړه کړې دي قُلۡ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم کفارو ته) ووایه إِنِ که چیرته ٱفۡتَرَيۡتُهُۥ ما دا( خبرې او قصې) د خپل ځان څخه جوړې کړې وې(او نسبت ئې الله تعالی ته کوم) فَعَلَيَّ نو په ما باندې دی إِجۡرَامِي (وبال او جزا) زما د جرم وَأَنَا۠ او زه بَرِيٓءٞ برې(او بیزاره) یم مِّمَّا تُجۡرِمُونَ د هغه جرم څخه چې تاسو یې کوئ(یعنې د قرآنکریم آیتونه دروغ ګڼئ) ﴿٣٥﴾

وَأُوحِيَ إِلَىٰ نُوحٍ أَنَّهُۥ لَن يُؤۡمِنَ مِن قَوۡمِكَ إِلَّا مَن قَدۡ ءَامَنَ فَلَا تَبۡتَئِسۡ بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ﴿٣٦﴾

اوس بیرته د خبرې مخ د نوح علیه السلام بحث ته اړول کیږي کیږي،الله تعالی فرمایې!

وَأُوحِيَ او وحې وشوه إِلَىٰ نُوحٍ نوح«علیه السلام» ته أَنَّهُۥ چې بېشکه (د دې څخه وروسته هیڅوک) لَن يُؤۡمِنَ ایمان نه راوړي مِن قَوۡمِكَ ستا د قوم څخه إِلَّا پرته مَن د هغه چا قَدۡ ءَامَنَ چې ایمان یې راوړې دی(تر دې دمه،یعنې ستا د قوم هغو خلکو چې تر اوسه پورې یې ایمان راوړې،بس همدوی ایمان راوړې دی،او د دې نه وروسته نور هیڅوک ستا د قوم څخه ایمان نه راوړي) فَلَا تَبۡتَئِسۡ نو(ای نوح«علیه السلام» ته مه غمجن کیږه بِمَا په هغو(بدو خبرو او کارونو)باندې كَانُواْ يَفۡعَلُونَ چې دوی(یعنې ستا قومیان)یې کوي. ﴿٣٦﴾

وَٱصۡنَعِ ٱلۡفُلۡكَ بِأَعۡيُنِنَا وَوَحۡيِنَا وَلَا تُخَٰطِبۡنِي فِي ٱلَّذِينَ ظَلَمُوٓاْ إِنَّهُم مُّغۡرَقُونَ ﴿٣٧﴾

وَ او(وحي وشوه نوح علیه السلام ته چې:) ٱصۡنَعِ جوړه کړه ٱلۡفُلۡكَ کشتۍ بِأَعۡيُنِنَا زمونږ د څارنې(لاندې) وَوَحۡيِنَا او زمونږ د وحې(او هدايت) مطابق وَلَا تُخَٰطِبۡنِي او زمونږ سره خبرې مه کوه فِي ٱلَّذِينَ د هغو خلکو(د شفاعت او د عذاب څخه د خلاصولو) په باره کې ظَلَمُوٓاْ چې ظلم(يعنې شرک او کفر) يې کړئ دی إِنَّهُم بېشکه هغوی مُّغۡرَقُونَ غرقيدوونکې دي(يعنې په دوی د عذاب فيصله شوې ده،د اوبو د طوفان عذاب وربانديې راځي،او ټول به په اوبو کې غرق او هلاک شي.) ﴿٣٧﴾

وَيَصۡنَعُ ٱلۡفُلۡكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيۡهِ مَلَأٞ مِّن قَوۡمِهِۦ سَخِرُواْ مِنۡهُۚ قَالَ إِن تَسۡخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسۡخَرُ مِنكُمۡ كَمَا تَسۡخَرُونَ ﴿٣٨﴾

وَ او(نوح علیه السلام د کشتۍ جوړول شروع کړل.نو!) يَصۡنَعُ هغه «علیه السلام»جوړوله ٱلۡفُلۡكَ کشتۍ(يعنې هغه علیه السلام به کشتۍ جوړوله) وَكُلَّمَا خو کله به چې: مَرَّ تيريدل عَلَيۡهِ په هغه«علیه السلام» باندې مَلَأٞ سرداران(او مشرکان) مِّن قَوۡمِهِۦ د هغه د قوم سَخِرُواْ دوی به مسخرې کولې مِنۡهُ د هغه«علیه السلام»پورې(چا به ويل چې نبوت يې پريښودو او ترکاڼي يې شروع کړه،چا به ويلې چې کشتۍ خو د اوبو شی دی،خو دا يې په وچه ځمکه جوړوي،چا به ويل سپين ږيری دی فکر يې کار نکوي....و غيره وغيره) قَالَ هغه(يعنې نوح علیه السلام ورته) وويلی إِن که تَسۡخَرُواْ تاسو مسخرې کوئ مِنَّا زمونږ پورې(يعنې که اوس تاسو زمونږ پورې مسخرې کوئ) فَإِنَّا نو پرته د شک څخه مونږ

به(هم) نَسۡخَرُ مسخري وکړو مِنكُمۡ د ستاسو پورې كَمَا لکه ځنګه چې تَسۡخَرُونَ تاسو مسخري کوئ(یعني لکه ځنګه چې تاسو اوس زمونږ پورې مسخري کوئ،مونږ به هم د طوفان په وخت کې ستاسو د هلاکیدلو او غرقیدلو ننداره وکړو.) ﴿٣٨﴾

فَسَوۡفَ تَعۡلَمُونَ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ يُخۡزِيهِ وَيَحِلُّ عَلَيۡهِ عَذَابٞ مُّقِيمٌ ﴿٣٩﴾

فَسَوۡفَ او( نور خلکو ته وایي،چې:) ډېر زر به تَعۡلَمُونَ تاسو پوه شئ مَن يَأۡتِيهِ عَذَابٞ چې هغه څوک دي(په مونږ او تاسو کې) چې داسې عذاب به پرې راشي يُخۡزِيهِ چې وبه یې شرموي وَ او(پوه به شئ چې:هغه څوک دی چې:) يَحِلُّ نازل به شي عَلَيۡهِ په هغه باندې عَذَابٞ مُّقِيمٌ دائمي عذاب(په آخرت کې) ﴿٣٩﴾

حَتَّىٰٓ إِذَا جَآءَ أَمۡرُنَا وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ قُلۡنَا ٱحۡمِلۡ فِيهَا مِن كُلّٖ زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ وَأَهۡلَكَ إِلَّا مَن سَبَقَ عَلَيۡهِ ٱلۡقَوۡلُ وَمَنۡ ءَامَنَۚ وَمَآ ءَامَنَ مَعَهُۥٓ إِلَّا قَلِيلٞ ﴿٤٠﴾

تاریخي روایات وایي چې د دې کشتۍ اوږدوالی ۳۰۰ ګزه،پلنوالی یې ۵۰ ګزه او جګوالی یې ۳۰ ګزه و،او درې منزلونه یې پکې وو.ځینې وایي چې په دوه کلونو او ځینې وایي چې په دیرش کلونو کې جوړه شوې وه. (والله اعلم)

نوح علیه السلام به بنه په حوصله سره کشتۍ جوړوله،او کفارو به مسخرې وریورې کولې!

حَتَّىٰٓ تر څو چې: إِذَا کله جَآءَ راغئ(په هغوی) أَمۡرُنَا عذاب زمونږ وَفَارَ ٱلتَّنُّورُ او تنور(کې اوبه)راوخوټیدلي(د دې طوفان شروع د یو خاص تنور څخه وه،د کوم په بیخ کې چې د اوبو چینه راوخوټیدله، د دې سره د آسمان څخه ډېر زورور او دوامداره بارانونه شروع شول،او ځمکې هم د خپلو چینو خولې خلاصې کړې،بیا دواړه د ځمکې او آسمان اوبه سره یوځای شوې او یو ډېر لوی عظیم سیلاب ترې جوړ شو(بیان القرآن،نو) قُلۡنَا مونږ(نوح«علیه السلام» ته) وویل ٱحۡمِلۡ چې سواره کړه فِيهَا په دې کشتۍ کې مِن كُلّٖ د هر قِسم(ضروري او کټورو حیواناتو) زَوۡجَيۡنِ ٱثۡنَيۡنِ دوه جوړې(یعنې یو نر او یوه ښځه ځکه چې نر د ښځې جوړه ده او ښځه د نر جوړه ده) وَأَهۡلَكَ او(سوره کړه)کورنۍ خپله إِلَّا مګر مَن هغه څوک(د خپلې کورنۍ څخه مه سوروه) سَبَقَ چې مخکې شویده عَلَيۡهِ په هغه باندې ٱلۡقَوۡلُ فیصله(د عذاب چې د نوح علیه السلام بله ښځه او د هغې ځوی کنعان وو) وَمَنۡ او هغه څوک(هم په کشتۍ کې سواره کړه) ءَامَنَۚ چې ایمان یې راوړی دی(ستا د قوم څخه،عبدالله ابن عباس رضی الله عنه وایي چې ټول ۸۰ کسان وو یعنې نوح علیه السلام او ښځه یې،درې ځامن سام،حام،یافث او د هغوی درې ښځې او نور یې د قوم هغه خلک وو چې ایمان یې راوړی وو.او اوس بیا یوه معترضه جمله راځي! الله تعالی فرمایي!) وَمَآ ءَامَنَ او نه وو راوړئ ایمان مَعَهُۥٓ د هغه«علیه السلام»سره إِلَّا مګر قَلِيلٞ ډېرو لږو(خلکو وربانديې ایمان راوړی وو) ﴿٤٠﴾

۞ وَقَالَ ٱرۡكَبُواْ فِيهَا بِسۡمِ ٱللَّهِ مَجۡرٜىٰهَا وَمُرۡسَىٰهَآۚ إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٞ رَّحِيمٞ ﴿٤١﴾

۞ وَقَالَ او(کله یې چې د ضروت وړ کټور حیوانات په کشتۍ کې سواره کړل،نو نوح علیه السلام خپلې کورنۍ او هغو خلکو ته چې

مؤمنان وو) وویل چې: ٱرۡكَبُواْ سواره شئ فِيهَا په کشتۍ کې
بِسۡمِ ٱللَّهِ د الله تعالی په نوم سره مَجۡرٜىٰهَا روانیدل دي د دې(کشتۍ)
وَ او(د الله تعالی په نوم سره) مُرۡسَىٰهَآ ودریدل دي د دې(کشتۍ.دا
د مؤمن شان او د نورو خلکو سره فرق دی،چې د فطرت د قانون
مطابق اسباب استعمالوي لیکن یقین او باور صرف په الله تعالی
کوي،نوح علیه السلام خلکو ته د خپلې انجینرۍ صفت نه کوي چې
ما داسې ښه کشتۍ جوړه کړې ده،چې د دې سخت طوفان مقابله
کولای شي، بلکې وایې چې مونږ اسباب استعمال کړي دي،لیکن
قدرت او اختیار ټول د مسبب السباب(الله تعالی) چلیږي،دا د الله تعالی
په اختیار کې ده چې کشتۍ د څومره وخت دپاره کوم خوا ته ګرځې
راګرځې او کله او چیرته لنګر اچوي یعنې ودریږي،او ان شاءالله
مونږ به د غرقیدو څخه بچ کړي ځکه چې:) إِنَّ پرته د شک او
شبهې څخه رَبِّي زما رب«جل جلاله» لَغَفُورٞ بې نهایته
بخښونکی رَّحِيمٞ (او) رحیم دی. ﴿٤١﴾

وَهِيَ تَجۡرِي بِهِمۡ فِي مَوۡجٖ كَٱلۡجِبَالِ وَنَادَىٰ نُوحٌ ٱبۡنَهُۥ وَكَانَ فِي مَعۡزِلٖ
يَٰبُنَيَّ ٱرۡكَب مَّعَنَا وَلَا تَكُن مَّعَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ﴿٤٢﴾

حیوانات او مؤمنان کشتۍ کې سواره شول،د آسمان او ځمکې اوبه سره یوځای او دومره زیاتې شوې چې کشتۍ ته یې حرکت ورکړو،کشتۍ روانه شوه،خو اوبه لا دومره ډیرې نه وې چې جګ ځایونه او غرونه یې ډوب کړي وو!

وَهِيَ او دا(کشتۍ) تَجۡرِي روانه وه بِهِمۡ د هغوی(یعنې په کشتۍ
کې د سورو حیواناتو او مؤمنانو سره) فِي مَوۡجٖ (د اوبو په
داسې)څپو کې كَٱلۡجِبَالِ لکه غرونه(چې لړ وړاندې د کشتۍ څخه د
نوح علیه السلام ځوی«کنعان»د کفارو سره په یو جګ ځای د اوبو

په غاړه ولاړ و،هغه علیه السلام ولیدلو) وَنَادَىٰ نو غږ وکړو نُوحٌ نوح علیه السلام ٱبْنَهُۥ خپل ځوی ته وَ په داسې حال کې كَانَ چې هغه و فِي مَعْزِلٍ په یوه غاړه(یا یوه کناره د اوبو)کې(داسې چې:) يَٰبُنَيَّ ای ځویه ٱرْكَب سور شه مَّعَنَا زمونږ سره (په کشتۍ کې) وَلَا تَكُن او مه (ملګرې) کیږه مَّعَ ٱلْكَٰفِرِينَ د کافرانو سره(دلته په ښکاره ډول معلومیږي چې:اول-د نوح علیه السلام ځوی منافق و،یعني اصلاً کافر و،خو پلار ته یې ځان مسلمان معرفي کړئ و ،او پلار ته یې د کفر معلومات نه و،ځکه که نوح علیه السلام ته معلومه وه چې کافر دی،بیا یې ورته غږ نه کولو چې په کشتۍ کې سور شه،ځکه د دې خبره مخکې ورته حکم شوئ و،چې ستا د کورنۍ خبره چې چا ایمان نه وي راوړئ هغه مه سوروه،او نوح علیه السلام د الله تعالی نافرماني نه کړې وه،او نه یې کوله.دوهم-نوح علیه السلام په غیبو نه پوهیدو ځکه چې هغه علیه السلام ته معلومه نه وه چې ځوی یې کافر دی.دریم-مونږ ته دا درس دی چې که:پیغمبران د غیبو په علم نه پوهیږي،نو عام انسانان خو نامکنه او محال ده چې د غیبو په علم پوه شي،نو کوم انسانان چې خلکو ته ۲۴ ساعته د غیبو او پټې خبرې کوي،دا ټوله دوکه بازي،چالاکي او مختلف تریکونه دي چې دا دوکه بازان یې د دین په نوم د نفسي خواهشاتو د پوره کولو،عزت او دولت د لاس ته راوړلو دپاره استعمالوي) ﴿٤٢﴾

قَالَ سَـَٔاوِيٓ إِلَىٰ جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ ٱلْمَآءِۚ قَالَ لَا عَاصِمَ ٱلْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ ٱللَّهِ إِلَّا مَن رَّحِمَۚ وَحَالَ بَيْنَهُمَا ٱلْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ ٱلْمُغْرَقِينَ ﴿٤٣﴾

قَالَ (د نوح علیه السلام په جواب کې کنعان یعني ځوی یې ورته وویلې سَـَٔاوِيٓ زه به پناه ویسم إِلَىٰ جَبَلٍ یو غر ته(یعني پلاره تشویش مه کوه که اوبه زیاتې شوې،یو غر ته به وخیژم) يَعْصِمُنِي

ما به بچ مې کړي مِنَ ٱلۡمَآءِۚ د اوبو څخه قَالَ هغه(یعني نوح علیه السلام ورته)وویل لَا عَاصِمَ نشته هیڅ بچ کوونکۍ ٱلۡيَوۡمَ نن ورځ مِنۡ د أَمۡرِ عذاب ٱللَّهِ د الله تعالی څخه إِلَّا مګر مَن هغه ثوک(ترې بچ کیږي چې په چا باندې الله تعالی) رَّحِمَۚ رحم وکړي وَ او( پلار او ځوی خبرې کولې چې ناځاپه) حَالَ پرده شوه بَيۡنَهُمَا د دواړو تر منځ ٱلۡمَوۡجُ یوه څپه(یعني د نوح علیه السلام د سترګو څخه دیوې څپې پواسطه پناه شو) فَكَانَ نو شو هغه(یعني کنعان) مِنَ ٱلۡمُغۡرَقِينَ د غرق شوو څخه(یعني د نورو کافرانو سره یوځای د اوبو په طوفان کې غرق شو.) ﴿٤٣﴾

وَقِيلَ يَٰٓأَرۡضُ ٱبۡلَعِي مَآءَكِ وَيَٰسَمَآءُ أَقۡلِعِي وَغِيضَ ٱلۡمَآءُ وَقُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ وَٱسۡتَوَتۡ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ وَقِيلَ بُعۡدٗا لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾

کله چې اوبه د غرونو د سرونو څخه هم جګې شوي،او ټول کافران هلاک شول!نو

وَقِيلَ (د الله تعالی) حکم وشو چې: يَٰٓأَرۡضُ ای ځمکې ٱبۡلَعِي جذب کړه( کش کړه) مَآءَكِ خپلې اوبه(بیرته) وَ او يَٰسَمَآءُ ای اسمانه أَقۡلِعِي بند کړه اوبه ورول( آسمان د الله تعالی د حکم په اساس اوبه ورول بند کړل،او ځمکې خپلې اوبه بیرته جذب کړې،خو چې دې کار څومره وخت ونیولو؟والله اعلم.) وَ او(کله چې اسمان بارانونه بند کړل او ځمکې ډنډ شوي اوبه جذب کړې نو) غِيضَ ٱلۡمَآءُ اوبه کمې شوې(یعني ځمکه مخ په وچیدو شوه) وَقُضِيَ او پوره شو ٱلۡأَمۡرُ حکم(د الله تعالی د کافرانو د هلاکت په باره کې) وَٱسۡتَوَتۡ او لنګر واچولو(او ودریدله) کشتۍ عَلَى ٱلۡجُودِيِّۖ جودي(په غر) باندې(د جودي غر اوس هم په همدې نوم باندې مشهور دی،چې د آرمینیه په سرحد باندې واقع دی) وَقِيلَ او وویل

شو بُعۡدٗا لرې دې وي(د الله تعالی د رحمت نه،هلاکت دې وي) لِّلۡقَوۡمِ قوم ته ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو(ظالمانو خلکو ته چې د الله تعالی سره شرک او کفر کوي.) ﴿٤٤﴾

وَنَادَىٰ نُوحٞ رَّبَّهُۥ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ٱبۡنِي مِنۡ أَهۡلِي وَإِنَّ وَعۡدَكَ ٱلۡحَقُّ وَأَنتَ أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٤٥﴾

مخکې ذکر شو چې:د نوح علیه السلام ځوی منافق و،د پلار په مخکې به یې کفر پټولو او اسلام به یې ښکاره کولو،نو هغه علیه السلام فکر کولو چې مسلمان دی،نو ځکه یې ورته غږ وکړو چې د کافرانو سره مه ملګری کیږه او راشه زمونږ سره په کشتۍ کې سور شه او هغه جواب ورکړو چې غره ته به وخیژم، خو په همدې وخت کې د اوبو څپه د دواړو تر منځ پرده شوه،او ځوی یې په اوبو کې غرق شو! نو

وَنَادَىٰ نُوحٞ نوح«علیه السلام»اواز وکړو رَّبَّهُۥ خپل رب ته فَقَالَ او ویې ویل رَبِّ ای زما ربه إِنَّ بېشکه ٱبۡنِي زما ځوی مِنۡ أَهۡلِي زما د اهل(کورنۍ) نه دی وَإِنَّ او بېشکه وَعۡدَكَ ستا وعده ٱلۡحَقُّ حق(او رېښتیا) ده وَأَنتَ او بېشکه ته أَحۡكَمُ ٱلۡحَٰكِمِينَ د ټولو ښه ښه فیصله کوونکی یې.(یعنې نوح علیه السلام د الله تعالی ښه په ډېر ادبي انداز سره سوال کوي فرمایي چې:ای زما ربه!زما ځوی زما د اهل یعنې کورنۍ ښه دی،او ستا وعده رېښتیا ده،ته احکم الحاکمین ئې،په تا باندې اعتراض نه دی،تا راته فرمایلي و،چې: ستا اهل یا کورنۍ به بچ کوم،او ځما دا ځوی بچ نه شو،نو په دې کې څه حکمت و،زه په دې نه پوهیږم،یعنې نوح علیه السلام د ځوی د منافقت او کفر ښه خبر نه و،هغه علیه السلام فکر کولو چې مسلمان دی،او که ورته معلومات و چې منافق او کافر دی،نو بیا خو ئې

داسې سوال نه کولو ځکه چې د همدې سورت په ۳۷ آیت کې الله تعالی ورته فرمايلي،چې د ظالمانو يعنې مشرکانو او کافرانو په باره کې ما ته سفارش مه کوه،بېشکه دوی غرقيدونکي دي يعنې په ټولو د غرقيدلو فيصله شوې ده.) ﴿٤٥﴾

قَالَ يَٰنُوحُ إِنَّهُۥ لَيۡسَ مِنۡ أَهۡلِكَۖ إِنَّهُۥ عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ مَا لَيۡسَ لَكَ بِهِۦ عِلۡمٌۖ إِنِّيٓ أَعِظُكَ أَن تَكُونَ مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٤٦﴾

قَالَ هغه«جل جلاله» وفرمايل: يَٰنُوحُ اى نوح «عليه السلام» إِنَّهُۥ بېشکه هغه لَيۡسَ نه دى مِنۡ أَهۡلِكَۖ ستا د اهل څخه إِنَّهُۥ بېشکه هغه عَمَلٌ غَيۡرُ صَٰلِحٖۖ د يو فاسد عمل خاوند دی(يو بد عمله دی) فَلَا تَسۡـَٔلۡنِ نو زما څخه غوښتنه مه کوه مَا د هغه څه لَيۡسَ چې نه وي لَكَ تا ته بِهِۦ په هغه باندې عِلۡمٌۖ علم(يعني زما څخه د هغې خبرې غوښتنه مه کوه چې په حقيقت يې نه پوهيږې) إِنِّيٓ بېشکه زه أَعِظُكَ تا ته نصيحت کوم أَن تَكُونَ چې:«نه» شې ته مِنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ د ناپوهانو څخه(يعنې د ناپوهانو پشان پوښتنې مه کوه) ﴿٤٦﴾

قَالَ رَبِّ إِنِّيٓ أَعُوذُ بِكَ أَنۡ أَسۡـَٔلَكَ مَا لَيۡسَ لِي بِهِۦ عِلۡمٌۖ وَإِلَّا تَغۡفِرۡ لِي وَتَرۡحَمۡنِيٓ أَكُن مِّنَ ٱلۡخَٰسِرِينَ ﴿٤٧﴾

قَالَ هغه عليه السلام وويل چې: رَبِّ اى زما ربه إِنِّيٓ بېشکه زه أَعُوذُ پناه غواړم بِكَ په تا سره(د دې څخه) أَنۡ چې: أَسۡـَٔلَكَ زه سوال وکړم ستا نه مَا د هغه څه لَيۡسَ چې نه وي لِي ما ته بِهِۦ په هغه باندې عِلۡمٌۖ علم وَ او إِلَّا تَغۡفِرۡ که چېرته ته بخښنه

ونکړې لِي ما ته وَتَرۡحَمۡنِيٓ او رحم ونکړي په ما أَكُن زه به شمه مِّنَ د ٱلۡخَٰسِرِينَ تاوانیانو څخه(يعني هلاک او تباه به شم) ﴿٤٧﴾

قِيلَ يَٰنُوحُ ٱهۡبِطۡ بِسَلَٰمٖ مِّنَّا وَبَرَكَٰتٍ عَلَيۡكَ وَعَلَىٰٓ أُمَمٖ مِّمَّن مَّعَكَۚ وَأُمَمٞ سَنُمَتِّعُهُمۡ ثُمَّ يَمَسُّهُم مِّنَّا عَذَابٌ أَلِيمٞ ﴿٤٨﴾

کله چې آسمان اوبه ورول بند کړل ، ځمکې ډنډ شوي اوبه جذب کړي، او کشتۍ د جودې په غره باندې لنګر واچولو یعنې ودریدله،نو!

قِيلَ حکم وشو چې: يَٰنُوحُ ای نوح«عليه السلام» ٱهۡبِطۡ کوز شه(ځمکې ته) بِسَلَٰمٖ د سلامتيا(او آمن) سره مِّنَّا زمونږ د طرف څخه وَبَرَكَٰتٍ او د برکتونو سره(زمونږ د طرف څخه په مال او اولاد کې) عَلَيۡكَ په تاباندې وَ او (د قيامته پورې) عَلَىٰٓ أُمَمٖ په هغو(مؤمن) امتونو باندې(هم سلامتيا او برکتونه دي) مِّمَّن چې د هغه چا(د نسل څخه پيدا کيږي) مَّعَكَۚ چې: ستا سره (په کشتۍ کې) دي وَأُمَمٞ او هغه امتونه(چې د دوی د نسل څخه پيداکيږي او کافران وي نو!) سَنُمَتِّعُهُمۡ مونږ به هغوی ته هم د دنيا نعمتونه ورکړو(ليکن) ثُمَّ بيا وروسته به يَمَسُّهُم رسيږي هغوی ته(ورکول کيږي هغوی ته) مِّنَّا زمونږ د طرف څخه عَذَابٌ عذاب أَلِيمٞ درد ناک. ﴿٤٨﴾

تِلۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡغَيۡبِ نُوحِيهَآ إِلَيۡكَۖ مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ وَلَا قَوۡمُكَ مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ فَٱصۡبِرۡۖ إِنَّ ٱلۡعَٰقِبَةَ لِلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٩﴾

تِلۡكَ (ای محمد«صلی الله علیه وسلم») دغه(د نوح علیه السلام واقعات) مِنۡ أَنۢبَآءِ د خبرونو ٱلۡغَيۡبِ د غیبو څخه دي نُوحِيهَآ چې مونږ يې وحي کوو إِلَيۡكَۖ تا ته مَا كُنتَ تَعۡلَمُهَآ أَنتَ چې نه ته پوهيدې په دې(واقعاتو) وَلَا او نه قَوۡمُكَ ستا قوم(پرې پوهيدلو) مِن قَبۡلِ هَٰذَاۖ مخکې د دې(وحي) څخه فَٱصۡبِرۡۖ نو صبر کوه إِنَّ بېشکه ٱلۡعَٰقِبَةَ نتيجه(او انجام) لِلۡمُتَّقِينَ د پرهيزګارانو په ګټه دی.﴿٤٩﴾

وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمۡ هُودٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۖ إِنۡ أَنتُمۡ إِلَّا مُفۡتَرُونَ ﴿٥٠﴾

مخکې ذکر شو چې:د نوح علیه السلام درې ځامن وو،حام،سام او يافث.عاديان يا د عاد قوم د حضرت سام د نسل څخه وو.تيرې به يې تراشلې،بتان به يې جوړول او د هغوی عبادت به يې کولو،ډېر قوي او مالدار خلک وو،کله يې چې سرکشي د حد څخه زياته شوه،الله تعالی ورته د دوی د قوم څخه هود علیه السلام د پيغمبر په حيث ورولېږلو،چې د بتانو د عبادت او شرک څخه يې منع کړې او د يو الله تعالی عبادت ته يې راوبولې.آيت ته توجه وکړئ!الله تعالی فرمايې!

وَ او( ولېږلو مونږ) إِلَىٰ عَادٍ عاديانو ته أَخَاهُمۡ ورور د هغوی(يعنې د هغوی د خپل قوم څخه) هُودٗاۚ هود علیه السلام(د پيغمبر په حيث نو!) قَالَ هغه علیه السلام(ورته) وويل چې: يَٰقَوۡمِ ای زما قومه ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ يوازې د الله تعالی عبادت وکړئ(يعنې شرک او دبتانو عبادت پرېږدئ او يوازې د الله تعالی عبادت کوئ،ځکه چې:) مَا لَكُم نشته تاسو ته مِّنۡ إِلَٰهٍ (هيڅ شی او هيڅوک) د عبادت لايق غَيۡرُهُۥٓۖ پرته د هغه جل جلاله څخه (تيرې

تراشئ،بتان ترې جوړئ،بيا د خدايانو نومونه وربانديږ ږدئ،عبادت ورته كوئ او د خير او شر طمعه ترې كوئ،نو! إِنۡ أَنتُمۡ تاسو نه يئ(په حقه او سمه لار،يعني نه دا تراشل شوي تيږي ستاسو خدايان دي او نه تاسو د دوی بندګان يئ) إِلَّا مُفۡتَرُونَ مګر تاسو د خپل ځان څخه دروغ جوړنكي يئ(يعني دا ټول تاسو د ځانه دروغ جوړوئ،چې دوی مونږ ته خير او شر رارسولئ شي،بلكې حقيقت دا دی چې دوی نه چا ته خير رسولئ شي او نه شر،او نه د الله تعالی په خدايئ كې څه برخه او شراكت لري.) ﴿٥٠﴾

يَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ أَجۡرًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِي فَطَرَنِيٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٥١﴾

او نور زياتوي چې!

يَٰقَوۡمِ ای زما قومه لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ زه نه غواړم ستاسو څخه عَلَيۡهِ په دې(دعوت او تبليغ) باندې أَجۡرًاۖ څه اجر(او مزدوري) إِنۡ نه دی أَجۡرِيَ اجر(او مزدوي) زما(په تاسو) إِلَّا مګر(زما اجر) عَلَى ٱلَّذِي په هغه ذات دی فَطَرَنِيٓۚ چې زه ئې پيدا كړئ يم أَفَلَا تَعۡقِلُونَ آيا نو تاسو عقلونه نه استعمالوئ(چې په دې نه پوهيږئ چې زه د خپلې دنيايې ګټې دپاره تاسو ته د دعوت او تبليغ كار نه كوم،او دومره فكر نه كوئ چې په خپلو لاسونو بتان جوړوئ،بيا يې مخې ته ږدئ،سجدې ورته لړوئ او خير او شر ترې غواړئ،اخر دا مو څنګه عقل منې؟) ﴿٥١﴾

وَيَٰقَوۡمِ ٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِ يُرۡسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيۡكُم مِّدۡرَارٗا وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ مُجۡرِمِينَ ﴿٥٢﴾

وَ او(هود علیه السلام نور فرمايي چې!) يَٰقَوۡمِ اى زما قومه ٱسۡتَغۡفِرُواْ بخښنه وغواړئ رَبَّكُمۡ د خپل رب څخه(یعني نوره بت پرستي پرېږدئ او د الله تعالی څخه د کړو ګناهونو بخښنه وغواړئ،او د دې څخه) ثُمَّ وروسته تُوبُوٓاْ رجوع وکړئ إِلَيۡهِ هغه جل جلاله ته(یعني د دې څخه وروسته یوازې د الله تعالی بندګي او عبادت کوئ.نوکه تاسو چیرته د بتانو عبادت او شرک پرېږدئ او یوازې د یو الله تعالی عبادت کوئ،نو) يُرۡسِلِ هغه«جل جلاله»به ووروي ٱلسَّمَآءَ د آسمان څخه عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّدۡرَارٗا په شیبو-شیبو(بې ضرره) بارانونه وَيَزِدۡكُمۡ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمۡ او ستاسو قوت(او موجوده طاقت)به نور هم زیات کړي(یعني په اولادونو او صحتونو کې به مو برکت واچوي) وَلَا تَتَوَلَّوۡاْ او مخ مه اړوئ(زما د خبرو د منلو څخه د) مُجۡرِمِينَ مجرمانو(پشان) ﴿٥٢﴾

قَالُواْ يَٰهُودُ مَا جِئۡتَنَا بِبَيِّنَةٖ وَمَا نَحۡنُ بِتَارِكِيٓ ءَالِهَتِنَا عَن قَوۡلِكَ وَمَا نَحۡنُ لَكَ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٥٣﴾

کله چې هود علیه السلام عادیانو ته د یو الله د بندګۍ کولو دعوت ورکړو نو!

قَالُواْ هغوی(د ډېر کبر او د حق سره د دښمنۍ په اساس د هغه علیه السلام په واضحه دلایلو او معجزو باندې سترګې پټې کړې او) وویل يَٰهُودُ چې اى هود«علیه السلام» مَا جِئۡتَنَا ته نه ئې راغلئ مونږ ته بِبَيِّنَةٖ د واضحه دلایلو او معجزو سره(یعني تا داسې کومه واضحه نښه نه ده راوړې چې:د هغې په لیدلو سره مونږ دا ومنو چې

ته د الله تعالى پيغمبر ئې،نو) وَمَا نَحْنُ نه يو مونږ بِتَارِكِيٓ پرېښودونكي ءَالِهَتِنَا د خپلو خدايانو عَن قَوۡلِكَ ستا په خبره(يعني مونږ ستا په خوله خپل خدايان نه پرېږدو) وَمَا او نه نَحۡنُ مونږ لَكَ په تا بِمُؤۡمِنِينَ ايمان راوړونكي يو(ځكه چې مونږ تا د الله تعالى پيغمبر نه منو نو خبره دې ښكاره ومنو،فلهذا په آينده كې هم زمونږ د ايمان راوړلو په طمعه نشي؟) ﴿٥٣﴾

إِن نَّقُولُ إِلَّا ٱعۡتَرَىٰكَ بَعۡضُ ءَالِهَتِنَا بِسُوٓءٖۗ قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ﴿٥٤﴾

نور هم عاديان خپلو خبرو ته دوام وركوي او هود عليه السلام ته وايي!

إِن نَّقُولُ مونږ نه وايو(چې ته پيغمبر يې او ستا خبرې رېښتيا دي) إِلَّا مګر( ستا په باره كې مونږ ګمان كوو) ٱعۡتَرَىٰكَ چې رسولئ تا ته بَعۡضُ ځنې ءَالِهَتِنَا خدايانو زمونږ بِسُوٓءٖۗ ضرر(يعني ته چې زمونږ خدايان نه منې،او خبرې ورپسې كوې،د هغوى ازار دې ماغزه خراب كړي دي،عقلي عصبي تكليف يې درته پيدا كړئ دی او ګډې وډې خبرې كوې«العياذ بالله»،نو!) قَالَ هغه عليه السلام (په جواب كې ورته) وويلي إِنِّيٓ بېشكه زه أُشۡهِدُ ٱللَّهَ شاهد نيسم الله تعالى وَٱشۡهَدُوٓاْ او تاسو هم شاهدان اوسئ(په دې خبره باندې) أَنِّي چې پرته د شک څخه زه بَرِيٓءٞ بيزاره يم مِّمَّا د هغو(خدايانو او معبودانو)څخه تُشۡرِكُونَ چې تاسو يې(د الله تعالى سره) شريكوئ. ﴿٥٤﴾

مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ﴿٥٥﴾

هود عليه السلام خبرو ته ادامه ورکوي او عاديانو ته وايې چې!

مِن دُونِهِۦۖ پرته د هغه «جل جلاله» څخه فَكِيدُونِي زما خلاف(زما د مرګ او يا ماته د تکليف رسولو دپاره چې څومره تدبيرونه جوړولئ شئ،هغومره)تدبيرونه جوړ کړئ جَمِيعٗا ټول(تاسو په ګډه،يعنې تاسو او ستاسو خدايان ټول سره يو ځای شئ او زما خلاف چې څه تدبير کولئ شئ وېې کړئ،لاس مو ازاد) ثُمَّ بيا وروسته(د تدبير د جوړولو څخه) لَا تُنظِرُونِ ما ته هيڅ مهلت مه راکوئ(يعنې که زور لرئ نو هيڅ لحاظ مې ونکړئ،هر تدبير او پروګرام چې زما خلاف جوړ کړئ،عملي يې کړئ،خو نه تاسو او نه ستاسو دا بې وسې او بې قدرته خدايان ما ته څه ضرر رسولئ شي،ځکه چې خير او شر د هغه ذات په لاس کې دی،ما چې د چا پيغام تاسو ته راوړئ دی. ) ﴿٥٥﴾

إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ مَّا مِن دَآبَّةٍ إِلَّا هُوَ ءَاخِذُۢ بِنَاصِيَتِهَآۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ﴿٥٦﴾

إِنِّي (نور ورته فرايي) پرته د شک او شبهې څخه تَوَكَّلۡتُ ما توکل کړئ(ما ځان سپارلئ دی) عَلَى ٱللَّهِ په الله تعالی باندې رَبِّي چې زما رب(هم) دی وَرَبِّكُمۚ او د ستاسو رب(هم) دی(يعنې زه، زما او د ستاسو د رب په حکم، د هغه«جل جلاله»پيغام تاسو ته رسوم،او نتيجه او انجام يې هم هغه جل جلاله ته پرېږدم.«او اوس ورته د الله تعالی طاقت او قدرت بيانوي.فرمايي چې»:) مَّا مِن دَآبَّةٍ (د ځمکې په مخ هيڅ) يو داسې حرکت کوونکئ نشته إِلَّا مګر(هر شی چې حرکت کوي،د) هُوَ هغه«جل جلاله» ءَاخِذُۢ په لاس کې دی بِنَاصِيَتِهَآۚ تندې د هغه(يعنې د دماغ د تندې برخه يا فرانټل لوب د هر خوځېدونکې د الله تعالی په قدرت کې دی.يعنې هر ژوندی شی

چې حرکت کوي،د هغه د حرکت کولو مرکز چې په تندي کې موقعت لري، د الله تعالی په اختيار کې دی او پرته د الله تعالی د ارادې څخه هيڅ کار نشي کولئ،بايد ووايو چې دا د قرآن يوه لويه علمي معجزه ده ځکه چې د قرآن د نزول د وخت څخه تر شلمې پیړۍ پورې يو ساينسدان هم په دې نه پوهيدو چې د دماغ هغه برخه چې په تندي کې موقيعت لري،څه وظيفه اجرا کوي،دا خو بالکل تازه او نوی د يويشتمې پيړۍ معلومات دی چې د ساينسدانانو د تحقيقاتو په واسطه منځ ته راغلئ دی داسې چې:د دماغ هغه حصه چې په تندي کې موقعت لري وظايف او صلاحيتونه يې په دې ډول دي،فکر او غور کول،فيصله کول،د يو کار کول او نه کول،د خبرو کولو عضلاتو ته حرکت ورکول،اود خبرې انتخابول چې کومه خبره بايد وويل شي او کومه ونه ويل شي،عدالت او انصاف کول،د اختياري عضلاتو او حرکاتو کنټرولول،د ځان کنټرولول،احساسات .....او نور.مطلب دا چې:تکويني يا غيرې ارادې کارونه لکه مريضې،دولت او غريبې دا خو هسې هم د انسان په اختيار کې نه دي،ليکن تشريعي امور يا هغه کارونه چې الله تعالی يې انسان ته اختيار هم ورکړئ دی،هغه هم په حقيقت کې د الله تعالی په اختيار کې دي،ځکه چې د انسان اختيار او اراده د الله تعالی د ارادې پواسطه پوره کيږي،دا خو د الله تعالی حکمت دی چې انسان ته يې د دنيا د امتحان دپاره اختيار ورکړئ، دا په دې معنې چې د انسان صرف اراده استعماليږي،ليکن پوره کيدل او نه پوره کيدل يې د الله تعالی د ارادې پواسطه کيږي،مثلاً ډېر ځله انسان د يو کار د کولو اراده وکړي ليکن بيا يې ونکړي. «آيا پرته د کائناتو د خالق څخه بل چا ته دا ممکن وه چې ۱۴۰۰ کلونه مخکې د دماغ د تندي د برخې يا د فرانټل لوب د وظايفو په باره کې معلومات ورکړي؟هيڅکله نه.نو د دې څخه په ډاګه ثابتيږي چې قرآن عظيم الشان د الله تعالی پاکې خبرې دي».او هود عليه السلام نور خپل قوم ته فرمايې چې:) إِنَّ پرته د شک او شبهې څخه رَبِّي زما رب عَلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ په مستقيمه(سمه) لار دی(يعني ټولې لارې هغه

که د بتانو عبادت او بندګي ده او که د انسانانو عبادت او بندګي ده،او
که د قبرونو عبادت او بندګي ده،دا ټولي کږي لاري دي،او په یوه
کږه لاره هم الله ته نشئ رسیدلئ،پرته د یوي مستقیمي لارې څخه چي
نیغ مو الله تعالی ته رسوي،چې هغه د شرک څخه پاکه د توحِد،عدل
او انصاف لار ده.) ﴿٥٦﴾

فَإِن تَوَلَّوۡاْ فَقَدۡ أَبۡلَغۡتُكُم مَّآ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦٓ إِلَيۡكُمۡۚ وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي قَوۡمًا غَيۡرَكُمۡ
وَلَا تَضُرُّونَهُۥ شَيۡـًٔاۚ إِنَّ رَبِّي عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ حَفِيظٞ ﴿٥٧﴾

او په اخر کي هود علیه السلام خیل قوم عادیانو ته فرمایي!

فَإِن او که چیرته تَوَلَّوۡاْ تاسو مخ اړوئ(زما د خبرو څخه،او ایمان
نه راوړئ) فَقَدۡ نو بېشکه اَبۡلَغۡتُكُم ما درسولئ تاسو ته مَّآ
هغه(پیغام) أُرۡسِلۡتُ چې زه رالیږل شوئ یم بِهِۦٓ د هغه سره(د الله
تعالی د طرف څخه) إِلَيۡكُمۡۚ تاسو ته وَيَسۡتَخۡلِفُ رَبِّي او(که تاسو د
الله د پیغام څخه مخ واړوئ،او ایمان رانوړئ،نو د الله تعالی عذاب به
مو هلاک کړي او د ځمکي د مخ څخه به نیست او نابود شئ،او) زما
رب به جانشین کړي ستاسو(او الله تعالی به ستاسو په ځای وټاکي،یا
الله تعالی به ستاسو په ځای پیدا کړي د ځمکي دپاره) قَوۡمًا (نور)
خلک غَيۡرَكُمۡ پرته ستاسو څخه(یعني تاسو به د ځمکي د مخ څخه
لرې کړي او ستاسو په ځای به نور خلک پیدا کړي) وَلَا تَضُرُّونَهُۥ
شَيۡـًٔاۚ او تاسو هغه«جل جلاله» ته هیڅ ضرر نشئ رسولئ(یعني
ستاسو په هلاکت او د منځه وړلو باندي د الله تعالی په پاچاهۍ کي
هیڅ کموالی او نقصان نه راځي) إِنَّ پرته د شک څخه رَبِّي زما
رب«جل جلاله» عَلَىٰ كُلِّ شَيۡءٍ په هر شي باندي حَفِيظٞ
نګران(او څارونکی) دی ﴿٥٧﴾

وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴿٥٨﴾

چون عاديان د كبر،دولت او د حق سره د دښمنۍ په نشه كې دومره غرق وو چې:په ځاى د دې چې عقل استعمال كړي او د پيغمبر په خبرو غور او فكر وكړي، د دښمنۍ،تكبر او جهالت لار يې ونيوله او هود عليه السلام ته يې وويل چې ته درغجن يې«العياذ بالله»،او د هغه عليه السلام د پيغمبرۍ څخه يې انكار وكړو.نو د الله تعالى د عذاب فيصله ورباندې وشوه.

وَلَمَّا او هر كله چې جَآءَ راغئ(په عاديانو باندې) أَمۡرُنَا عذاب زمونږ. نَجَّيۡنَا نجات وركړو مونږ. هُودٗا هود عليه السلام ته وَٱلَّذِينَ او هغو خلكوته ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ وو مَعَهُۥ د هغه عليه السلام سره بِرَحۡمَةٖ په رحمت سره مِّنَّا زمونږ د طرف څخه وَنَجَّيۡنَٰهُم او نجات(او خلاصى) وركړو مونږ هغوى ته(يعني نوح عليه السلام او د هغه مؤمنانو ملګرو ته) مِّنۡ د عَذَابٍ غَلِيظٖ سخت عذاب څخه. ﴿٥٨﴾

وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ﴿٥٩﴾

وَتِلۡكَ او دا(په قبرونو كې د اوړدو او غټو جسدونو خاوندان، چې خاموشه پراته دي،دا) عَادٞۖ عاديان دي جَحَدُواْ چې انكار(او كفر) يې كړئ وو بِـَٔايَٰتِ په آياتونو باندې رَبِّهِمۡ د خپل رب«جل جلاله» وَعَصَوۡاْ او نافرماني يې كړي وه رُسُلَهُۥ د پيغمبرانو د هغه«جل جلاله» وَٱتَّبَعُوٓاْ او تابعدارۍ(او پيروي)يې كړي وه أَمۡرَ

د حکم كُلِّ د هر جَبَّارٍ سرکشه عَنِيدٍ د حق د دښمن(يعني د الله تعالی د پيغمبرانو نافرماني يې کوله او د ظالمانو او د الله تعالی د دښمنانو خبره يې منله او د هغوی د سرکشۍ او ظالمانه کارونو پيروي يې کوله.) ﴿٥٩﴾

وَ أُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ﴿٦٠﴾

وَأُتۡبِعُواْ او(د پيغمبرانو د نافرمانۍ او د سرکشانو او ظالمانو د پيروی په سبب) د دوی پسې وليږل شو فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا په دې دنيا کې(هم) لَعۡنَةٗ لعنت (چې په سخت باد باندې هلاک شول) وَيَوۡمَ او په ورځ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ د قيامت (کې به هم د جهنم په اور کې سوځي) أَلَآ خبردار إِنَّ پرته د کوم شک او شبهې څخه عَادٗا عاديانو كَفَرُواْ انکار کړئ وو رَبَّهُمۡۗ د خپل رب څخه أَلَا خبردار بُعۡدٗا لرې دي(د الله تعالی د رحمت څخه،او هلاکت دی) لِّعَادٖ عاديانو قَوۡمِ قوم هُودٖ د هود عليه السلام ته. ﴿٦٠﴾

۞ وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمۡ صَٰلِحٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ فِيهَا فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٞ مُّجِيبٞ ﴿٦١﴾

د عاديانو د هلاکت څخه وروسته کوم خلک چې الله تعالی د عذاب څخه بچ کړل،هغوی د دې ځای څخه هجرت وکړو،او د تبوک او مدينې منورې تر منځ د حجر په منطقه کې اباد شول،او د ثمود په نوم لوی قوم ځنې جوړ شو،خو د وخت په تيريدو سره يې د الله تعالی سره شرک او

بت پرستې شروع کړه،کله يې چې سرکشې د حد څخه زياته شوه،نو الله تعالی فرمايې!

۞ وَ او( مونږ وليږلو) إِلَىٰ ثَمُودَ ثموديانو ته أَخَاهُمۡ د هغوی ورور(يعنې خپله د هغوی د قوم ځنې) صَٰلِحٗاۚ صالح عليه السلام قَالَ هغه عليه السلام(ورته) وويلې يَٰقَوۡمِ چې ای زما قومه (شرک او د غيرالله عبادت پرېږدئ،او يوازې) ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ د الله تعالی عبادت(او بندګې)کوئ (ځکه چې) مَا لَكُم نشته ستاسو دپاره مِّنۡ إِلَٰهٍ د عبادت او بندګۍ کولو لايق غَيۡرُهُۥۖ پرته د هغه«جل جلاله» (څخه بل شی،يعنې پرته د الله تعالی څخه نه بتان او نه انسانان د عبادت او بندګۍ لايق دي.) هُوَ هغه«جل جلاله» أَنشَأَكُم پيدا کړي يئ تاسو مِّنَ ٱلۡأَرۡضِ د ځمکې څخه(يعنې د ځمکې د بې روحه عناصرو څخه ئې جوړ کړي ياستئ) وَٱسۡتَعۡمَرَكُمۡ او تاسو يې اباد کړي يئ فِيهَا په دې(ځمکه)کې فَٱسۡتَغۡفِرُوهُ نو(چې خالق او رازق مو الله دی،د اوسيدلو ځای الله تعالی درکړئ دی،بيا خو د شرک او د بتانو او انسانانو عبادت او بندګې پرېږدئ،او د الله تعالی څخه د کړو ګناهونو)بخښنه وغواړئ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ او بيا هغه«جل جلاله»ته رجوع وکړئ(يعنې يوازې د الله تعالی بندګې او عبادت وکړئ،او هيڅوک ورسره په حکومت کې مه شريکوئ) إِنَّ پرته د شک څخه رَبِّي زما رب قَرِيبٞ ډېر نږدې دی مُّجِيبٞ (او د دعاګانو)جواب ورکونکئ دی(يعنې صالح عليه السلام خپل قوم ته وايې چې: د الله تعالی په باره کې د دنيا د پادشاهانو په شان فکر مه کوئ چې:ګنې ستاسو څخه لرې دی،او پرته د خاصو کسانو د واسطې څخه ، نه خپل مشکل او پيغام ورسولئ شئ،او نه د خاصو کسانو څخه پرته جواب تر لاسه کولئ شئ.بلکې الله تعالی درڅخه لرې نه دی،چيرته چې ياستئ الله تعالی درسره دی،د شاه رګ څخه درته نږدې دی،هره پټه او ښکاره خبره مو اورې،تاسو پخپله هر وخت او په هرځای کې خپلې دعاګانې د الله تعالی څخه کولای

شئ،خپلې عريضې د هغه«جل جلاله»حضور ته واړندې کولای
شئ،او الله تعالی مستقيماً د هر بنده د دعا جواب پخپله ورکوي.نو
چې:د کائناتو د بادشاه دربار هر وخت د هر چا دپاره خلاص دی،او
هر چا ته نزدې موجود دی،نو بيا تاسو څومره کم عقل يئ چې د
هغه«جل جلاله»دپاره واسطې او وسيلې لټوئ؟ ﴿٦١﴾

قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدۡ كُنتَ فِينَا مَرۡجُوّٗا قَبۡلَ هَٰذَآۖ أَتَنۡهَىٰنَآ أَن نَّعۡبُدَ مَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُنَا
وَإِنَّنَا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ﴿٦٢﴾

صالح عليه السلام ډېر ذهين،د ښو او نيکو اخلاقو خاوند او د خلکو خيرخواه و،د هر چا سره به يې مرسته کوله،شرک او د بتانو عبادت يې نه کولو،ټولو خلکو هم ورته په ډېره درنه او د عزت په سترګه کتل،ليکن کله يې چې خلکو ته د شرک څخه د منعه کولو او د يو الله تعالی د عبادت کولو دعوت ورکړو.نو!

قَالُواْ نو هغوی(يعني ثموديانو)وويلي يَٰصَٰلِحُ ای صالح عليه
السلامه قَدۡ يقيناً كُنتَ ته وې فِينَا په مونږ کې(زمونږ د
مَرۡجُوّٗا ارمانونو آسره قَبۡلَ هَٰذَآۖ مخکې د دې څخه(يعني ستا
استعداد،صلاحيتونه او اخلاقو ته چې مونږ کتل،نو ډېر اميدونه مو
تاته لرل،چې:ته به ګڼې د خپل قوم نوم روښانه کړې او مونږ ته به
ګټورې مشورې راکوې،ليکن دا تا څه وکړل؟د هر څه نه اول دې
زمونږ په خدايانو حمله وکړه) أَتَنۡهَىٰنَآ آيا ته منعه کوې مونږ(د دې
څخه) أَن چې نَّعۡبُدَ مونږ عبادت کوو مَا د هغو(معبودانو)
يَعۡبُدُ ءَ چې عبادت يې کولو ابَآؤُنَا زمونږ پلرونو او نيکونو وَإِنَّنَا
او پرته د شک څخه مونږ لَفِي شَكّٖ په شک کې يو مِّمَّا د
هغې(خبرې په باره کې) تَدۡعُونَآ چې ته دعوت(اوبلنه)راکوې مونږ

ته إِلَيْهِ هغې ته مُرِيبٍ ډېر زيات شک(کې یو.یعنې ای صالح علیه السلامه!کوم دلایل او منطق چې ته یې زمونږ د خدایانو د رد او د یو الله د عبادت کولو دپاره استعمالوې،دلایل او خبرې خو ستا صحیح دي،زړه ته لوېږي او عقل یې منې،لیکن خبره دا ده چې:آیا زمونږ پلرونو او نیکونو چې په سوونو-سوونو کلونه یې د دې بتانو عبادت کولو،آیا دوی ټول نه پوهیدل،آیا دوی ټول کم عقل وو،آیا مونږ ټول کم عقل یو،او یو ته پوهیږي؟....فلهذا زمونږ ستا په خبره کې شک دی،ځکه چې د دومره زیاتو خلکو په مقابل کې ستا خبره څنګه صحیح کیدلای شي،نو بهتره دا ده چې د خپلو پلرونو او نیکونو د دین پسې بدې خبرې ونکړې،او نه مونږ ته د بل نوې دین دعوت راکړې.) ﴿٦٢﴾

قَالَ يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَءَاتَىٰنِي مِنۡهُ رَحۡمَةٗ فَمَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِنۡ عَصَيۡتُهُۥۖ فَمَا تَزِيدُونَنِي غَيۡرَ تَخۡسِيرٖ ﴿٦٣﴾

قَالَ هغه(یعنې صالح علیه السلام ورته په جواب کې) وویلې يَٰقَوۡمِ ای زما قومه! أَرَءَيۡتُمۡ (دا چې تاسو زما د نبوت په باره کې شک کوئ،او د حق د دعوت او تبلیغ څخه مې منع کول غواړئ نو!) آیا تاسو په دې(هم) فکر کړئ دی إِن که چیرته(ستاسو خبره غلطه وي،او) كُنتُ زه یمه عَلَىٰ بَيِّنَةٖ په روښانه دلیل(او معجزه)باندې مِّن رَّبِّي د خپل رب«جل جلاله» د طرفه(ستاسو دپاره د الله تعالی پیغبر) وَءَاتَىٰنِي او راکړئ ئې وي ما ته مِنۡهُ د خپل طرف څخه رَحۡمَةٗ نبوت(او زه ستاسو د خوشالولو دپاره دعوت او تبلیغ پریږدم،او د الله تعالی پیغام تاسو ته ونه رسوم) فَمَن نو څوک به يَنصُرُنِي ما بچ کړي مِنَ ٱللَّهِ د الله تعالی(د عذاب څخه) إِنۡ که عَصَيۡتُهُۥ زه د هغه«جل جلاله»نافرماني وکړم فَمَا تَزِيدُونَنِي نو(که زه ستاسو خبره ومنم او دعوت او تبلیغ پریږدم،نو ستاسو

مشوره او خبره منل) نه زیاتوئ ما ته(څه خیر او نیکي) غَيۡرَ تَخۡسِيرٖ پرته د تاوان ښخه.(یعنې د الله تعالی د عذاب مستحق به شم) ﴿٦٣﴾

وَيَٰقَوۡمِ هَٰذِهِۦ نَاقَةُ ٱللَّهِ لَكُمۡ ءَايَةٗۖ فَذَرُوهَا تَأۡكُلۡ فِيٓ أَرۡضِ ٱللَّهِۖ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابٞ قَرِيبٞ ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمۡ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٖۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ﴿٦٥﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا صَٰلِحٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَمِنۡ خِزۡيِ يَوۡمِئِذٍۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ ٱلۡقَوِيُّ ٱلۡعَزِيزُ ﴿٦٦﴾ وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ﴿٦٧﴾ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ﴿٦٨﴾

قوم يې صالح عليه السلام ته وويلي كه ته واقعاً د الله تعالى پيغمبر يې نو الله تعالى ته ووايه چې مونږ ته د نښې په توګه د دې غر څخه يوه اوښه راوباسي. د قوم په غوښتنه،او د صالح عليه السلام په دعا سره،د معجزې په ډول د غره څخه اوښه راووتله(حكمت القرآن).نو صالح عليه السلام خپل قوم ته وويل چې!

وَ يَٰقَوۡمِ اى زما قومه هَٰذِهِۦ دا نَاقَةُ اوښه ٱللَّهِ د الله تعالى لَكُمۡ تاسو ته ءَايَةٗ نښه ده(یعنې الله تعالى د معجزې په توګه ستاسو د غوښتنې مطابق دا اوښه راوليږله) فَذَرُوهَا نو پريږدئ دا تَأۡكُلۡ چې خوراک کوي فِيٓ أَرۡضِ په ځمكه كې ٱللَّهِ د الله تعالى وَلَا تَمَسُّوهَا او مه رسوئ دې ته بِسُوٓءٖ هيڅ ضرر(او كه چيرته ضرر وروررسوئ) فَيَأۡخُذَكُمۡ نو وبه نيسي تاسو(نو رابه شي په تاسو) عَذَابٞ عذاب قَرِيبٞ نزدې(یعنې ډېر زر به دربانده عذاب راشي) ﴿٦٤﴾ فَعَقَرُوهَا خو هغوى(د پيغمبر د خبرې خلاف)هغه زخمي(او مړه)كړه(او صالح عليه السلام ته يې وويلي چې:راوله هغه عذاب د كوم څخه چې ته مونږ ويروي) فَقَالَ نوهغه عليه السلام ورته وويل

چې: تَمَتَّعُواْ واوسيږئ فِي دَارِكُمۡ په كورونو كې ثَلَٰثَةَ درې
أَيَّامٖۖ ورځې(يعني اوس نو يوازې درې ورځې وخت په دنيا كې
لرئ،او پس د درې ورځو څخه به مو د الله تعالى عذاب هلاک
كړي.او) ذَٰلِكَ دا وَعۡدٌ يوه (داسې )وعده ده غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ چې
(بالكل)دروغ نه ده(يعني دا د دروغو وعده يا دروغ خبره نه ده)
﴿٦٥﴾ فَلَمَّا نو كله چې جَآءَ راغئ (په هغوی باندې) أَمۡرُنَا عذاب
زمونږ نَجَّيۡنَا (نو)مونږ نجات وركړو صَٰلِحٗا صالح عليه السلام
ته وَٱلَّذِينَ او هغو خلكو ته ءَامَنُواْ چې ايمان يې راوړئ وو
مَعَهُۥ د هغه عليه السلام سره بِرَحۡمَةٖ په رحمت باندې مِّنَّا زمونږ
د طرف څخه(يعني مونږ صالح عليه السلام او د هغه ملګرو ته په
خپل رحمت باندې نجات او خلاصى وركړو) وَ او(مونږ نجات
وركړو) مِنۡ د خِزۡيِ رسوايئ(او شرمیندګى) څخه يَوۡمِئِذٍۚ د
هغې ورځې(يعني د عذاب د ورځې د شرمیندګى او ذلت څخه مو بچ
كړل) إِنَّ پرته د شک او شبهې څخه رَبَّكَ ستارب! هُوَ
هغه«جل جلاله» ٱلۡقَوِيُّ ډېر قوي ٱلۡعَزِيزُ (او په هر څه زورور
او) برلاسى دى. ﴿٦٦﴾ وَأَخَذَ او ونيول ٱلَّذِينَ هغه خلک ظَلَمُواْ
چې ظلم يې كړئ وو ٱلصَّيۡحَةُ يوې هيبت ناكې لړزونكې چغې
فَأَصۡبَحُواْ نو شو هغوى فِي دِيَٰرِهِمۡ په خپلو كورونو كې جَٰثِمِينَ
پرمخې نسكور(يعني پرمخې مره پراته ول) ﴿٦٧﴾(او داسې خاموشې
شوه) كَأَن لكه چې لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ هغوى هيڅ نه وو اوسيدلې فِيهَآۗ په
دې(كلو او كورونو كې،يعني داسې خاموشې او چپتيا شوه لكه چې په
دې كورونو او كلو كې د سره څوک اوسيدلې نه يې.) أَلَآ خبردار
إِنَّ بېشكه ثَمُودَاْ ثموديانو كَفَرُواْ انكار كړئ وو رَبَّهُمۡۗ د خپل
رب څخه أَلَا خبردار بُعۡدٗا لرې والى دى(د الله تعالى د رحمت
څخه) لِّثَمُودَ ثموديانو ته. ﴿٦٨﴾

وَلَقَدۡ جَآءَتۡ رُسُلُنَآ إِبۡرَٰهِيمَ بِٱلۡبُشۡرَىٰ قَالُواْ سَلَٰمٗاۖ قَالَ سَلَٰمٞۖ فَمَا لَبِثَ أَن جَآءَ
بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا رَءَآ أَيۡدِيَهُمۡ لَا تَصِلُ إِلَيۡهِ نَكِرَهُمۡ وَأَوۡجَسَ مِنۡهُمۡ
خِيفَةٗۚ قَالُواْ لَا تَخَفۡ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ ﴿٧٠﴾ وَٱمۡرَأَتُهُۥ قَآئِمَةٞ
فَضَحِكَتۡ فَبَشَّرۡنَٰهَا بِإِسۡحَٰقَ وَمِن وَرَآءِ إِسۡحَٰقَ يَعۡقُوبَ ﴿٧١﴾ قَالَتۡ يَٰوَيۡلَتَىٰٓ
ءَأَلِدُ وَأَنَا۠ عَجُوزٞ وَهَٰذَا بَعۡلِي شَيۡخًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓاْ
أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ رَحۡمَتُ ٱللَّهِ وَبَرَكَٰتُهُۥ عَلَيۡكُمۡ أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ إِنَّهُۥ حَمِيدٞ
مَّجِيدٞ ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا ذَهَبَ عَنۡ إِبۡرَٰهِيمَ ٱلرَّوۡعُ وَجَآءَتۡهُ ٱلۡبُشۡرَىٰ يُجَٰدِلُنَا فِي قَوۡمِ
لُوطٍ ﴿٧٤﴾ إِنَّ إِبۡرَٰهِيمَ لَحَلِيمٌ أَوَّٰهٞ مُّنِيبٞ ﴿٧٥﴾ يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَآۖ
إِنَّهُۥ قَدۡ جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ عَذَابٌ غَيۡرُ مَرۡدُودٖ ﴿٧٦﴾

وَلَقَدۡ او بېشکه جَآءَتۡ ورغلي وي رُسُلُنَآ زمونږ پيغام
وړونکي(فريشتي) إِبۡرَٰهِيمَ ابراهيم عليه السلام ته بِٱلۡبُشۡرَىٰ د
خوشالی د زيرې سره قَالُواْ هغوی(يعنې فريشتو ورته)وويلې
سَلَٰمٗاۖ سلام(دې وي په تا) قَالَ هغه عليه السلام(جواب ورکړو)
سَلَٰمٞۖ سلام (دې وي په تاسو،ميلمنې فريشتي کيناستلې،ابراهيم عليه
السلام کور ته لاړو) فَمَا لَبِثَ خو(ډېر وخت) تير نشو أَن چې
جَآءَ بِعِجۡلٍ حَنِيذٖ هغه عليه السلام د يو وريت شوي خوسي سره
راغئ.(وريت شوئ خوسی يې د ميلمنو مخې ته کيښودلو) ﴿٦٩﴾ فَلَمَّا
خو کله چې رَءَآ هغه عليه السلام وليدل أَيۡدِيَهُمۡ چې د
هغوی(يعنې د ميلمنو) لاسونه لَا تَصِلُ نه وروړل کيږي إِلَيۡهِ
هغه(وريت شوي خوسي) ته (نو) نَكِرَهُمۡ شکمن شو په دوی
وَأَوۡجَسَ او په زړه کې يې احساس کړه مِنۡهُمۡ د دوی څخه خِيفَةٗۚ
څه ويره(دا څنګه ميلمانه دي چې خوسې ته لاس نه وروړي،
خوراک نه کوي، نو بيا په څه مقصد راغلي دي؟خو کله چې فريشتي
د ابراهيم عليه السلام په ويره پوه شوي نو!) قَالُواْ هغوی(يعنې
فريشتو ورته) وويلې لَا تَخَفۡ (زمونږ څخه) مه ويرېږه إِنَّآ پرته
د شک څخه مونږ أُرۡسِلۡنَآ رالېږل شوي يو إِلَىٰ قَوۡمِ لُوطٖ د لوط

«عليه السلام» قوم ته(د عذاب ورکولو دپاره). ﴿٧٠﴾ وَ او(په دې
وخت کې چې فريشتو او ابراهيم «عليه اسلام» خبرې کولې)
ٱمۡرَأَتُهُۥ د هغه«عليه السلام» ښځه(ساره رضی الله عنها هم) قَآئِمَةٞ
ولاړه وه فَضَحِكَتۡ نو(کله چې په حقيقت پوه شوه،ويره يې ورکه
شوه،او د خوشالۍ او حيرانتيا نه) يې وخندل فَبَشَّرۡنَٰهَا او مونږ هغې
ته (د فريشتو په واسطه د خوشالۍ) زيری ورکړو (دځوی) بِإِسۡحَٰقَ
په اسحق«عليه السلام»سره وَمِن وَرَآءِ او وروسته د إِسۡحَٰقَ
اسحاق «عليه السلام» څخه (د لمسي) يَعۡقُوبَ يعقوب عليه السلام
(يعني د اسحاق عليه السلام د ځوی) ﴿٧١﴾ قَالَتۡ هغې(يعني ساره
رضی آلله عنها) وويلې يَٰوَيۡلَتَىٰٓ هاى(دا څه اورم) ءَأَلِدُ آيا زه به
بچی وزيږوم؟ وَ حال دا چې أَنَا۠ زه(خو) عَجُوزٞ زړه(بوډۍ)يم
وَهَٰذَا او دا بَعۡلِي خاوند زما شَيۡخًاۖ (هم) زوړ دی إِنَّ بېشکه
هَٰذَا دا (خو) لَشَيۡءٌ عَجِيبٞ عجيبه کار دی؟ ﴿٧٢﴾ قَالُوٓاْ
هغوی(يعني فرشتو ورته)وويلې أَتَعۡجَبِينَ مِنۡ أَمۡرِ ٱللَّهِۖ آيا ته د الله
تعالی په کار کې تعجب کوې؟(يعني ته خو د نبي ښځه يې،په هر څه
پوهيږې،مونږ خو صرف زيری درکړو،ليکن فيصله د الله تعالی ده
او الله تعالی په هرکار قادر دی) رَحۡمَتُ ٱللَّهِ د الله تعالی رحمت
وَبَرَكَٰتُهُۥ او برکتونه دې وي عَلَيۡكُمۡ په تاسو باندې أَهۡلَ ٱلۡبَيۡتِۚ ای
د ابراهيم«عليه السلام»کورنۍ إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» حَمِيدٞ
د ډېرې ستاينې لايق(او) مَّجِيدٞ د لوی شان خاوند دی ﴿٧٣﴾ فَلَمَّا
نو کله چې ذَهَبَ لرې شوه عَنۡ إِبۡرَٰهِيمَ د ابراهيم«عليه السلام»
څخه ٱلرَّوۡعُ ويره وَجَآءَتۡهُ ٱلۡبُشۡرَىٰ او(د ځوی او لمسي د
خوشالۍ) زيری ورته راغئ(نو بيا ئې) يُجَٰدِلُنَا بحث کولو
زمونږ(رسولانو فريشتو سره) فِي قَوۡمِ لُوطٍ د لوط «عليه السلام» د
قوم په باره کې ﴿٧٤﴾ د دې مبارک آيت څخه په ډېر واضح ډول
معلوميږي چې ابراهيم عليه السلام په غيبو نه پوهيدو ځکه چې نه يې
فريشتې پيژنلې تر څو يې چې پخپله ځانونه ورته معرفي کړي نه
وو،او نه د خپل ځوی او لمسي د زيږيدلو څخه د فريشتو د زيرې

ځخه مخکې خبر و،نو چې پیغمبران په غیبو نه پوهیږي نو عام
انسانان څنګه امکان لري چې په غیبو پوه شي،نو هرڅوک چې په
غیبو د پوهیدو دعوه کوي،هغه کافر او دروغجن دی.
إِنَّ بیشکه إِبْرَٰهِيمَ ابراهیم علیه السلام لَحَلِيمٌ ډیر صبرناک أَوَّٰهٌ
نرم دله(زړه سوانده) مُّنِيبٌ (او)په هر حال کې زمونږ طرف ته
رجوع کوونکی و. ﴿٧٥﴾(په آخر کې زمونږ فریشتو ورته وویلې:)
يَٰٓإِبۡرَٰهِيمُ ای ابراهیم«علیه السلامه» أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَآۖ د دې نه تیر
شه(دا بې فایدې بحث دی) إِنَّهُۥ قَدۡ جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ پرته د شک او
شبهې څخه ستا د رب«جل جلاله» حکم شوئ دی(د عذاب د
ورکولو) وَإِنَّهُمۡ ءَاتِيهِمۡ عَذَابٌ او بېشکه په دوی باندې داسې عذاب
راتلونکی دی غَيۡرُ مَرۡدُودٖ چې د هیڅچا په مخنیوي یې مخه نشي
نیول کیدلای ﴿٧٦﴾

وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ
عَصِيبٞ ﴿٧٧﴾ وَجَآءَهُۥ قَوۡمُهُۥ يُهۡرَعُونَ إِلَيۡهِ وَمِن قَبۡلُ كَانُواْ يَعۡمَلُونَ
ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ هَٰٓؤُلَآءِ بَنَاتِي هُنَّ أَطۡهَرُ لَكُمۡۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ فِي
ضَيۡفِيٓۖ أَلَيۡسَ مِنكُمۡ رَجُلٞ رَّشِيدٞ ﴿٧٨﴾ قَالُواْ لَقَدۡ عَلِمۡتَ مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ
حَقّٖ وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ مَا نُرِيدُ ﴿٧٩﴾ قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ
شَدِيدٖ ﴿٨٠﴾ قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ
مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ
مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ﴿٨١﴾ فَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا جَعَلۡنَا عَٰلِيَهَا
سَافِلَهَا وَأَمۡطَرۡنَا عَلَيۡهَا حِجَارَةٗ مِّن سِجِّيلٖ مَّنضُودٖ ﴿٨٢﴾ مُّسَوَّمَةً عِندَ
رَبِّكَۖ وَمَا هِيَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٖ ﴿٨٣﴾

وَلَمَّا او كله چې: جَآءَتۡ ورغلې رُسُلُنَا ليږل شوي فريشتې
زمونږ لُوطٗا لوط«عليه السلام» ته(چون فريشتې د ځوانانو هلكانو
په شكل وي،نو لوط عليه السلام ډېرا) سِيٓءَ وارخطا (او خفه شو)
بِهِمۡ په هغوی باندې(چې د ده عليه السلام كور ته راغلې) وَضَاقَ
او تنګ شو بِهِمۡ په هغوی باندې ذَرۡعٗا قلباً (يعني په زړه كې،ځكه
هغه عليه السلام پو هيدلو چې:كه خلک خبر شي،اوس به سمدستې
راورسيږي،بې عزتې به يې وكړي،او په ما كې به ئې د بچ كولو
وسه نه وي) وَقَالَ او هغه عليه السلام وويل چې: هَٰذَا دا (نن)
يَوۡمٌ ورځ عَصِيبٞ (ډېره)د مصيبت(او سخته ورځ) ده (په ما
باندې،يعني زما په كور كې به زما د ميلمنو بې عزتې كيږي،او زه به
هيڅ نه شم كولای.) ﴿۷۷﴾ وَ او(د دغو ميلمنو د راتګ سم) جَآءَهُۥ
قَوۡمُهُۥ د هغه«عليه السلام)د قوم(بدمعاش)خلک ورغلل يُهۡرَعُونَ په
منډو-منډو إِلَيۡهِ د هغه«عليه السلام»(د كور) خوا ته وَمِن قَبۡلُ او د
پخوا څخه كَانُواْ يَعۡمَلُونَ كول دوی ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ بد كارونه(يعني دا د
دوی دپاره كوم نوی كار نه وو،بلكې دوی د مخكې څخه بد عمله
وو.لوط«عليه السلام» ډېر وارخطا او خفه شو،نو د ميلمنو د عزت د
بچ كولو دپاره!) قَالَ هغه«عليه السلام» د خپلو لورګانو خواته
اشاره وكړه او ورته يې» وويل يَٰقَوۡمِ ای زما قومه! هَٰٓؤُلَآءِ دغه
بَنَاتِي زما لورګانې دي(په نكاح يې واخلئ) هُنَّ دوی أَطۡهَرُ
ډېرې پاكې(او حلالې) دي(د دې هلكانو څخه) لَكُمۡۖ ستاسو
دپاره(يعني د ميلمنو د عزت د بچ كولو دپاره زه دې ته تيار يم)
فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ خو د الله تعالی څخه وويريږئ وَلَا تُخۡزُونِ او ما مه
شرموئ(او ما مه خجالت كوئ) فِي ضَيۡفِيٓۖ زما د ميلمنو حق
كې(يعني د الله نه وويريږئ او ما خپلو ميلمنو ته مه خجالت كوئ)
أَلَيۡسَ آيا نشته مِنكُمۡ په تاسو كې رَجُلٞ رَّشِيدٞ كوم پوه(او شريف
النفس) سړی(چې زما ملګرې وكړي،او دا خلک د بد اخلاقی او بې
حيايی څخه منع كړي،ښكاره خبره ده چې يو كس هم د لوط عليه

السلام ملګرې و نکړه،بلکې!) ﴿۷۸﴾ قَالُواْ دوی(ورته) وویلې
چې:(خبره یو خوا بل خوا مه وړه) لَقَدۡ عَلِمۡتَ ته ښه پوهیږې چې:
مَا لَنَا فِي بَنَاتِكَ مِنۡ حَقّ زمونږ ستا په لورګانو کې څه غرض(او
دلچسپې) نشته وَإِنَّكَ لَتَعۡلَمُ او بېشکه ته په دې(هم) ښه پوهیږې مَا
نُرِيدُ چې: مونږ څه غواړو؟ ﴿۷۹﴾ قَالَ (نو هغه علیه السلام د ډېرې
ورخطایۍ او خفګان په حالت کې ورته) وویلې لَوۡ کاشکې أَنَّ لِي
بِكُمۡ قُوَّةً چې زه په تاسو باندې زورور وم(یعنې کاش چې په تاسو مې
زور رسیدلیۍ چې سم کړې مې وۍ) أَوۡ ءَاوِيٓ او یا مې پناه وړې
وه إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ یو قوي قوم ته(چې ستاسو د شر څخه خلاص
شوۍ وم) ﴿۸۰﴾ (خو کله چې د لوط علیه السلام غم،اندیښنه او
اضطراب ډېر زیات شو نو میلمنو پرې غږ وکړو،او ورته یې) قَالُواْ
وویلې يَٰلُوطُ ای لوط«علیه السلامه» إِنَّا بېشکه مونږ رُسُلُ رَبِّكَ
ستا د رب«جل جلاله» رسولان یو لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ (زمونږ اندیښنه
خو بالکل مه کوه،لیکن) تاته به(هم د دوی لاسونه) هیڅکله درونه
رسیږې(د ضرر رسولو دپاره،بد عمله بدمعاشانو دروازې راماتې
کړې،خو کله چې انګړ ته راننوتل،یوې فریشتې یې په مخونو وزر
راښکلو،ټول ړانده شو،چغې یې کړې چې:تښتۍ،د لوط علیه السلام
کور ته داسې جادوګر راغلې دي چې:مونږ یې په جادو سره ړانده
کړو.«حکمت القرآن،احسن الکلام،کابلۍ تفسیر») فَأَسۡرِ بیا(فریشتو لوط علیه السلام ته وویل
چې) وځه ته بِأَهۡلِكَ د خپلې کورنۍ سره بِقِطۡعٖ په څه حصه مِّنَ
ٱلَّيۡلِ د شپې کې وَلَا يَلۡتَفِتۡ او شا ته دې نه ګوري مِنكُمۡ ستاسو
څخه أَحَدٌ هیڅ یو إِلَّا مګر ٱمۡرَأَتَكَۖ ښځه ستا ! إِنَّهُۥ بېشکه
هغه(عذاب) مُصِيبُهَا هغې(یعنې ستا ښځې ته هم) رسیدوونکۍ دی
مَآ هغه(یعنې کوم عذاب چې) أَصَابَهُمۡۚ هغوی(یعنې نورو کافرانو
ته) رسیږې(یعنې ستا ښځې ته به هم هغه عذاب ورکول کیږي کوم
چې نورو کافرانو ته ورکول کیږي،ویل کیږي چې ښځه یې مشرکه
وه،او خلک د فریشتو د راتګ څخه هم هغې خبر کړې وو.کله چې
لوط علیه السلام د عذاب د وخت په باره کې پوښتنه وکړه،فریشتې

جواب ورکړو چې:) إِنَّ بېشکه پرته د شک څخه مَوۡعِدَ هُمُ وعده(د نزول د عذاب ) د دوی ٱلصُّبۡحُۚ (وخت د) صبا دی(یعني سحر وختي وربانديې عذاب راځي،بیا لوط علیه السلام وویل چې د صبا پورې خو ډېر وخت دی،نو الله تعالی وفرمایل:) أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ آیا صبا نزدې نه دی؟(یعني نزدې دی«احسن الکلام،کابلی تفسیر»)﴿٨١﴾ فَلَمَّا نو کله چې جَآءَ راغئ (په هغوی باندې) أَمۡرُنَا عذاب زمونږ جَعَلۡنَا (نو) وګرځول مونږ عَٰلِيَهَا پاسینی (پورتنی) برخه د هغې(کلو) سَافِلَهَا لاندې برخه د هغې(یعني په بل مخ مو نسکور کړل،یا سر چپه مو کړل،پینځه کلي وو او څلویښت لاکه خلک پکې وو حکمت القران ) وَأَمۡطَرۡنَا او وورولې مونږ عَلَيۡهَا په دوی باندې حِجَارَةٗ تیرې مِّن د سِجِّيلٖ د پخې شوې ختې مَّنضُودٖ پرله پسې ﴿٨٢﴾ (چې هره تیره) مُّسَوَّمَةً نښه شوې وه عِندَ رَبِّكَۖ ستا د رب سره(یعني هره تیره چې د کوم کافر دپاره په نښه شوې وه،او نوم یې پرې لیکل شوئ و حکمت القران، د هغه په بدن به لږیدله،او هلاک به شو.او اوس په دنیا کې د ټولو موجودو انسانانو متوجه کول دي،فرمایي:) وَمَا هِيَ او نه دی دا(عذاب) مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ د ظالمانو څخه بِبَعِيدٖ لرې(یعني دا د کلو د سرچپه کولو او د تیږو ورولو عذاب اوس هم د ظالمانو څخه لرې نه دی،هر څوک چې د لوط علیه السلام د قوم پشان په ظلم او بې حیایئ راتولیږي،خپل ځانونه دې د داسې عذاب څخه لرې او په امن کې نه ګڼې،نن هم داسې عذاب راتلای شي.پیغمبر«صلی الله علیه وسلم» فرمایي:چې زما په امت کې به هم ځنې خلک هغه عمل وکړي کوم چې د لوط علیه السلام قوم کولو،کله چې داسې وشي،نو انتظار کوئ،چې په دوی به هم هغه عذاب راشي کوم چې د لوط علیه السلام په قوم راغلئ وو.معارف القرآن)
﴿٨٣﴾

۞ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ
وَلَا تَنقُصُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَۚ إِنِّيٓ أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ وَإِنِّيٓ أَخَافُ عَلَيۡكُمۡ عَذَابَ
يَوۡمٖ مُّحِيطٖ ﴿٨٤﴾
وَيَٰقَوۡمِ أَوۡفُواْ ٱلۡمِكۡيَالَ وَٱلۡمِيزَانَ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا
تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ وَمَآ
أَنَا۠ عَلَيۡكُم بِحَفِيظٖ ﴿٨٦﴾ قَالُواْ يَٰشُعَيۡبُ أَصَلَوٰتُكَ تَأۡمُرُكَ أَن نَّتۡرُكَ مَا يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُنَآ أَوۡ أَن نَّفۡعَلَ فِيٓ أَمۡوَٰلِنَا مَا نَشَٰٓؤُاْۖ إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ ﴿٨٧﴾ قَالَ
يَٰقَوۡمِ أَرَءَيۡتُمۡ إِن كُنتُ عَلَىٰ بَيِّنَةٖ مِّن رَّبِّي وَرَزَقَنِي مِنۡهُ رِزۡقًا حَسَنٗاۚ وَمَآ
أُرِيدُ أَنۡ أُخَالِفَكُمۡ إِلَىٰ مَآ أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ إِنۡ أُرِيدُ إِلَّا ٱلۡإِصۡلَٰحَ مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ وَمَا
تَوۡفِيقِيٓ إِلَّا بِٱللَّهِۚ عَلَيۡهِ تَوَكَّلۡتُ وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ ﴿٨٨﴾ وَيَٰقَوۡمِ لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ
أَن يُصِيبَكُم مِّثۡلُ مَآ أَصَابَ قَوۡمَ نُوحٍ أَوۡ قَوۡمَ هُودٍ أَوۡ قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ وَمَا قَوۡمُ
لُوطٖ مِّنكُم بِبَعِيدٖ ﴿٨٩﴾ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ رَبَّكُمۡ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيۡهِۚ إِنَّ رَبِّي رَحِيمٞ
وَدُودٞ ﴿٩٠﴾

پہ آیتونو د بنه پوهیدلو دپاره د یو څه معلومات ذکر کول ضرور دي

مدین د فلسطین په جنوب کې د بحر احمر په خوا او شاه کې واقع وو،دا د قبیلې نوم هم دی او د ښار نوم هم دی ،د دې ځای اوسیدونکې ډیر تجارت پیشه خلک و،اصلاً مدین لکه تجارتې منډیې غوندې و،د مختلفو ملګونو قافلې او تجارتې مالونه به راتلل او دې خلکو به د مالونو پیمانه او تلل کول،د دې خلکو نسبت د ابراهیم علیه السلام د دریمې او وروستنی ښځې د ځوی مدیان سره وو،مسلمانان وو،خو د وخت په تیریدلو سره ګډوډ شو،د بتانو عبادت او شرک پکې شروع شو،په پیمانه او تول کولو کې یې هم خیانت کولو،په لارو کې به یې خلک ویرول او ټکس او مالونه به یې په زوره ترې اخستل،لیکن بیا هم په عمومې ډول دوی ځانونو ته

مسلمانان ویل، او د اسلام په نوم يې فخر کولو،خو متاسفانه چې صرف د اسلام نوم ورته پاتې وو،لکه څنګه چې په اوس وخت کې په دنیا کې اکثرو مسلمانانو ته صرف د اسلام نوم پاتې دی،نور نه داسلام نه خبر دي او نه پرې عمل کوي،او یوازې د اسلام په نوم خوشاله دي،انصاف او فیصله په تاسو؟لکه څنګه چې پخوانیو هلاک شوو قومونو شرک کولو،خو ځان ته به يې نه مشرکان ویلې او نه کافر،همداسې اوس هم اکثره مسلمانان په ښکاره ډول شرک کوی،خونه ځان ته مشرک وایې او نه کافر،او که کوم د دین عالم ورته نصیحت کوې چې د یو الله عبادت کوئ او د یو الله څخه کومک غواړئ،خیر اوشر د الله تعالی په لاس کې دي،بل چا او بل شي ته د الله تعالی صفتونه مه ورکوئ،نو د دین عالم ته د دښمن او بې دینه په سترګه ګوري. د الله تعالی احکام نه منې خو بیا هم ځانونه ډېر ښه مسلمانان او جنتیان ګڼې،الله حکم کوې:دروغ مه وایئ،غلا مه کوئ،ظلم مه کوئ،د غریبانو حق مه خورئ،بې ګناه څوک مه وژنئ،زنا مه کوئ،وعده خلافې مه کوئ،رشوتونه مه اخلئ،په ځمکه کې پرته د الله تعالی د قانون څخه د انسان په لاس د جوړ شوي قانون پیروی مه کوئ......و غیره وغیره خو دوی د الله تعالی احکام نه منې او دا ټول کارونه کوي د کومو د کولو څخه چې الله منع کړې ده. فکر وکړئ چې څوک د چا په خپو کې سر کیږدې او سجده وکړي،آیا دا شرک نه دی؟او څوک چې د نیکانو قبرونو ته ورځې او اولادونه،دولتونه او د هر حاجت پوره کول ترې غواړې،آیا دا شرک نه دی؟عادیانو او د نوح علیه السلام قوم خوهم همداسې کول چې هلاک شو،نو قرآن خو د پخوانیو مړو دپاره نه دی نازل شوئ،بلکې د ژوندیو دپاره نازل شوئ دی،باید ژوندې د قرآن په آینه کې ځان وګورې چې :آیا د عادیانو،ثمودیانو او د مکې د مشرکانو په ډله کې دي او که د ابوبکر،عمر،عثمان علې او صحابه کرامو رضی

الله عنهم په ډله کې دي.موضوع ته راځو! ومو ویل چې د مدین د قبیلې خلکو سره د دې چې په پیمانه او تول کې یې خیانت کولو، او بت پرستې او شرک یې کولو، لیکن بیا یې هم ځانونو ته مسلمانان ویلې لکه څنګه چې اوس د اکثرو مسلمانانو همدا حال دی،نو الله تعالی د دوی د هدایت او لاربنودنې دپاره شعیب علیه سلام راولیږلو،کله چې شعیب علیه السلام تبلیغ شروع کړو، شا او خوا خلک هم خبر شو نو څوک به چې د بل ځای نه شعیب علیه السلام ته د ایمان راوړلو یا د هغه علیه السلام تبلیغ اوریدلو ته راتللو نو دوی به منع کولو،باید ذکر شي چې شعیب علیه السلام د موسی علیه السلام خسر و.آیت ته توجه وکړ!

۞ وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ او مدین ته(مونږ) أَخَاهُمۡ د هغوی ورور(یعنې د هغوی د قوم څخه) شُعَيۡبٗاۚ شعیب علیه السلام(هغوی ته د پیغمبر په حیث ولیږلو) قَالَ هغه علیه السلام(د مدین خلکوته) وویلې يَٰقَوۡمِ ای زما قومه ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ د یو الله تعالی بندګې کوئ(یعنې د انسانانو او بتانو بندګې مه کوئ،ځکه چې:) مَا نشته لَكُم تاسو ته مِّنۡ إِلَٰهٍ د بندګی وړ(او لایق) غَيۡرُهُۥۖ پرته د هغه«جل جلاله»څخه وَ او لَا تَنقُصُواْ کموالی مه کوئ ٱلۡمِكۡيَالَ په پیمانه کولو کې(یعنې چې یو شی په اندازه کولو سره لکه په ستل یا کاسه سره ورکوئ) وَٱلۡمِيزَانَۖ او په تول کې(یعنې چې یوشی په وزن سره ورکوئ لکه یوه کیلو....) إِنِّيٓ بېشکه زه(نن) أَرَىٰكُم بِخَيۡرٖ تاسو په ښه حالت کې ګورم(یعنې ښه مالداره یئ،او الله تعالی فراخه رزق او ښه کاروبار درکړئ دی،نو په پیمانه کولو او تللو کې باید نه خیانت وکړئ،او نه خیانت کولو ته ضرورت لرئ) وَ او(د الله تعالی د دومره مهربانۍ سره چې هر څه یې پریمانه درکړي دي،بیا هم که په پیمانه او تله کې خیانت کوئ،یعنې زیات اخلئ او کم ورکوئ نو) إِنِّيٓ بېشکه زه أَخَافُ ویریږم عَلَيۡكُمۡ

په تاسو باندې عَذَابَ يَوۡمٖ د هغې ورځ د عذاب څخه مُّحِيطٖ چې د
هرې خوا څخه مو راګیر کړي. ﴿٨٤﴾
وَيَٰقَوۡمِ او ای زما قومه أَوۡفُواْ تاسو پوره کوئ ٱلۡمِكۡيَالَ پیمانې
وَٱلۡمِيزَانَ او تلل بِٱلۡقِسۡطِۖ په انصاف سره وَلَا تَبۡخَسُواْ او مه کموئ
ٱلنَّاسَ خلکو ته أَشۡيَآءَهُمۡ شیان د هغوی(یعني داسې مه کوئ چې د بل
۷ کیلو ځانته په ۶ کیلو حسابوئ،او خپل ۶ کیلو بل ته په ۷ کیلو
حسابوئ) وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ او په ځمکه کې فساد مه
خوروئ. ﴿٨٥﴾ بَقِيَّتُ ٱللَّهِ (د خیانت څخه پاکه) د الله تعالی درکړې ګټه
خَيۡرٞ بهتره ده لَّكُمۡ تاسو ته إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَۚ که چیرته تاسو مؤمنان
یئ(ځکه چې دوی ځانونو ته مسلمانان ویلې) وَمَآ أَنَا۠ او زه نه یم
عَلَيۡكُم په تاسو باندې بِحَفِيظٖ نګران(او څارونکی.یعني زه د الله تعالی
دین تاسو ته رسوم،خپل رسالت پوره کوم،نور ستاسو خوښه ده چې یې
منئ او که نه.او زه په تاسو نګران نه یم مقرر شوئ چې په زوره به یې
درباندې ومنم او یا به سزا درکړم ﴿٨٦﴾
(څرنګه چې ټولو خلکو ته معلومه وه چې شعیب علیه السلام ډیر زیات
نفل لمونځونه کول،نو ځکه !) قَالُواْ هغوی وویلې يَٰشُعَيۡبُ ای
شعیب«علیه السلامه» أَصَلَوٰتُكَ آیا ستا لمونځونه تَأۡمُرُكَ تا ته(دا)
حکم کوي أَن چې: نَّتۡرُكَ مونږ پریږدو مَا هغه(معبودان) يَعۡبُدُ
چې عبادت یې کولو ءَابَآؤُنَآ پلرونو زمونږ أَوۡ یا(ستا لمونځ تا
ته(دا)حکم کوي أَن چې(پریږدو مونږ) نَّفۡعَلَ تصرف کول فِيٓ
أَمۡوَٰلِنَا په خپلو مالونو کې مَا څنګه چې نَشَٰٓؤُاْۖ زمونږ خوښه
وي(څنګه چې مونږ غواړو) إِنَّكَ لَأَنتَ ٱلۡحَلِيمُ ٱلرَّشِيدُ بیشکه ته(خو)
ډیر صبرناک(او)هوښیار یې(دا خبره دوی د احترام او عزت په خاطر
ونکړه،بلکې د استهزا په توګه یې وکړه.چې ګڼې په مونږ کې یوازې
همدا ته هوښیار یې،بل څوک نشته؟) ﴿٨٧﴾ قَالَ هغه«علیه السلام»ورته
وویلې يَٰقَوۡمِ ای زما قومه أَرَءَيۡتُمۡ آیا تاسو غور کړئ دی(په دې
خبره) إِن که چیرته كُنتُ یمه زه عَلَىٰ بَيِّنَةٖ په یو واضحه دلیل(او
معجزه)باندې مِّن رَّبِّي د خپل رب«جل جلاله»د طرفه(ستاسو دپاره د

الله تعالى پيغمبر) وَرَزَقَنِي او هغه«جل جلاله» رزق راکوي ما ته
مِنۡهُ د خپل طرف څخه رِزۡقًا حَسَنٗاۚ ښه رزق(په پيمانه او تله کې د
خيانت څخه پاک،نو بيا زه ولې تاسو ته د هغه«جل جلاله»پيغام درونه
رسوم؟) وَمَآ أُرِيدُ او زه نه غواړم أَنۡ چې أُخَالِفَكُمۡ ستاسو خلاف
إِلَىٰ مَآ هغه څه ته(لاس واچوم) أَنۡهَىٰكُمۡ عَنۡهُۚ د کوم څخه چې زه تاسو
منع کوم إِنۡ أُرِيدُ (او) زه نه غواړم(ستاسو دپاره) إِلَّا مګر(ستاسو)
ٱلۡإِصۡلَٰحَ اصلاح کول(غواړم چې د يوالله تعالى عبادت وکړئ او په
پيمانه او تللو کې خيانت کول پرېږدئ) مَا ٱسۡتَطَعۡتُۚ څومره چې زما
طاقت(او توان وي ستاسو د اصلاح کولو کوشش به کوم) وَمَا تَوۡفِيقِيٓ
او نشته توفيق زما(ستاسو په اصلاح کولو کې) إِلَّا مګر بِٱللَّهِۚ د الله
تعالى(په هدايت او کومک)سره(ستاسو د اصلاح کولو کوشش کوم)
عَلَيۡهِ (او) په هغه «جل جلاله) باندې تَوَكَّلۡتُ ما توکل کړئ دى
وَإِلَيۡهِ أُنِيبُ او هغه«جل جلاله»ته زه رجوع کوم. ﴿٨٨﴾ وَيَٰقَوۡمِ
او(همدارنګه ورته وايې چې:) اى زما قومه لَا يَجۡرِمَنَّكُمۡ شِقَاقِيٓ زما
(سره ستاسو ضد او) دښمني دې تاسو(داسې ګنهګار او)مجرمين نکړي
أَن چې يُصِيبَكُم تاسو ته(هم)درورسيږي مِّثۡلُ پشان مَآ د
هغه(عذاب کوم چې) أَصَابَ رسيدلئ و قَوۡمَ نُوحٍ د نوح عليه السلام
قوم ته أَوۡ يا(هغه عذاب چې رسيدلئ و) قَوۡمَ هُودٍ د هود عليه السلام
قوم ته أَوۡ يا(هغه عذاب چې رسيدلئ و) قَوۡمَ صَٰلِحٖۚ د صالح عليه
السلام قوم ته وَمَا او نه دى قَوۡمُ لُوطٖ د لوط عليه السلام قوم مِّنكُم
ستاسو څخه بِبَعِيدٖ لرې(د زمان او مکان په لحاظ يعنې د وخت او
ځاى په لحاظ،ځکه چې د تولو څخه وروستنه عذاب چې تاسو ته د وخت
په حساب نزدې دى،هغه د لوط عليه السلام قوم دى.) ﴿٨٩﴾ وَٱسۡتَغۡفِرُواْ
او(مخکې د دې څخه چې مو کوم شرک او په پيمانه او تول کې خيانت
کړئ دى،د هغې) بخښنه وغواړئ رَبَّكُمۡ د خپل رب«جل جلاله»نه ثُمَّ
بيا تُوبُوٓاْ رجوع وکړئ إِلَيۡهِۚ هغه«جل جلاله» ته(يعنې يوازې د الله
تعالى عبادت او بندګي کوئ او يوازې د الله تعالى حکومت او قانون
منئ) إِنَّ بېشکه رَبِّي زما رب«جل جلاله» رَحِيمٞ ډېر

مهربان(او) وَدُودٞ محبت کوونکئ دی.﴿٩٠﴾ قَالُواْ هغوی وویلې
يَٰشُعَيۡبُ ای شعیب«علیه السلامه» مَا نه نَفۡقَهُ پوهیږو مونږ. كَثِيرٗا
په ډیرو مِّمَّا د هغو(خبرو) تَقُولُ چې ته ئې وایې وَإِنَّا او پرته د
شک او شبهې څخه مونږ. لَنَرَىٰكَ مونږ ګورو تا(چې ته) فِينَا په
مونږ کې ضَعِيفٗاۖ یو ضعیف(او کمزوری انسان)ئې وَلَوۡ او که
چیرته لَا رَهۡطُكَ ستا کورنئ(اوخپلوان) نه ول لَرَجَمۡنَٰكَۖ خامخا به
مونږ ته سنګسار کړئ وې وَمَآ أَنتَ او ته نه ئې عَلَيۡنَا په مونږ
باندې بِعَزِيزٖ زورور ﴿٩١﴾ قَالَ هغه علیه السلام (ورته) وویلې
يَٰقَوۡمِ ای زما قومه أَرَهۡطِيٓ آیا زما کورنئ(او خپلوان) أَعَزُّ ډیر
زورور دي عَلَيۡكُم په تاسو باندې مِّنَ ٱللَّهِ د الله تعالی څخه(چې زما
د کورنئ او خپلوانو لحاظ کوئ،او ترې ویریږئ) وَٱتَّخَذۡتُمُوهُ وَرَآءَكُمۡ
ظِهۡرِيًّاۖ او الله تعالی مو شا ته غورځولئ دی(چې نه ترې ویریږئ،او نه
یې لحاظ کوئ، لیکن!) إِنَّ پرته د شک او شبهې څخه(حقیقت دا دی
چې) رَبِّي زما رب«جل جلاله» بِمَا په هغو(عملونو) تَعۡمَلُونَ چې
تاسو یې کوئ مُحِيطٞ احاطه کوونکئ دی(ستاسو هر عمل د الله تعالی
د علم او قدرت په احاطه کې دی،او د هر عمل جزا به درکړي) ﴿٩٢﴾
وَيَٰقَوۡمِ او(کله چې شعیب علیه السلام د د دوی څخه بالکل نا امیده شو
نو ویې ویل چې:) ای زما قومه ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ تاسو پخپله
طریقه(او کړنلاره) کار کوئ(یعنې خپله سرکشي کوئ،او څه غواړئ
زما په ضد، ویې کړئ إِنِّي عَٰمِلٞۖ (او) بېشکه زه(هم پخپله طریقه)کار
کوونکی یم(یعنې په صبر او استقامت سره د دعوت او تبلیغ کارکوم،او
د الله تعالی پیغام تاسو ته رسوم،خو!) سَوۡفَ خو ډیر زر به تَعۡلَمُونَ
تاسو پوه شئ مَن يَأۡتِيهِ چې په چا به راشې عَذَابٞ داسې عذاب
يُخۡزِيهِ چې هغه به وشرموي(یعنې زر به پوه شئ چه په چا باندې رسوا
کوونکی او شرمونکی عذاب راځي وَ او(همدارنګه زر به پوه شئ)
مَنۡ هُوَ كَٰذِبٞۖ چې څوک دروغجن دی(چې!آیا تاسو د دښمنئ او ضد په
سبب د پوهې سره زما نبوت دروغ ګڼئ،او که ما د دروغو د نبوت
دعوه کړې ده؟نو!) وَٱرۡتَقِبُوٓاْ تاسو(هم د الله تعالی د فیصلې) انتظار

کوئ إِنِّي (او) بېشکه زه(هم) مَعَكُمۡ ستاسو سره(د الله تعالی د
فيصلې) رَقِيبٞ منتظر يم ﴿٩٣﴾ وَلَمَّا او کله چې جَآءَ راغئ أَمۡرُنَا
عذاب زمونږ(په هغوی،نو!) نَجَّيۡنَا نجات ورکړو مونږ شُعَيۡبٗا
شعيب«عليه السلام» ته وَٱلَّذِينَ او هغو خلکو ته ءَامَنُواْ چې ايمان
يې راوړئ وو مَعَهُۥ د هغه«عليه السلام» سره بِرَحۡمَةٖ په رحمت
سره مِّنَّا زمونږ د طرف څخه(مونږ شعيب«عليه السلام» او د هغه
عليه السلام ملګرو ته په خپل رحمت سره د عذاب څخه نجات ورکړو)
وَأَخَذَتِ او ونيول ٱلَّذِينَ هغه خلک ظَلَمُواْ چې:هغوی ظلم(يعنې
شرک او په پيمانه او تول کې يې خيانت)کړئ وو ٱلصَّيۡحَةُ
يوې(هيبتناکې او لړزونکې) چغې فَأَصۡبَحُواْ نو شو هغوی فِي دِيَٰرِهِمۡ
په خپلو کورونو کې جَٰثِمِينَ پرمخې مړه پراته(يعنې مړی يې پرمخې
نسکور پراته وو،او داسې تباه شو ) ﴿٩٤﴾ كَأَن لکه چې لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ
هغوی هيڅ اوسيدلي نه وو فِيهَآۗ په دې (کورونو)کې(د دې څخه
مخکې) أَلَا خبردار بُعۡدٗا لرې دې وي(د الله تعالی د رحمت څخه،او
هلاکت دې وي) لِّمَدۡيَنَ مدينيانو ته كَمَا لکه څنګه چې بَعِدَتۡ لرې
شو(د الله تعالی د رحمت څخه،او هلاک شو) ثَمُودُ ثموديان. ﴿٩٥﴾

وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا مُوسَىٰ بِـَٔايَٰتِنَا وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَإِيْهِۦ
فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ وَمَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ ﴿٩٧﴾ يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ
فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ وَبِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ﴿٩٨﴾ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِۦ لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ
ٱلۡقِيَٰمَةِۚ بِئۡسَ ٱلرِّفۡدُ ٱلۡمَرۡفُودُ ﴿٩٩﴾ ذَٰلِكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ مِنۡهَا
قَآئِمٞ وَحَصِيدٞ ﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡۖ فَمَآ أَغۡنَتۡ عَنۡهُمۡ
ءَالِهَتُهُمُ ٱلَّتِي يَدۡعُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖ لَّمَّا جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ وَمَا
زَادُوهُمۡ غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ ﴿١٠١﴾ وَكَذَٰلِكَ أَخۡذُ رَبِّكَ إِذَآ أَخَذَ ٱلۡقُرَىٰ وَهِيَ ظَٰلِمَةٌۚ
إِنَّ أَخۡذَهُۥٓ أَلِيمٞ شَدِيدٌ ﴿١٠٢﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لِّمَنۡ خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ
ذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ وَذَٰلِكَ يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ إِلَّا

لِأَجَلٍ مَّعۡدُودٍ ﴿١٠٤﴾ يَوۡمَ يَأۡتِ لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ إِلَّا بِإِذۡنِهِۦۚ فَمِنۡهُمۡ شَقِيٌّ وَسَعِيدٌ
﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُواْ فَفِي ٱلنَّارِ لَهُمۡ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ ﴿١٠٦﴾

وَلَقَدۡ او بېشکه أَرۡسَلۡنَا لیږلئ و مونږ مُوسَىٰ موسی علیه السلام
بِـَٔايَٰتِنَا د خپلو معجزو وَسُلۡطَٰنٖ مُّبِينٍ او واضحه(اوقطعي) ثبوت
سره ﴿٩٦﴾ إِلَىٰ فِرۡعَوۡنَ فرعون ته وَمَلَإِيْهِۦ او د هغه سردارانو
ته(خو فرعون ایمان رانوړو،او په خپل کفر او سرکشئ کلک شو)
فَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ فِرۡعَوۡنَۖ او هغوی(یعنې سردارانو هم د موسی علیه
السلام دعوت قبول نکړو،او) د فرعون د امر(او رایې) پیروي یې
وکړه وَ حال دا چې: مَآ أَمۡرُ فِرۡعَوۡنَ بِرَشِيدٖ د فرعون امر(او
رایه) درسته (او صحیح نه وه(ځکه چې پخپله هم دوزخي شو او قوم
یې هم جهنم ته کش کړو،چې!) ﴿٩٧﴾ يَقۡدُمُ قَوۡمَهُۥ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ د قیامت
په ورځ به د خپل قوم په مخ کې(روان) وي فَأَوۡرَدَهُمُ ٱلنَّارَۖ او اور
ته به یې ننه باسي وَ او(دا اور) بِئۡسَ ٱلۡوِرۡدُ ٱلۡمَوۡرُودُ ډېر بد ځای
دی،کوم ته چې هغوی ورننه کیږي(د فرعون په رهبری سره)
﴿٩٨﴾ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِۦ لَعۡنَةٗ او په دې دنیا کې (هم) لعنت ورپسي دی
وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۚ او د قیامت په ورځ(به هم ورپسي وی،او) بِئۡسَ ٱلرِّفۡدُ
ٱلۡمَرۡفُودُ دا( لعنت) ډېره بده تحفه ده چې هغوی ته ورکول کیږي(په
دنیا او آخرت کې د هغوی د اعمالو په سبب) ﴿٩٩﴾ ذَٰلِكَ دا(چې ذکر
شو) مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلۡقُرَىٰ د(پخوانیو هلاک شوو قومونو د) کلو(او
ښارونو) خبرونه نَقُصُّهُۥ عَلَيۡكَۖ چې مونږ ئې تا ته بیانوو مِنۡهَا قَآئِمٞ
ځینې د دي(کلو او ښارونو)ځخه(اوس هم)موجود دي(یعنې کنډرې او
نښې یې اوس هم شته دی) وَ او (ځینې کلې او ښارونه) حَصِيدٞ
بالکل ختم شوي دي(یعنې کنډرې او نښې یې هم موجود نه دي)
﴿١٠٠﴾ وَمَا ظَلَمۡنَٰهُمۡ او مونږ په هغوی ظلم نه و کړئ(چې هلاک مو
کړل) وَلَٰكِن ظَلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمۡۖ لیکن هغوی پخپله په خپلو ځانونو ظلم
کړئ وو(هغوی پخپله ځانونه د الله تعالی د عذاب او هلاکت مستحق

کړي وو،هغوی وو چې د الله تعالی سره يې شرک کولو،هغوی وو
چې په خپلو لاسونو يې بتان جوړول او عبادت به يې ورته
کولو،هغوی وو چې انسانانو او قبرونو ته يې د الله تعالی صفتونه
ورکړي و، حاجتونه به يې ترې غوښتل او د تعظيم سجدې به يې
ورته کولې) فَمَآ أَغۡنَتۡ نو دفع (او لرې) نکړو عَنۡهُمۡ د هغوی
څخه ءَالِهَتُهُمُ معبودانو(او خدايانو) د هغوی ٱلَّتِي هغه(معبودان
او خدايان،کومو ته به چې د مشکلاتو د حل او حاجتونو د غوښتلو
دپاره:) يَدۡعُونَ هغوی نارې وهلې(رابلل به يې،سوالونه به يې
ورته کول) مِن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه(يعنې د الله تعالی
څخه پرته د بتانو،انسانانو او قبرونو څخه به يې خپل حاجتونه پوره
کول غوښتل،نو دې خدايانو او معبودانو!) مِن شَيۡءٖ هيڅ شې( ترې
د الله تعالی د عذاب څخه دفع او لرې نکړو) لَّمَّا جَآءَ أَمۡرُ رَبِّكَۖ کله
چې ستا د رب«جل جلاله» عذاب(وربانديې)راغئ وَمَا زَادُوهُمۡ او
دوی(يعنې د هغوی باطلو خدايانو او معبودانو) زياته نکړه هغوی
ته(څه فايده او ګټه) غَيۡرَ تَتۡبِيبٖ پرته د هلاکت څخه(يعنې د دې
باطلو خدايانو او معبودانو د بندګئ او عبادت په سبب هلاک شول)
﴿١٠١﴾
وَكَذَٰلِكَ او همدارنګه أَخۡذُ نيول رَبِّكَ ستا درب«جل جلاله»
إِذَآ کله چې: أَخَذَ هغه«جل جلاله»نيسې ٱلۡقُرَىٰ څه کلې(يا
ښارونه) وَ په داسې حال کې چې هِيَ هغه(د کلو يا ښارونو
خلک مشرکان او) ظَٰلِمَةٌۚ ظالمان وي إِنَّ نو پرته د شک او شبهې
څخه چې: أَخۡذَهُۥٓ نيول د هغه«جل جلاله» أَلِيمٞ ډېر زيات درد ناک
شَدِيدٌ او سخت دي. ﴿١٠٢﴾ إِنَّ پرته د شک څخه فِي ذَٰلِكَ په دې(د
پخوانيو قومونو په واقعاتو)کې لَأٓيَةٗ عبرت(او د الله تعالی د قدرت
نښانې) دي لِّمَنۡ هغه چا ته خَافَ عَذَابَ ٱلۡأٓخِرَةِۚ چې هغه د آخرت
د عذاب څخه ويرېږي.(يعنې د قيامت د ورځې د حساب او عذاب
څخه ويرېږي،او) ذَٰلِكَ دا(د قيامت ورځ) يَوۡمٞ مَّجۡمُوعٞ لَّهُ ٱلنَّاسُ
هغه«جل جلاله» ته د انسانانو د راټوليدلو ورځ ده وَذَٰلِكَ او دا(د

قيامت يا د آخرت لومړنۍ ورځ) يَوۡمٞ مَّشۡهُودٞ (د الله تعالى په
حضور كې) د حاضريدلو ورځ ده. ﴿١٠٣﴾ وَمَا نُؤَخِّرُهُۥٓ او مونږ
هغه(يعني د قيامت ورځ) نه وروسته كوو إِلَّا مګر لِأَجَلٖ مَّعۡدُودٖ د
يو معلوم وخت(پورې.يعني د قيامت ورځ د كائناتو د تخليقي سكيم او
د الله تعالى د علم او حكمت مطابق په يو معلوم وخت كې راځي،نه د
هغه څخه مخكې او نه وروسته.مطلب دا چې دا د الله تعالى د علم او
حكمت تقاضاء ده چې قيامت څه موده وروسته راځي،چې د دې هر
ګز دا مقصد نه دی چې قيامت نه راځي لكه ملحدين او د قيامت څخه
منكران چې فكر كوي.او) ﴿١٠٤﴾ (كله چې د قيامت) يَوۡمَ يَأۡتِ ورځ
راشي لَا تَكَلَّمُ نَفۡسٌ هيڅوک به خبرې نشي كولئ إِلَّا مګر(كه
څوک څه خبره يا عرض كوي) بِإِذۡنِهِۦۚ د هغه«جل جلاله»په اجازه
به يې كوي(يعني پرته د الله تعالى د اجازې څخه هيڅوک خبرې نشي
كولئ.څومره خلک چې د آدم عليه السلام څخه د قيامت پورې دنيا ته
راغلي دي،دوی ټول به د حشر په ميدان كې د الله تعالى په حضور
كې حاضر وي،) فَمِنۡهُمۡ چې د دوی څخه به ځينې شَقِيّٞ بد
بخته(او بد مرغه) (او(د دوی څخه به ځينې) وَ سَعِيدٞ نيكبخته(او
نيک مرغه) وي ﴿١٠٥﴾ فَأَمَّا په ارتباط (يا په اړه) ٱلَّذِينَ د هغو
خلكو شَقُواْ چې هغوی بد بخته دي فَفِي ٱلنَّارِ نو(هغوی)به په
اور كې وي لَهُمۡ فِيهَا چې د هغوی دپاره به په هغې(اور)كې زَفِيرٞ
زفير وَشَهِيقٌ او شهيق وي(زفير د خر هغه اواز دی چې د هوا د
خارجولو په وخت كې يې د خولې څخه وباسي،او شهيق د خر هغه
اواز دی چې د هوا د اخستلو په وخت كې يې د خولې څخه وځي،دا
په دې معنی چې په دوزخ كې به د هغوی اوازونه د خرو په شان
وي،يعني ينګيرې به يا هنګيرې به.) ﴿١٠٦﴾

خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ ﴿١٠٧﴾ ۞ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُواْ فَفِي ٱلۡجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلۡأَرۡضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَۖ عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ ﴿١٠٨﴾

مخکې ذکر شو چې:بد بخته خلک به اور ته ځي، اوازونه به يې د خرو پشان وي،او!

خَٰلِدِينَ فِيهَا همیشه به په هغې( اور) کې اوسیږي مَا دَامَتِ تر څو پورې(چې د آخرت) ٱلسَّمَٰوَٰتُ آسمانونه وَٱلۡأَرۡضُ او ځمکه قائم وي(دا اصطلاح د لا محدود یا لایتناهي وخت دپاره استعمالیږي) إِلَّا مگر مَا هغه څه چې شَآءَ رَبُّكَۚ ستارب وغواړي(هغه«جل جلاله»یې د کولو مکمل اختیار،صلاحیت او قدرت لري،پرته د هغه«جل جلاله» څخه بل هیڅ طاقت نشته چې څوک د دوزخ د دائمي عذاب څخه بچ کړي،لیکن که پخپله الله تعالی د چا حال او انجام بدلول وغواړي یا چا ته د ابدي عذاب ورکولو په ځای د یو وخت پورې عذاب ورکړي او بیا ئې د معاف کولو فیصله وفرمایې،یا دوزخ بالکل ختم کړي،نو داسې کول د الله تعالی پوره اختیار او صلاحیت دی،ځکه چې د خپل قانون نافذ کوونکی هغه«جل جلاله» پخپله دی،او د ده«جل جلاله»د قانون څخه پرته بل داسې پورته او لوړ قانون نشته چې د ده«جل جلاله» لا محدوده اختیارات او صلاحیتونه محدود کړي.«والله اعلم») إِنَّ بیشکه رَبَّكَ رب ستا فَعَّالٞ کوونکی(سر ته رسونکی) دی لِّمَا د هغه څه يُرِيدُ چې هغه«جل جلاله»ئې غواړي(یعنې بشپړ واکمن او پوره اختیار لرې، چې څه غواړي هغه کوي،نه یې څوک اختیارات کمولئ شي،نه وربانديې څوک اعتراض کولئ شي او نه څوک د اعتراض حق لري) ﴿١٠٧﴾ ۞ وَأَمَّا او پاتې شو ٱلَّذِينَ هغه خلک سُعِدُواْ چې: نیک مرغه(او نیکبخته)شوي دي فَفِي ٱلۡجَنَّةِ نو دوی به په جنت کې وي

خَٰلِدِينَ فِيهَا همشه به په هغه(جنت)كې وي مَا دَامَتِ تر څو پورې
ٱلسَّمَٰوَٰتُ چې(د آخرت) آسمانونه وَٱلۡأَرۡضُ او ځمكه وي إِلَّا مَا
شَآءَ رَبُّكَۖ مگر هغه څه چې ستا رب وغواړي(يعني كه الله تعالى د
دوى د قسمت بدلول وغواړي،هغه جل جلاله ته د بدلولو پوره اختيار
او صلاحيت دى«والله اعلم») عَطَآءً غَيۡرَ مَجۡذُوذٖ (دا) نه ختميدونكى
بخشش دى ﴿١٠٨﴾

فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ مِّمَّا يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ مَا يَعۡبُدُونَ إِلَّا كَمَا يَعۡبُدُ ءَابَآؤُهُم مِّن
قَبۡلُۚ وَإِنَّا لَمُوَفُّوهُمۡ نَصِيبَهُمۡ غَيۡرَ مَنقُوصٖ ﴿١٠٩﴾

اوس خطاب نبي عليه السلام ته دى،ليكن مقصد تول امت دى!

فَلَا تَكُ فِي مِرۡيَةٖ پس ته مه په شك كې كيږه مِّمَّا د هغه څه نه
يَعۡبُدُ هَٰٓؤُلَآءِۚ چې دا خلك يې عبادت كوي(يعني ځوك بايد په دې
شك كې نشي،چې دا دومره خلك چې:د غيرالله عبادت
كوي،حاجتونه او دعاگانې ترې غواړي،آخر دوى به يكې څه ښه او
بد ليدلي وي چې د فايدې او ضرر اميدونه ورځخه كوي، ليكن
حقيقت دا دى چې:) مَا يَعۡبُدُونَ دوى بندگې(او عبادت) نكوي(د
داسې چا چې:واقعاً دوى ته څه فايده رسولاى شي،يعني يا دولت
وركړي،يا عزت او شهرت وركړي او يا يې حاجتونه پوره كړي.)
إِلَّا مگر(برعكس دوى د هغوى حاجتونه پوره كوي،د دوى په
شكرانو او نذرونو د هغوى دربارونه او لنگرونه چليږي او دنياوي
حاجتونه يې پوره كيږي،او دوى كټ مټ په پټو سترگو د دې غلطو
خدايانو او معبودانو داسې بندگي كوي) كَمَا لكه ځنگه چې يَعۡبُدُ
ءَابَآؤُهُم مِّن قَبۡلُۚ د ددوى څخه مخكې د دوى پلرونو او نيكونو(د
تيرو او انساني معبودانو عبادت) او بندگې كوله(يعني دا د غيرالله
عبادتونه، نذرونه، او دعاگانې د كوم علم،كومې تجربې او كومې
حقيقي مشاهدې په اساس نه دي،بلكې د پخوانيو خلكو ړوند تقليد او د
قران او سنتو خلاف بې ثبوته روايتي كرامتونه دى،چې په خلكو كې

مشهور دي،او د قرآن او سنتو څخه بې خبره او بې علمه خلک يې د غيرالله په بندګی مجبور کړي دي. وَإِنَّا او بېشکه مونږ (هم) لَمُوَفُّوهُمۡ خامخا پوره-پوره ورکوونکې يو دوی ته نَصِيبَهُمۡ حصه د دوی غَيۡرَ مَنقُوصٖ پرته د څه کموالې څخه(يعني په دنيا کې خپله برخه نعمتونه او په آخرت کې خپله برخه عذاب پوره ورکول کيږي) ﴿١٠٩﴾

وَلَقَدۡ ءَاتَيۡنَا مُوسَى ٱلۡكِتَٰبَ فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ وَإِنَّهُمۡ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ ﴿١١٠﴾

وَلَقَدۡ بېشکه ءَاتَيۡنَا ورکړئ و مونږ مُوسَى موسی عليه السلام ته ٱلۡكِتَٰبَ کتاب(يعني تورات) فَٱخۡتُلِفَ فِيهِۚ نو(د موسی عليه السلام د امتيانو د خوا نه)په کې اختلاف شروع شو(مختلفې ډلې جوړې شوي،او هرې ډلې د خپلې ډلې د صحيح ثابتولو دپاره د تورات د آياتونو تفسير پخپله خوښه د ځان په ګټه کولو،او هرې ډلې کوشش کولو چې ځانونه په حقه او نور غلط ثابت کړي،د بده مرغه چې همدا مرض اوس د محمد«صلی الله عليه وسلم»په امتيانو کې هم راکډ شوئ دی،ډېرې فرقې او ډلې جوړې شوي دي،هر يوه فرقه ځان ته حق پرست او نورو ته باطل پرست وايي،هره فرقه د قرآن د آياتونو تفسير لکه د بني آسرائيلو د علماوو پشان په خپله خوښه د ځان په ګټه کوي،هره فرقه ځانونو ته جنتيان او نورو ته دوزخيان وايي،ځيني خو پرته د خپلې فرقې د خلکو څخه نورو ټولو ته کافر وايي، او لوی ظلم خو دا دی چې:د دنيايي عزت او شهرت دپاره دا هرڅه د قرآن څخه خلکو ته ثابتول غواړي،تر دې چې ځيني خو د الله تعالی صفتونه د الله تعالی بندګانو ته ورکول هم خلکو ته د قرآن څخه ثابتول

غواړي،چې دا کار د قرآن د آیاتونو د تفسیر بالرایه یا په خپله خوښه د تفسیر کولو پواسطه کوي،الحمد لله چې د قرآن حفاظت پخپله الله تعالی کوي،او که نه نو!اکثرو خو به د قرآن الفاظ هم لکه د بني اسرآئیلو پشان بدل کړي وو.) وَلَوۡلَا كَلِمَةٞ سَبَقَتۡ مِن رَّبِّكَ خو که چیرته د مخکې څخه ستا د رب فیصله موجود نه وه(چې د دې ظالمانو سره به د قیامت په ورځ حساب کیږي،او سزا او جزا به ورکول کیږي،نو!) لَقُضِيَ بَيۡنَهُمۡۚ خامخا به د دوی تر منځ(په دنیا کې)فیصله شوي وه(یعنې جزا او سزا به همدلته ورکول شوي وه،لیکن دا د الله تعالی د علم او حکمت تقاضاء ده چې:په دنیا کې د امتحان د ورکولو او د توبې دپاره مهلت او وخت ورکوي) وَإِنَّهُمۡ او(حقیقت دا دی)چې پرته د شک څخه دوی(یعنې دا د دین توتې کوونکې) لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُ مُرِيبٖ خامخا د دغه(قرآن)په باره کې په زیات شک کې دي(یعنې په خوله خو ډېرې لویې او غټې دعوې کوي، لیکن په زړه کې په شک کې دي چې آیا په ریښتیا به پس د مرګ څخه ژوند وي که نه؟آیا د الله تعالی مخې ته ودریدل،حساب او کتاب،جنت او دوزخ به وي او که نه؟ځکه چې د اعمالو څخه یې ښکاره معلومیږي چې:د آخرت،جنت او دوزخ په باره کې په شک کې دي،بلکې زیات میلان یې د نه منلو خوا ته دی،ځکه چې نه په کې د جنت شوق لیدل کیږي،او نه د جهنم څخه ویره......) ﴿۱۱۰﴾

وَإِنَّ كُلّٗا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمۡ رَبُّكَ أَعۡمَٰلَهُمۡۚ إِنَّهُۥ بِمَا يَعۡمَلُونَ خَبِيرٞ ﴿۱۱۱﴾

وَإِنَّ او پرته د شک او شبهې څخه( د الله تعالی په کتاب او دین کې اختلاف کوونکو او شک کوونکو ته) كُلّٗا لَّمَّا لَيُوَفِّيَنَّهُمۡ دوی هر یو ته کله چې(بیا راژوندي شي،د قیامت په ورځ) به پوره-پوره ورکړي رَبُّكَ رب ستا أَعۡمَٰلَهُمۡۚ (بدل او جزا) د عملونو د دوی إِنَّهُۥ بېشکه

هغه«جل جلاله» بِمَا په هغو(اعمالو) يَعۡمَلُونَ چې دوی يې کوي
خَبِيرٞ ښه خبر دی ﴿١١١﴾

فَٱسۡتَقِمۡ كَمَآ أُمِرۡتَ وَمَن تَابَ مَعَكَ وَلَا تَطۡغَوۡاْ إِنَّهُۥ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ
﴿١١٢﴾

په دې مبارک آيت کې خطاب نبي«صلی الله عليه وسلم»ته دی،او مراد
ټول امت دی.فرمايي!

فَٱسۡتَقِمۡ نو ته کلک اوسه(په دين باندې،داسې!) كَمَآ لکه څنګه
چې: أُمِرۡتَ تا ته حکم شوئ دی(په قرآن کې.يعني کوم دين چې په
قرآن کی دی،په هغه عمل وکړه،او د هغه مطابق د دين تبليغ وکړه)
وَمَن او(هغه څوک دې هم د قرآن مطابق په دين باندې کلک عمل
وکړي) چا چې تَابَ توبه ويستلې(په قرآن او دين کې د اختلافاتو
څخه) مَعَكَ ستا سره وَلَا تَطۡغَوۡاْ او د حدودو څخه مه
تيريږئ(يعني په دين باندې په کلکيدلو کې د حدودو څخه تجاوز مه
کوئ،دا په دې معنی چې د مستحب څخه فرض او د غيرلازم څخه
لازم مه جوړوئ،مثلاً انسان په ځان باندې شپږ لمنځونه فرض وګڼې
يا د يوې مياشتې په ځای دوه مياشتې روژې نيسي،يا ټوله شپه لمونځ
کوي او نه اوده کيږي،يا انسان ټول عمر روژې نيسي....دا طغيان
دی) إِنَّهُۥ بېشکه هغه«جل جلاله» بِمَا په هغو(عملونو)باندې
تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې کوئ بَصِيرٞ ليدونکئ دی ﴿١١٢﴾

وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ إِلَى ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ ٱللَّهِ مِنۡ
أَوۡلِيَآءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ ﴿١١٣﴾

وَلَا تَرۡكَنُوٓاْ او مه مائله کیږئ إِلَى ٱلَّذِينَ هغو خلکو ته ظَلَمُواْ چې شرک(او کفر)کوي(د قرآن د هدایت خلاف په دین کې اختلافات پیدا کوي، په ډلو او فرقو یې ویشي، د دین د عنوان لاندې په ډاګه د الله تعالی سره شرک او بدعتونه کوي،هره فرقه خپل ملګرې جنتیان او نور دوزخیان ګڼې،نو د داسې خلکو د ملګرې او دوستۍ څخه ځانونه وساتئ،او که داسې ونکړئ،ورسره ملګرې شئ او د هغوی ډلې او فرقې تقویه کړئ،نو جنت خو به په سترګو هم ونګورئ،بلکې!) فَتَمَسَّكُمُ ٱلنَّارُ د اور (عذاب) به مو ونیسې(یعنې تاسو به هم جهنم کې واچول شئ) وَمَا لَكُم او(په هغه وخت کې به بیا) نه وي تاسو ته مِّن دُونِ ٱللَّهِ پرته د الله تعالی څخه مِنۡ أَوۡلِيَآءَ هیڅ څوک دوست(د دې فرقو او ډلو څخه د کومو چې:تاسو په دنیا کې په پټو سترګو پیروي کوله،تر څو چې د اور د عذاب څخه مو خلاص کړي ځکه چې:هغوی به هم ستاسو پشان په اور کې پراته وي،او) ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ وروسته به(هم)ستاسو سره کومک نه کیږي ﴿١١٣﴾

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ لِلذَّٰكِرِينَ ﴿١١٤﴾

وَأَقِمِ ٱلصَّلَوٰةَ طَرَفَيِ ٱلنَّهَارِ وَزُلَفٗا مِّنَ ٱلَّيۡلِۚ او د ورځې په دواړو طرفونو(یعنې د سهار او مازیګر طرفونو) او د شپې په څه برخه کې لمونځ کوه(یعنې پینځه وخته فرض لمونځ کوه) إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ بېشکه نیکۍ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ ګناهونه د منځه وړي ذَٰلِكَ ذِكۡرَىٰ دا نصیحت دی لِلذَّٰكِرِينَ د نصیحت قبلوونکو دپاره. ﴿١١٤﴾

وَٱصۡبِرۡ فَإِنَّ ٱللَّهَ لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١١٥﴾

وَٱصۡبِرۡ او صبرکوه فَإِنَّ ٱللَّهَ بېشکه الله تعالی لَا يُضِيعُ أَجۡرَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ د نیکانو اجر نه ضایع کوي. ﴿١١٥﴾

فَلَوۡلَا كَانَ مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِن قَبۡلِكُمۡ أُوْلُواْ بَقِيَّةٖ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلۡفَسَادِ فِي ٱلۡأَرۡضِ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّنۡ أَنجَيۡنَا مِنۡهُمۡۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتۡرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجۡرِمِينَ ﴿١١٦﴾

فَلَوۡلَا كَانَ نو ولې نه ول مِنَ ٱلۡقُرُونِ مِن قَبۡلِكُمۡ ستاسو څخه په مخکينيو امتونو کې(داسې) أُوْلُواْ بَقِيَّةٖ د عقل خاوندان يَنۡهَوۡنَ چې منعه کړي ئې ول(خلک) عَنِ ٱلۡفَسَادِ د فساد څخه فِي ٱلۡأَرۡضِ په ځمکه کې إِلَّا مګر(که داسې خلک ول هم) قَلِيلٗا ډېر کم وو مِّمَّنۡ د چا چې أَنجَيۡنَا مونږ ژغورنه وکړه مِنۡهُمۡۗ د هغوی څخه(يعني کله چې پخواني امتونه دې حد ته ورسيدل چې دومره خلک په کې پاتې نشول چې څوک يې د ګناه څخه منعه کړئ و،يعني نهې عن المنکر يې کړئ وو،او که داسې خلک ول هم،خو ډېر کم وو) وَٱتَّبَعَ او پيروي وکړه ٱلَّذِينَ هغو خلکو چې ظَلَمُواْ ظلم يې کړئ وو مَآ د هغه څه أُتۡرِفُواْ فِيهِ چې دوی ته په هغې کې اسودګې ورکول شوي وه(يعني ټول کوششونه او هلې ځلې يې صرف د دنيا او د نفسي خواهشاتو د پوره کولو دپاره وي،هر کار يې د عيش او ارام دپاره کولو،په دين باندې د پوهيدلو او عمل کولو فکر ورسره نه وو،نو الله تعالی دا لږ مؤمنان ترې بيل کړل،او په ظالمانو باندې عذاب نازل شو ) وَكَانُواْ مُجۡرِمِينَ او هغوی مجرمان وو(يعني داسې نه وه چې دوی بې ګناه وو او عذاب وربانډې نازل شو،بلکې دوی په حقايقو د پوهيدلو سره-سره سرکشه او د عذاب مستحق وو) ﴿١١٦﴾

وَمَا كَانَ رَبُّكَ لِيُهۡلِكَ ٱلۡقُرَىٰ بِظُلۡمٖ وَأَهۡلُهَا مُصۡلِحُونَ ﴿١١٧﴾

وَمَا كَانَ رَبُّكَ او ستا رب«جل جلاله»داسې نه دی لِيُهۡلِكَ چې هلاک(او تباه) کړي ٱلۡقُرَىٰ کلي(او ښارونه) بِظُلۡمٖ په ظلم باندې وَ په داسې حال کې أَهۡلُهَا چې اوسیدونکي د هغې(کلو او ښارونو) مُصۡلِحُونَ مصلحان (نیکان مؤمنان) وي(یعنې الله تعالی په دنیا او آخرت کې د خپلو بندګانو سره معامله د عدل او انصاف په اساس باندې کوي،نه د ظللم په اساس) ﴿١١٧﴾

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗۖ وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ ﴿١١٨﴾

وَلَوۡ شَآءَ رَبُّكَ او که ستا رب«جل جلاله»غوښتلی لَجَعَلَ ٱلنَّاسَ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗۖ په یقیني توګه ټول انسانان به یې یوه ډله(او د یو دین پیروان)ګرځولي وو(چې نه به یې په دین کې اختلافات کول او نه به یې د الله تعالی نافرماني کوله،لکه ملائکې،لیکن الله تعالی انسان ته ازادي او اختیار او د اختیار د استعمالولو وسایل او د سمې او کږې لارې د انتخابولو علم او پوهه ورکړې،تر څو خپله لار په خپله وټاکي،معلومه ده چې د انسانو فکرونه او خیالونه یو دبل سره فرق لري.دا په دې معنی چې د انسانانو تر منځ اختلافات د هغوی د ازادی او اختیار طبیعي پایله ده ) وَلَا يَزَالُونَ مُخۡتَلِفِينَ او دوی به تل په اختلاف کې وي(ځکه چې د اختلاف شتون د انسانانو د امتحان او ازمیښت دپاره دی،تر څو وکولای شي چې د حق او باطل تر منځ انتخاب وکړي،او د الهي حکمت برخه ده) ﴿١١٨﴾

ۨلَّا مَن رَّحِمَ رَبُّكَۚ وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ ﴿١١٩﴾

ۨلَّا مگر (هغه ځوک به د اختلاف د ګمراهۍ څخه بچ وي) مَن په چا چې(د هغه د نیکو اعمالو په سبب) رَّحِمَ رَبُّكَ ستا رب«جل جلاله) رحم کړئ وي. وَلِذَٰلِكَ خَلَقَهُمۡۗ او د همدې دپاره هغه«جل جلاله» دوی پیداکړي دي(چې په دنیا کې د امتحان د ورکولو دپاره په خپله اراده او ازاد اختیار سره هر يو یا د جنت او یا د دوزخ لار انتخاب کړي) وَتَمَّتۡ كَلِمَةُ رَبِّكَ او ستا د رب«جل جلاله»(هغه خبره پوره شوې ده لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنَ ٱلۡجِنَّةِ وَٱلنَّاسِ أَجۡمَعِينَ چې زه به خامخا دوزخ د(نافرمانه او سرکشو) پیریانو او انسانانو څخه ډکوم. ﴿١١٩﴾

وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ ﴿١٢٠﴾

وَكُلّٗا نَّقُصُّ عَلَيۡكَ مِنۡ أَنۢبَآءِ ٱلرُّسُلِ او(ای محمد«صلی الله علیه وسلم»)مونږ تا ته د پیغمبرانو«علیهم السلام» قصې په تفصیل سره بیانوو مَا نُثَبِّتُ بِهِۦ فُؤَادَكَۚ چې ستا زړه پرې کلک او مطمئن کړو وَجَآءَكَ فِي هَٰذِهِ ٱلۡحَقُّ وَمَوۡعِظَةٞ وَذِكۡرَىٰ لِلۡمُؤۡمِنِينَ او دې(قصو)کې تا ته حق او مؤمنانو ته نصیحت او یادونه راغلې دي ﴿١٢٠﴾

وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ إِنَّا عَٰمِلُونَ ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓاْ إِنَّا مُنتَظِرُونَ ﴿١٢٢﴾

وَقُل لِّلَّذِينَ لَا يُؤۡمِنُونَ او هغو خلكو ته ووايه چې ايمان نه راوړي
چې: ٱعۡمَلُواْ عَلَىٰ مَكَانَتِكُمۡ تاسو په خپله طريقه عمل كوئ إِنَّا
عَٰمِلُونَ (او)پرته د شک څخه مونږ(په خپله طريقه) عمل كوونكي
يو ﴿١٢١﴾ وَٱنتَظِرُوٓاْ او تاسو (هم د الله تعالى د فيصلې) انتظار كوئ
إِنَّا مُنتَظِرُونَ (او)پرته د شک څخه مونږ(هم د الله تعالى د فيصلې)
انتظار كوونكې يو ﴿١٢٢﴾

وَلِلَّهِ غَيۡبُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ وَإِلَيۡهِ يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ فَٱعۡبُدۡهُ وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ
وَمَا رَبُّكَ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ﴿١٢٣﴾

وَلِلَّهِ او خاص الله تعالى ته دى(علم) غَيۡبُ د پټو شيانو ٱلسَّمَٰوَٰتِ د
آسمانونو وَٱلۡأَرۡضِ او د ځمكې وَإِلَيۡهِ او خاص هغه«جل جلاله»
ته يُرۡجَعُ ٱلۡأَمۡرُ كُلُّهُۥ ټول امور(او كارونو) ورګرځول كيږي
فَٱعۡبُدۡهُ نو د هغه«جل جلاله» بندګې كوه وَتَوَكَّلۡ عَلَيۡهِۚ او په
هغه«جل جلاله» باندې توكل كوه وَمَا او نه دى رَبُّكَ رب ستا
بِغَٰفِلٍ بې خبره عَمَّا د هغو اعمالو څخه تَعۡمَلُونَ چې تاسو يې
كوئ. ﴿١٢٣﴾

بارک الله لی ولكم فی القرآن العظيم و نفعنى و اياكم
بالآيات و الذكر الحكيم.

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

# سورة يوسف

الٓرۚ تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ ﴿١﴾

الٓرۚ دا حروف مقطعات دي چې په معنی يې يوازې الله تعالی پوهيږي تِلۡكَ ءَايَٰتُ ٱلۡكِتَٰبِ ٱلۡمُبِينِ دا د ډېر واضحه كتاب( قرانكريم)آيتونه دي(يعني كوم آيتونه چې په دې سورت كې دي،دا د تاريخ پوهانو او عامو خلكو خبرې نه دي بلكې دا د قرآنكريم آيتونه دي چې د وحې پواسطه نازل شوي دي) ﴿١﴾

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ ﴿٢﴾

إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيّٗا پرته د شک څخه مونږ دا قرآن په عربې(ژبه)نازل كړ لَّعَلَّكُمۡ تَعۡقِلُونَ د دې دپاره چې تاسو تعقل(او تدبر) وكړئ(يعني كومو خلكو ته چې د لومړي ځل دپاره قرآن ورسيدو،د هغوې په ژبه يې نازل كړو،تر څو چې:د الله تعالی آيتونه درک او تدبر او تفكر پرې وكړي،دا په دې معنې چې د قرآن د نازليدلو مقصد يوازې تلاوت او حفظ نه دي،بلكې دا كتاب د دې

دپاره دی چې:خلک یې سم درک کړي،ځانونه ورباندې پوه کړي،غور،فکر او عمل پرې وکړي) ﴿٢﴾

نَحۡنُ نَقُصُّ عَلَيۡكَ أَحۡسَنَ ٱلۡقَصَصِ بِمَآ أَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡكَ هَٰذَا ٱلۡقُرۡءَانَ وَإِن كُنتَ مِن قَبۡلِهِۦ لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ ﴿٣﴾

اوس خطاب نبي عليه السلام ته دی خو مقصد ټول امت دی،يعنې هر څوک چې تلاوت کوي،هغه ته هم خطاب دی.فرمايي!

(ای محمد«صلی الله عليه وسلم») نَحۡنُ مونږ نَقُصُّ بيانوو عَلَيۡكَ تا ته أَحۡسَنَ ډېره ښايسته(د پند او عبرت نه ډکه ريښتينې) ٱلۡقَصَصِ قصه بِمَآ ځکه چې أَوۡحَيۡنَآ وحي کړې دی مونږ إِلَيۡكَ تا ته هَٰذَا دا ٱلۡقُرۡءَانَ قران(او دا قصه د قرآن د وحې يوه برخه ده،دا په دې معنې چې:د تاريخ پوهانو او عامو انسانو روايتونه نه دي،او د خلکو د جوړو شوو قصو پشان دروغ او د حقيقت څخه کموالی او زياتوالی په کې نشته،ځکه چې د کائناتو د خالق خبرې دي) وَ او إِن بېشکه كُنتَ وې ته مِن قَبۡلِهِۦ مخکې د دې(قران څخه) لَمِنَ ٱلۡغَٰفِلِينَ د ناخبرو څخه(د دې قصې نه.يعنې ای محمد«صلی الله علی وسلم» د قرآن څخه مخکې ته هم د دې قصې د تفصيل څخه خبر نه وې) ﴿٣﴾

إِذۡ قَالَ يُوسُفُ لِأَبِيهِ يَٰٓأَبَتِ إِنِّي رَأَيۡتُ أَحَدَ عَشَرَ كَوۡكَبٗا وَٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ رَأَيۡتُهُمۡ لِي سَٰجِدِينَ ﴿٤﴾

إِذۡ قَالَ يُوسُفُ کله چې يوسف عليه السلام وويل لِأَبِيهِ خپل پلار(يعقوب عليه السلام) ته چې: يَٰٓأَبَتِ ای پلاره إِنِّي بېشکه ما

رَأَيْتُ وليدل(په خوب کې) أَحَدَ عَشَرَ كَوْكَبًا يولس ستوري
وَٱلشَّمْسَ او لمر وَٱلْقَمَرَ او سپوږمی رَأَيْتُهُمْ ما ولیدل هغوی،
چې: لِي سَٰجِدِينَ ما ته یې سجده کوله ﴿٤﴾

قَالَ يَٰبُنَيَّ لَا تَقْصُصْ رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيْدًاۖ إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ
لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ﴿٥﴾

قَالَ هغه«علیه السلام ورته»وویل چې: يَٰبُنَيَّ ای ځویه لَا تَقْصُصْ
رُءْيَاكَ عَلَىٰٓ إِخْوَتِكَ دا خوب دې ورونو ته مه وایه فَيَكِيدُواْ لَكَ كَيْدًاۖ
هسې نه چې(د حسد په سبب) څه دسیسه درته جوړه کړي(ځکه چې)
إِنَّ ٱلشَّيْطَٰنَ پرته د شک او شبهې څخه شیطان لِلْإِنسَٰنِ عَدُوٌّ مُّبِينٌ د
انسان ښکاره دښمن دی(یعني حسد د شیطان وسله ده چې د انسانانو
خصوصاً د دوستانو تر منځ یې استعمالوي،او په دښمنی یې اخته
کوي،ځکه چې اکثره دوستان لکه ورونه،د کاکا ځامن،تربوران او
کلیوال یو د بل بهترې او ترقي نشي زغملی،شیطان د حسد وسله په
لاس کې ورکوي،او یو د بل د نابودی او ذلیلولي کوششونه کوي،نو
ځکه یعقوب علیه السلام هم یوسف علیه السلام ته وویل چې ورونو
ته دې دا خوب مه وایه،ځکه که په تعبیر یې پوه شي،هسې نه چې په
حسد کې راشي او څه چل او دسیسه درته جوړه کړي) ﴿٥﴾

وَكَذَٰلِكَ يَجْتَبِيكَ رَبُّكَ وَيُعَلِّمُكَ مِن تَأْوِيلِ ٱلْأَحَادِيثِ وَيُتِمُّ نِعْمَتَهُۥ عَلَيْكَ
وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعْقُوبَ كَمَآ أَتَمَّهَا عَلَىٰٓ أَبَوَيْكَ مِن قَبْلُ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَۚ إِنَّ
رَبَّكَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ ﴿٦﴾

یعقوب علیه السلام د خوب د تعبیر څخه پوه شو چې:یوسف علیه السلام الله تعالی د نبوت دپاره انتخاب کړئ دی،نو ورته فرمایې!

وَكَذَٰلِكَ او په همدې توګه يَجۡتَبِيكَ غوره به کړي تا رَبُّكَ رب ستا وَيُعَلِّمُكَ او دروبه ښيي تا ته مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِ تعبير د خوبونو وَيُتِمُّ او پوره به کړي نِعۡمَتَهُۥ نعمتونه خپل عَلَيۡكَ په تا باندې وَعَلَىٰٓ ءَالِ يَعۡقُوبَ او د يعقوب عليه السلام په اولاد باندې كَمَآ لکه څنګه چې أَتَمَّهَا پوره کړي يې وو عَلَىٰٓ أَبَوَيۡكَ ستا په پلرونو باندې مِن قَبۡلُ د مخه إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَۚ په ابراهيم او سحق عليهما السلام باندې إِنَّ رَبَّكَ بیشکه ستا رب عَلِيمٌ حَكِيمٞ پوه (او)د حکمت خاوند دی. ﴿٦﴾

۞ لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ ﴿٧﴾

۞ لَّقَدۡ كَانَ فِي يُوسُفَ وَإِخۡوَتِهِۦٓ ءَايَٰتٞ لِّلسَّآئِلِينَ ﴿٧﴾
بیشکه د یوسف«علیه السلام» او د هغه«علیه السلام» د ورونو(په قیصه)کې عبرتونه(او درسونه)دي د پوښتو نکو دپاره.(قیامت پورې)

إِذۡ قَالُواْ لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ أَحَبُّ إِلَىٰٓ أَبِينَا مِنَّا وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّ أَبَانَا لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ﴿٨﴾ ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ ﴿٩﴾ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ ﴿١٠﴾

د يعقوب عليه السلام دولس ځامن وو،چې:يوسف عليه السلام او د هغه عليه السلام كشر ورور(بنيامين) سكه وررونه وو،او نور لس يې ناسكه وررونه وو،ناسكه وررونو يې احساس كاوه چې ګوندې پلار يعنې يعقوب عليه السلام د دوى څخه د يوسف عليه السلام او د هغه عليه السلام د ورور سره زيات محبت لرې،نو حسد ورته پيدا شو،او د دې دپاره چې د پلار توله توجه دوى ته شي، مشوره يې سره وكړه! آيت ته توجه وكړئ!

إِذۡ كله چې(د حسد په اساس د يوسف عليه السلام وررونه سره د هغه عليه السلام په ضد د پلان جوړلو دپاره راټول شول،نو!) قَالُواْ هغوى وويل چې: لَيُوسُفُ وَأَخُوهُ په يقيني توګه يوسف عليه السلام او د هغه عليه السلام ورور أَحَبُّ ډېر ګران دي إِلَىٰٓ أَبِينَا زمونږ پلار ته مِنَّا زمونږ څخه وَ حال دا چې: نَحۡنُ مونږ عُصۡبَةٌ يوه طاقتوره ډله يو(يعنې هر څه يې په مونږ سم دي او توجه يې هغوى ته ده) إِنَّ بېشكه چې: أَبَانَا زمونږ پلار لَفِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٍ ښكاره په غلطه دى(يعنې دوى خپل پلار په ګمراهى تورنوي چې:د دې څخه په واضح ډول څرګندېږي چې:حسد او ځان غوښتنه څنګه انسان د ناحقه تورونو او غلطو قضاوتونو خواته رسوي،بلاخره داسې تړون يې وكړو چې:) ﴿٨﴾ ٱقۡتُلُواْ يُوسُفَ يوسف عليه السلام ووژنئ أَوِ ٱطۡرَحُوهُ أَرۡضٗا يا يې په يو لرې ځاى كې وغورځوئ(يعنې په يوه لرې نامعلومه دشته كې يې خوشې كړئ چې د لوږې او تندې څخه مړ شي او ځناور يې وخوري،تر څو!) يَخۡلُ لَكُمۡ وَجۡهُ أَبِيكُمۡ چې د پلار توله توجه(او د محبت او شفقت مخ) يوازې تاسو ته شي وَتَكُونُواْ مِنۢ بَعۡدِهِۦ قَوۡمٗا صَٰلِحِينَ او د دې نه وروسته به بيرته نيكان شئ(يعنې توبه به وباسئ،كفاره به وركړئ،پلار ته به څه معقول عذر جوړ كړئ چې ورته نيكان ښكاره شئ....ليكن!) ﴿٩﴾ قَالَ قَآئِلٞ مِّنۡهُمۡ د دوى د منځ څخه يو ويونكې وويل(يعنې په دوى كې يو ورور وويل) لَا تَقۡتُلُواْ يُوسُفَ

يوسف«عليه السلام»مه وژنئ وَأَلۡقُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّ او(د وژلو په
ځای يې) په ژوره څاه کې واچوئ يَلۡتَقِطۡهُ بَعۡضُ ٱلسَّيَّارَةِ تر څو چې
کومه قافله هغه راوباسي (او د ځان سره يې بوځي په دې توګه به
مونږ د يو بې ګناه معصوم د وينې د تويولو څخه هم بچ شو،او کار به
مو هم وشي يعنې د پلار د توجه،شفقت او رحم مخ به هم ټول مونږ
ته راواوړي) إِن كُنتُمۡ فَٰعِلِينَ که چيرته تاسو(خامخا د دې کار)
کوونکې يئ(نو بيا يې دا ښه طريقه ده) ﴿١٠﴾

قَالُواْ يَٰٓأَبَانَا مَا لَكَ لَا تَأۡمَ۬نَّا عَلَىٰ يُوسُفَ وَإِنَّا لَهُۥ لَنَٰصِحُونَ ﴿١١﴾ أَرۡسِلۡهُ
مَعَنَا غَدٗا يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ﴿١٢﴾ قَالَ إِنِّي لَيَحۡزُنُنِيٓ أَن
تَذۡهَبُواْ بِهِۦ وَأَخَافُ أَن يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ ﴿١٣﴾ قَالُواْ لَئِنۡ
أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ وَنَحۡنُ عُصۡبَةٌ إِنَّآ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿١٤﴾ فَلَمَّا ذَهَبُواْ بِهِۦ وَأَجۡمَعُوٓاْ
أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ وَأَوۡحَيۡنَآ إِلَيۡهِ لَتُنَبِّئَنَّهُم بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا وَهُمۡ لَا
يَشۡعُرُونَ ﴿١٥﴾ وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءٗ يَبۡكُونَ ﴿١٦﴾ قَالُواْ يَٰٓأَبَانَآ إِنَّا ذَهَبۡنَا
نَسۡتَبِقُ وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا وَلَوۡ كُنَّا
صَٰدِقِينَ ﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ كَذِبٖۚ قَالَ بَلۡ سَوَّلَتۡ لَكُمۡ أَنفُسُكُمۡ
أَمۡرٗاۖ فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ ﴿١٨﴾

د دې آيت څخه په واضح ډول معلوميږي، چې يعقوب عليه السلام ته د خپلو ځامنو نيتونه د يوسف عليه السلام په اړه ښه نه ښکاريدل، نو ځکه يې يوسف عليه السلام د ځان څخه نه جدا کولو، او د ورونو سره يې چيرته نه پريښودلو چې لاړ شي،نو کله يې چې ورونو د يوسف عليه السلام په څاه کې د غورځولو فيصله وکړه نو پلار ته راغلل!

قَالُواْ (پلار ته يې) وويلې چې: يَٰٓأَبَانَا اې پلاره مَا لَكَ ته ولې
لَا تَأۡمَ۬نَّا په مونږ باور نه کوې عَلَىٰ يُوسُفَ د يوسف عليه السلام په

اړه وَ حال دا چې إِنَّا لَهُۥ پرته د شک څخه مونږ د هغه عليه السلام لَنَٰصِحُونَ خير خوا يو(نو!) ﴿١١﴾ أَرۡسِلۡهُ مَعَنَا غَدٗا هغه عليه السلام زمونږ سره سبا ته ولېږه يَرۡتَعۡ وَيَلۡعَبۡ چې تفريح او لوبې وکړي وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ او پرته د شک او شبهې څخه مونږ د هغه عليه السلام ساتونکي يو(ساتنه به يې کوو) ﴿١٢﴾ قَالَ هغه(يعني يعقوب عليه السلام ځامنو ته) وويل إِنِّي په دې کې هيڅ شک نشته چې زه لَيَحۡزُنُنِيٓ خامخا خفه کېږم أَن چې تَذۡهَبُواْ بِهِۦ تاسو هغه عليه السلام د ځان سره بوځئ، وَأَخَافُ زه ويرېږم أَن چې يَأۡكُلَهُ ٱلذِّئۡبُ لېوه به يې وخوري وَأَنتُمۡ عَنۡهُ غَٰفِلُونَ او تاسو به ترې غافل(او بې خبره)يئ ﴿١٣﴾ قَالُواْ هغوی(يعني ځامنويې يقوب عليه السلام ته) وويلې لَئِنۡ که چېرته أَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُ هغه «عليه السلام» لېوه وخوري وَ په داسې حال کې چې نَحۡنُ عُصۡبَةٌ مونږ يوه قوي ډله يو إِنَّآ إِذٗا نو پرته د شک څخه مونږ به هغه وخت(چې د لېوه د خوا د يوسف عليه السلام د خوړلو مخه ونه نيسو) لَّخَٰسِرُونَ حتماً تاوانيان يو(يعنې دا به زمونږ دپاره ډېره لويه ناکامي او غټ شرم وي)﴿١٤﴾ فَلَمَّا نو کله چې(د پلار د اعتماد او باور حاصلولو وروسته) ذَهَبُواْ بِهِۦ هغوی(يعني د يوسف عليه السلام ورونو) هغه عليه السلام د ځان سره بوت وَأَجۡمَعُوٓاْ او پرېکړه يې وکړه أَن يَجۡعَلُوهُ فِي غَيَٰبَتِ ٱلۡجُبِّۚ چې هغه عليه السلام په ژوره څاه کې وغورځوي وَأَوۡحَيۡنَآ نو مونږ وحې وکړه إِلَيۡهِ هغه عليه السلام ته لَتُنَبِّئَنَّهُم (چې يوه ورځ به) خامخا ته خبر ورکړې دوی ته(يادونه به وکړې دوی ته) بِأَمۡرِهِمۡ هَٰذَا د دوی د دې کار په اړه وَ په داسې حال کې هُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ چې دوی به نه پوهېږي (چې دا يوسف دی.په دې آيت کې الله تعالی د يوسف عليه السلام د ورونو دسيسه او د هغه په وړاندې خپل ملاتړ بيانوي.ورونو يې يوسف عليه السلام د ځان سره بوت،او په پټه يې پرېکړه وکړه چې په يوه ژوره څاه کې يې واچوي.په دې سختو شيبو کې،الله تعالی يوسف عليه السلام ته وحې وکړه،چې هغه عليه السلام به يوه ورځ خپلو ورونو ته د دوی د

دي عمل په اړه خبر ورکړي يعني يادونه به ورته وکړي،په داسې
حال کې چې هغوی به نه پوهيږي چې دا يوسف دی.نوټ:- د
قرآنکريم په دې وړه فقره کې چې کوم بلاغت او فصاحت دی،د دې
ثبوت دی،چې دا د الله تعالی کلام دی،په دې څو الفاظو کې د يوسف
عليه السلام د تسکين او تسلی دپاره داسې معلوميږي، لکه ټوله قصه
چې بيان شوي وي،يعني چې:ته مه ويريږه ستا ځان ته خطر نشته،او
يوازې دا نه چې د دې مشکل څخه به کامياب وځې،بلکې يوه ورځ به
داسې راشي،چې ته به د لوړ مقام خاوند شي او د دې وړ به شي، چې
خپلو ورونو ته به ستا سره د دوی عمل او سلوک هغوی ته ورپه
يادوي،او ته به په داسې مرتبه کې يې،چې هغوی به نه پوهيږي چې
دا يوسف دی.لکه چې همداسې وشو.نو ورونو!) ﴿١٥﴾ (يوسف عليه
السلام يې په څاه کې وغورځولو) وَجَآءُوٓ أَبَاهُمۡ عِشَآءً يَبۡكُونَ او
ماښام پلار ته په ژړا راغلل. ﴿١٦﴾ قَالُواْ (او ورته يې) وويلې چې:
يَٰٓأَبَانَآ اې پلاره إِنَّا ذَهَبۡنَا په يقيني توګه مونږ تللې وو نَسۡتَبِقُ
مسابقه مو کوله( د منډو او غشو ويشتلو) وَتَرَكۡنَا يُوسُفَ عِندَ مَتَٰعِنَا
او يوسف عليه السلام مو د خپل سامان سره پريښئ و فَأَكَلَهُ ٱلذِّئۡبُۖ
نو هغه عليه السلام لېوه وخوړ وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا او(مونږ پوهيږو
چې) ته زمونږ(په خبره) باور نکوې وَلَوۡ كُنَّا صَٰدِقِينَ که څه هم
مونږ(د زړه د کومې څخه) رښتيا وايو ﴿١٧﴾ وَجَآءُو عَلَىٰ قَمِيصِهِۦ بِدَمٖ
كَذِبٖۚ او(د دې دپاره چې پلار يې د دوی په خبره يقين وکړي،نو!) د
هغه عليه السلام قميص يې د دروغو په وينو ککړ راوړو(يعني کوهي
ته د غورځولو په وخت کې يې د يوسف عليه السلام څخه قميص
وويستلو او د چيلی په وينو يې ککړ کړو،خو کله يې چې په وينو
سور قميص پلار ته مخ کې کېښودو،پلار يې وليدل چې قميص باکل
روغ رمټ دی،شکيدلی نه دی،ويې ويلې چې دا څنګه هوښيار لېوه
وو چې،يوسف«عليه السلام»يې خوړلی او قميص يې نه دی
شکولئ،نو پوه شو چې دا مې د ځامنو شرارت دی،نو!) قَالَ
(ځامنو ته يې) وويل(چې لېوه نه دی خوړلئ) بَلۡ بلکې سَوَّلَتۡ لَكُمۡ

أَنفُسُكُمۡ أَمۡرٗاۖ تاسو ته ستاسو نفسونو(او شیطان ډېر سخت) کار آسانه کړ(یعنې د یو معصوم او بې ګناه ورور وژل ډېر سخت کار دی،لیکن تاسو ته نفسیاتي غوښتنو او حسد دا ډېر مشکل د نه کولو کار آسانه کړو) فَصَبۡرٞ جَمِيلٞۖ نو(اوس ما ته) صبر بهتر دی وَٱللَّهُ ٱلۡمُسۡتَعَانُ او د الله تعالی نه کومک غواړم عَلَىٰ مَا تَصِفُونَ په هغه څه چې تاسو یې بیانوئ(یعنې چې تاسو وایئ چې یوسف علیه السلام لیوه خوړلې دی) ﴿١٨﴾

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ قَالَ يَٰبُشۡرَىٰ هَٰذَا غُلَٰمٞۚ وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ ﴿١٩﴾ وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۢ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ ﴿٢٠﴾

وَجَآءَتۡ سَيَّارَةٞ او(کله یې چې ورونو یوسف علیه السلام په څاه کې واچولو)یوه قافله راغله(چې د شام نه مصر ته تله،هلته یې د نوموړي څاه سره پړاو واچولو) فَأَرۡسَلُواْ وَارِدَهُمۡ او(د اوبو راوړلو دپاره یې څاه ته) خپل اوبه راوړونکئ(یا مشکې) ولیږلو فَأَدۡلَىٰ دَلۡوَهُۥۖ نو(اوبه راوړونکې) خپله بوکه(یا ستل څاه ته)ښکته کړو (او یوسف علیه السلام یې ولیدلو،نو!) قَالَ هغه وویل(یعنې چغې یې کړې) يَٰبُشۡرَىٰ خوشالی زیری دی(مبارک شه) هَٰذَا غُلَٰمٞۚ دلته خو یو هلک دی(یوسف علیه السلام د بوکې پوړې ونښت او د اوبو سره جوخت د څاه څخه راووت) وَأَسَرُّوهُ بِضَٰعَةٗۚ او بیا یې هغه علیه السلام د تجارت د مال پشان(د خرڅلاو دپاره په خپل منځ کې) پټ وساته وَٱللَّهُ عَلِيمُۢ بِمَا يَعۡمَلُونَ او الله تعالی ښه پوه دی په هغه څه چې دوی کول ﴿١٩﴾ وَشَرَوۡهُ بِثَمَنِۢ بَخۡسٖ دَرَٰهِمَ مَعۡدُودَةٖ او(کله چې قافله مصر ته ورسیده،نو!) هغه علیه السلام یې په ډېر لږ قیمت په یو څو درهمو

باندې خرڅ کړو وَكَانُواْ فِيهِ مِنَ ٱلزَّٰهِدِينَ او(دا ځکه چې:) دوی د
هغه علیه السلام(د جګ او ټیټ خرڅولو)په باره کې بې رغبته
وو(یعنې دلچسپې یې نه لرله، په دې خاطر چې دوی ویریدل چې
هسې نه چې وارثان یې پیدا شي او د غلا دعوه راباندې وکړي،نو
چې په هر څو وي،خو چې زر خرڅ شي،او بل دا چې څه پیسې خو
یې پرې هسې هم نه وې تللې،چې تاوان به یې کړئ وو،لیکن د
ارزان خرڅولو اصلي علت یې د هغوی ویریدل وو،چې وارث یې
رانشي او په مونږ د غلا دعوه ونکړي.) ﴿٢٠﴾

وَقَالَ ٱلَّذِي ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ أَكۡرِمِي مَثۡوَىٰهُ عَسَىٰٓ أَن يَنفَعَنَآ أَوۡ
نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ
ٱلۡأَحَادِيثِۚ وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ أَمۡرِهِۦ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ ﴿٢١﴾

وَقَالَ ٱلَّذِي ٱشۡتَرَىٰهُ مِن مِّصۡرَ لِٱمۡرَأَتِهِۦٓ او د مصر کوم سړي چې
یوسف علیه السلام یې اخستئ و،هغه خپلې ښځې ته وویلې چې:
أَكۡرِمِي مَثۡوَىٰهُ د یوسف علیه السلام د استوګنځې ښه بندوبست
وکړه(دا سړی د خزانې وزیر عزیز مصر و،هغه یوسف علیه السلام
د خپلو غلامانو په څیر ونه باله،بلکې د هغه علیه السلام د عزت او
پالنې سپارښتنه یې وکړه) عَسَىٰٓ کیدای شي(امید شته) أَن يَنفَعَنَآ
چې هغه علیه السلام به مونږ ته ګټه ورسوي أَوۡ نَتَّخِذَهُۥ وَلَدٗاۚ یا به
مونږ هغه علیه السلام د ځوی په ځای(ځویتوب) ونیسو وَكَذَٰلِكَ مَكَّنَّا
لِيُوسُفَ فِي ٱلۡأَرۡضِ او په دې توګه مونږ یوسف علیه السلام ته(د
مصر)په ځمکه کې ځای ورکړو وَلِنُعَلِّمَهُۥ مِن تَأۡوِيلِ ٱلۡأَحَادِيثِۚ تر
څو چې هغه علیه السلام ته د خوبونو تعبیر وښایو وَٱللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰٓ
أَمۡرِهِۦ او الله تعالی برلاسی دی په خپل امر(او فیصله)باندې (یعنې د
الله تعالی پلانونه تل برلاسي وي) وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ خو

ډېر خلک نه پوهيږي(يعني د الله تعالی پلانونه هميشه برلاسي
وي،خو ډېر خلک د الله تعالی د تقدير او حکمت په رازونو نه
پوهيږي.) ﴿٢١﴾

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًاۚ وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ ﴿٢٢﴾
وَرَٰوَدَتْهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِۦ وَغَلَّقَتِ ٱلْأَبْوَٰبَ وَقَالَتْ هَيْتَ لَكَۚ
قَالَ مَعَاذَ ٱللَّهِۖ إِنَّهُۥ رَبِّيٓ أَحْسَنَ مَثْوَايَۖ إِنَّهُۥ لَا يُفْلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٢٣﴾ وَلَقَدْ
هَمَّتْ بِهِۦۖ وَهَمَّ بِهَا لَوْلَآ أَن رَّءَا بُرْهَٰنَ رَبِّهِۦۚ كَذَٰلِكَ لِنَصْرِفَ عَنْهُ ٱلسُّوٓءَ
وَٱلْفَحْشَآءَۚ إِنَّهُۥ مِنْ عِبَادِنَا ٱلْمُخْلَصِينَ ﴿٢٤﴾ وَٱسْتَبَقَا ٱلْبَابَ وَقَدَّتْ قَمِيصَهُۥ
مِن دُبُرٍ وَأَلْفَيَا سَيِّدَهَا لَدَا ٱلْبَابِۚ قَالَتْ مَا جَزَآءُ مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا إِلَّآ
أَن يُسْجَنَ أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ﴿٢٥﴾ قَالَ هِيَ رَٰوَدَتْنِي عَن نَّفْسِيۚ وَشَهِدَ شَاهِدٌ
مِّنْ أَهْلِهَآ إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ فَصَدَقَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ ﴿٢٦﴾
وَإِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ فَكَذَبَتْ وَهُوَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا
قَمِيصَهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ قَالَ إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّۖ إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ
أَعْرِضْ عَنْ هَٰذَاۚ وَٱسْتَغْفِرِي لِذَنۢبِكِۖ إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلْخَاطِـِٔينَ ﴿٢٩﴾

وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُۥٓ او کله چې هغه عليه السلام خپلې ځوانۍ(او کمال)ته
ورسيدو ءَاتَيْنَٰهُ حُكْمًا وَعِلْمًاۚ مونږ هغه«عليه السلام»ته حکمت او
علم ورکړو وَكَذَٰلِكَ نَجْزِي ٱلْمُحْسِنِينَ او همدارنګه مونږ نيکانو ته
اجر ورکوو.(يعني کله چې ځوانۍ ته ورسيدو،الله تعالی ورته د
قضاوت او سمو پريکړو صلاحيت او ژوره پوهه ورکړه) ﴿٢٢﴾
وَرَٰوَدَتْهُ ٱلَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا عَن نَّفْسِهِۦ او هغې ښځې چې:دا عليه السلام
د هغې په کور کې و،هغې د ده عليه السلام څخه د هغې سره د
بدکارۍ غوښتنه وکړه وَغَلَّقَتِ ٱلْأَبْوَٰبَ او ټولې دروازې يې بندې
کړې وَ او(يوسف عليه السلام ته يې) قَالَتْ وويلې! هَيْتَ لَكَ ما ته

راشه(یعني هغه علیه السلام ته یې د بدکارۍ بلنه ورکړه) قَالَ هغه علیه السلام(ورته)وویلې مَعَاذَ ٱللَّهِۖ پناه غواړم د الله تعالی(د دې بدکارۍ او خیانت څخه) إِنَّهُۥ رَبِّيٓ (رَبِّي دلته دوه معنی لري،الله او عزیز مصر «مالک»،که دوهمه معنی واخستل شي،نو د جملې مطلب به داسې وي)بېشکه چې هغه(یعني عزیز مصر) زما مالک دی أَحۡسَنَ مَثۡوَايَۖ چې زما د اوسیدلو ځای یې ښه کړئ دی(یعنی هغه ما ته د غلام په ځای د یو عزتمن کس پشان ځای راکړئ دی،نو زه څنګه کولای شم چې د هغه په کور کې خیانت وکړم،دا جمله د یوسف علیه السلام لوړ اخلاق او د ګناه په وړاندې د زغم او تقوی ښکلې انځور وړاندې کوي) إِنَّهُۥ لَا يُفۡلِحُ ٱلظَّٰلِمُونَ بېشکه ظالمان نه کامیابیږي ﴿٢٣﴾

وَلَقَدۡ هَمَّتۡ بِهِۦۖ اراده وکړه هغې د هغه علیه السلام سره(د ګناه کولو) وَهَمَّ بِهَا او هغه علیه السلام به هم اراده کړې وه د هغې سره(د ګناه کولو) لَوۡلَآ أَن رَّءَا بُرۡهَٰنَ رَبِّهِۦۚ که چیرته په هغه علیه السلام کې الهي بصیرت،روحاني پوهه،او د حق او باطل تر منځ د فرق کولو صلاحیت نه وو. كَذَٰلِكَ لِنَصۡرِفَ عَنۡهُ ٱلسُّوٓءَ وَٱلۡفَحۡشَآءَۚ په دې توګه مونږ هغه علیه السلام د بدۍ او بې حیایۍ څخه وژغورلو إِنَّهُۥ مِنۡ عِبَادِنَا ٱلۡمُخۡلَصِينَ بېشکه چې هغه علیه السلام زمونږ د مخلصو(او غوره)بندګانو څخه دی. ﴿٢٤﴾ وَٱسۡتَبَقَا ٱلۡبَابَ او دواړو منډې کړې د دروازې طرف ته(یعني یوسف علیه السلام د ځان خلاصولو دپاره د دروازې خوا ته منډه کړه.چې د کور نه ووځي،د عزیز مصر ښځې هم ورپسې منډه کړ؟چې راوېې نیسې،د کمیس لمن یې لاس ته ورغله،د لمنې نه یې ونیوو،او د ځان خواته یې را کش کړو) وَقَدَّتۡ قَمِيصَهُۥ مِن دُبُرٖ او هغې د هغه علیه السلام کمیس د شاه د خوا څخه وشلولو،(یعني د یوسف علیه سلام کمیس شلیدلئ،هغه علیه السلام مخکې او ښځه ورپسې ده،همدا چې دوی دروازې ته رسیږي،د بهر

ښځه د ښځې خاوند يعني عزيز مصر کور ته راننوځي،نو) وَأَلْفَيَا
سَيِّدَهَا لَدَا ٱلْبَابِۚ د دروازې سره دوى د ښځې خاوند(يعني عزيز
مصر) وليدلو(ښکاره خبره ده،چې ښځه وارخطا شوه،نو د ځان د
خلاصولو او پاکولو دپاره يې خاوند يعني عزيز مصر ته!) قَالَتْ
وويلې مَا جَزَآءُ څه جزا ده، مَنْ أَرَادَ بِأَهْلِكَ سُوٓءًا د هغه چا،چا چې
ستا د ښځې سره د ګناه کولو اراده کړې وه إِلَّآ پرته د دې څخه
أَن يُسْجَنَ چې يا په زندان کې واچول شي أَوْ عَذَابٌ أَلِيمٌ او يا
دردونکى عذاب ورکول شي(يعني د ځان د خلاصولو او پاکولو دپاره
يې تهمت په يوسف عليه سلام ولږوولو، ﴿٢٥﴾ قَالَ (يوسف عليه
السلام د خپلې دفاع دپاره عزيز مصر ته وويلې چې:) هِيَ رَٰوَدَتْنِي
عَنْ نَّفْسِيۚ هغې(ستا ښځې) هڅه وکړه چې ما ګناه کولو ته
راکاږي(عزيز مصر حيران شو چې ګناه په چا کې ده،ځکه يو په بل
ملامتيا وراچوي،نو) وَشَهِدَ شَاهِدٌ مِّنْ أَهْلِهَآ شاهدي ورکړه يو شاهد د
هغې(ښځې) د خپلوانو څخه(يعني په دې وخت کې د ښځې د خپلوانو
څخه يو هوښيار کس داسې فيصله وکړه،چې د يوسف«عليه
السلم»کميس دې وکتل شي،) إِن كَانَ قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن قُبُلٍ که چيرته
د هغه عليه السلام کميس د مخې د خوا څخه شليدلئ وي، فَصَدَقَتْ
نو ښځه ريښتيا وايي وَهُوَ مِنَ ٱلْكَٰذِبِينَ او هغه عليه السلام د
دروغجنو څخه دى(يعني دروغ وايي،او ملامته دى) ﴿٢٦﴾ وَإِن كَانَ
قَمِيصُهُۥ قُدَّ مِن دُبُرٍ او که چيرته د هغه عليه السلام کميس د شاه د
خوا څخه شليدلئ وي فَكَذَبَتْ نو هغه(ښځه)دروغ وايي وَهُوَ مِنَ
ٱلصَّٰدِقِينَ او هغه عليه السلام د ريښتينو څخه دى(يعني ريښتيا
وايي،او ښځه ملامته ده) ﴿٢٧﴾ فَلَمَّا رَءَا قَمِيصَهُۥ نو کله چې
هغه(يعني عزيز مصر) د هغه(يعني د يوسف عليه السلام) کميس
وليدلو(ويې ليدل، چې کميس!) قُدَّ مِن دُبُرٍ د شاه د خوانه شليدلئ و.
قَالَ (نو عزيز مصر) وويلې إِنَّهُۥ مِن كَيْدِكُنَّۖ بېشکه دا د ښځو مکر
دى إِنَّ كَيْدَكُنَّ عَظِيمٌ (او)پرته د شک څخه د ښځو مکر ډېر لوى
دى.(او يوسف عليه السلام ته يې وويلې چې:) ﴿٢٨﴾ يُوسُفُ اى

یوسفه«علیه السلام» أَعۡرِضۡ عَنۡ هَٰذَاۚ مخ واړوه د دې (پیښې
څخه،تیر شه ترې،هیره یې کړه،څوک مه خبروه) وَ او (ښځې ته
یې وویلې) ٱسۡتَغۡفِرِي لِذَنۢبِكِۖ (د الله تعالی څخه) د خپلې ګناه ښښنه
وغواړه إِنَّكِ كُنتِ مِنَ ٱلۡخَاطِـِٔينَ پرته د شک او شبهې څخه هم ته د
خطاکارانو څخه یې(هم ته ګنهګاره یې) ﴿٢٩﴾

وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن نَّفۡسِهِۦۖ قَدۡ شَغَفَهَا
حُبًّاۖ إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ ﴿٣٠﴾
فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ وَأَعۡتَدَتۡ لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا وَءَاتَتۡ كُلَّ وَٰحِدَةٖ
مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا وَقَالَتِ ٱخۡرُجۡ عَلَيۡهِنَّۖ فَلَمَّا رَأَيۡنَهُۥٓ أَكۡبَرۡنَهُۥ وَقَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّ
وَقُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا هَٰذَا بَشَرًا إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا مَلَكٞ كَرِيمٞ ﴿٣١﴾ قَالَتۡ فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي
لُمۡتُنَّنِي فِيهِۖ وَلَقَدۡ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ فَٱسۡتَعۡصَمَۖ وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَآ ءَامُرُهُۥ
لَيُسۡجَنَنَّ وَلَيَكُونٗا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ ﴿٣٢﴾

وَقَالَ نِسۡوَةٞ فِي ٱلۡمَدِينَةِ او(دا خبره په ښار کې خوره شوه،نو) په ښار
کې ښځو وویلې چې: ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ د عزیز ښځه تُرَٰوِدُ فَتَىٰهَا عَن
نَّفۡسِهِۦۖ د خپل ځوان(غلام)څخه د ګناه کولو غوښتنه کوي قَدۡ شَغَفَهَا
حُبًّاۖ یقیناً د هغه محبت ناقراره کړې ده إِنَّا لَنَرَىٰهَا فِي ضَلَٰلٖ مُّبِينٖ
پرته د شک څخه مونږ هغه په ښکاره ګمراهۍ کې وینو(یعني په ښار
کې د نورو وزیرانو او معززینو ښځو د عزیز د ښځې پسې خبرې
کولې،چې چې ډیر نامناسبه کار کوي،ځان یې سپک کړو،خپل حیثیت
ته نه ګورې،او د دوه پیسو غلام پسې منډې وهي،د ګناه کولو غوښتنه
ترې کوي،په داسې حال کې چې هغه نه ورته توجه کوي او نه یې
غوښتنه مني،مطلب دا چې،ښځو په دې مقصد دا خبرې نه کولې
چې،ګنې زنا کول بد کار دی،او یا کوم شرم دی،بلکې په دې مقصد
یې کولې چې د معززینو یا د لوړې طبقې د خلکو ښځې باید د

غلامانو یا ټیټي طبقې خلکو سره مینه او د ګناه کار ونکړي،یعني د
عزیز ښځې باید دا کار د باچا یا وزیر او یا بل کوم معزز شخص
سره کړئ وو،نه د یو غلام سره،یعني کم د کمه باید د خپل حیثیت
مطابق یې و.) ﴿۳۰﴾
فَلَمَّا سَمِعَتۡ بِمَكۡرِهِنَّ نو کله چې هغې(یعني د عزیز ښځې) د
هغوی(یعني د ښار د ښځو) خبرې واوریدې أَرۡسَلَتۡ إِلَيۡهِنَّ نو هغې(د
عزیز ښځې) هغوی ته(یعني دښار ښځو ته) بلنه ولیږله وَأَعۡتَدَتۡ
لَهُنَّ مُتَّكَـٔٗا او د هغوی دپاره یې یوه تکیه(دناستې ځای د میلمستیا
دپاره) برابر کړو(ښځې راغلې،میلمستیا شروع شوه،دسترخوانونه
وغوړول شو،قسم قسم غذاګانې،غوښې او میوې د ښځو مخې ته
کیښودل شوې) وَءَاتَتۡ كُلَّ وَٰحِدَةٖ مِّنۡهُنَّ سِكِّينٗا او هغې د هغوی(یعني
د ښار د ښځو) څخه،هر یوې ته یوه چاړه ورکړه، وَ او(په داسې
وخت کې چې ښځو میوې پرې کولې،نو!) قَالَتِ ٱخۡرُجۡ عَلَيۡهِنَّۖ
هغې(یعني د عزیز ښځې یوسف علیه السلام ته) وویلې(اشاره یې
ورته وکړه) چې دوی ته راووځه (یوسف علیه السلام راووتو!) فَلَمَّا
رَأَيۡنَهُۥٓ نو کله چې هغوی(یعني د ښار ښځو) هغه علیه السلام ولیدو
أَكۡبَرۡنَهُۥ د هغه علیه السلام ښایست ته حیرانې شوې وَقَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّ
او(دومره زیاتې د هغه علیه السلام د شخصیت او ښایست څخه
متاثیره شوې ،چې د میوو په ځای یې خپل لاسونه غوڅ کړل) وَقُلۡنَ
او ویې ویلې چې: حَٰشَ لِلَّهِ پاک دی الله تعالی مَا هَٰذَا بَشَرًا دا
(خو) انسان نه دی إِنۡ هَٰذَآ نه دی دا إِلَّا مګر مَلَكٞ كَرِيمٞ یوه
عزتمنده فریښته ده﴿۳۱﴾ قَالَتۡ (نو د عزیز ښځې د ښار ښځو ته)
وویلې فَذَٰلِكُنَّ ٱلَّذِي لُمۡتُنَّنِي فِيهِۖ نو دا هغه (زلمی) دی،د چا
د(محبت)په باره کې چې تاسو زه ملامته کړې یم (یعني ښه ورته
وګورئ چې آیا دا څه یو عام غلام دی؟چې تاسو ما ملامتوئ) وَلَقَدۡ
رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ او(زه اقرار کوم چې:) یقیناً ما د ده څخه د ګناه
کولو غوښتنه کړې وه فَٱسۡتَعۡصَمَۖ خو ده ځان(د ګناه کولو)څخه
وساتلو وَلَئِن لَّمۡ يَفۡعَلۡ مَآ ءَامُرُهُۥ او قسم دی که چیرته هغه کار

ونکړي، د کوم چې زه ورته حکم کوم (یعني که زما سره د ګناه کار ونکړي،نو!) لَيُسۡجَنَنَّ خامخا به بندي شي وَلَيَكُونٗا مِّنَ ٱلصَّٰغِرِينَ او خامخا به د سپکو او ذلیلو کسانو څخه شي ﴿۳۲﴾

که په دې آیتونو کې غور وشي،په ډاګه معلومیږي،چې په هغې وخت کې په مصر کې د جګو طبقاتو او معززینو اخلاقي حالت څنګه وو،ښکاره خبره ده،کومې د ښار ښځې چې د عزیز ښځې راغوښتې وې،هغوی به د غټو امیرانو،ریسانو او معززینو ښځې وې،د دې لوړ مرتبه ښځو په مخکې د مصر د عزیز ښځه خپل ځوان محبوب راولې،او د هغه علیه السلام ښایسته ځواني وربښایې،او کوشش کوي چې هغوی په دې قانع کړي.چې دې(یعني د عزیز ښځې)چې څه کړي دي،او څه کوي،غلطي یې نه کړې ده او نه یې کوي،بلاخره د معززینو ښځې هم تصدیق کوي،چې زمونږ څخه که هر یوه ښځه د عزیز د ښځې په ځای وه،همداسې به یې کول،کوم چې د عزیز ښځې کړې.بیا د شریفو ښځو په ډک مجلس کې معززه میزبانه د عزیز مصر ښځه،پرته د دې چې کوم شرم احساس کړي،په جهر سره خپل قصد او عزم ښکاره کوي،وایې چې:که چیرته د دې ښایسته غلام د دې خواهشات پوره نکړي(یعني ګناه ونکړي) نو زندان ته به یې ولیږي،او د ښار شریفې او معززې ښځې هم یوسف علیه السلام ته وایې،چې خبره یې ومنه.د دې ټولو څخه دا خبره معلومیږي،چې په یویشتمې پیړی کې چې په ځینو ملکونو کې،د ښځو کومه ازادې، اخلاقي کمزورې،بې حیایې او په نرانو کې بې غیرتي موجود ده،دا کوم نوی شی نه دی،بلکې ډیر پخوانی شی دی،د دقیانوس څخه په سلهاوو کلونه مخکې هم همداسې بې شرمه او بې حیا رواجونه او بې غیرتی په مصر کې موجود وې،کومې چې په اوسنی عصرې زمانه کې په ځینو ملکونو او ځینو ځایونو کې موجود دي.

قَالَ رَبِّ ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِمَّا يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي كَيۡدَهُنَّ
أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ ﴿٣٣﴾ فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ فَصَرَفَ عَنۡهُ
كَيۡدَهُنَّۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ
لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ ﴿٣٥﴾ وَدَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ قَالَ أَحَدُهُمَآ إِنِّيٓ
أَرَىٰنِيٓ أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا
تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿٣٦﴾ قَالَ لَا
يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ ذَٰلِكُمَا مِمَّا
عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ إِنِّي تَرَكۡتُ مِلَّةَ قَوۡمٖ لَّا يُؤۡمِنُونَ بِٱللَّهِ وَهُم بِٱلۡأٓخِرَةِ هُمۡ كَٰفِرُونَ
﴿٣٧﴾ وَٱتَّبَعۡتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَإِسۡحَٰقَ وَيَعۡقُوبَۚ مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشۡرِكَ
بِٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۚ ذَٰلِكَ مِن فَضۡلِ ٱللَّهِ عَلَيۡنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ وَلَٰكِنَّ أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا
يَشۡكُرُونَ ﴿٣٨﴾

کله چې یوسف علیه السلام د ښځو خبرې واوریدلې،ښځې د دې په ځای چې د عزیز ښځه ملامته کړې،یوسف علیه السلام ته یې وویل چې خیر دی خبره یې ومنه،او علاوه د دې ښځه د نورو وزیرانو او معزیزینو ښځې هم وربانديې ګرمې شوي،او هر یوې غوښتل چې د هغه علیه السلام توجه ځان ته راواړوي،یعنې مخکې خو یې د عزت او د تقوا یو دښمن و،لیکن اوس ډېر زیات شو،نو دعا یې وکړه،او!

قَالَ هغه علیه السلام وویلې چې: رَبِّ ای زما ربه! ٱلسِّجۡنُ أَحَبُّ إِلَيَّ زندان راته ډېر بهتر دی مِمَّا د هغه څه نه(د هغې ګناه څخه) چې: يَدۡعُونَنِيٓ إِلَيۡهِۖ چې دوی(یعنې دا ښځې) ورته بلنه راکوي وَإِلَّا تَصۡرِفۡ عَنِّي او(ای زما ربه!) که ته زما څخه لرې نکړې كَيۡدَهُنَّ د دوی مکر(او فریب نو!) أَصۡبُ إِلَيۡهِنَّ نو زه به دوی ته مایل شم وَأَكُن مِّنَ ٱلۡجَٰهِلِينَ او د جاهلانو څخه به شم. ﴿٣٣﴾ فَٱسۡتَجَابَ لَهُۥ رَبُّهُۥ نو د هغه علیه السلام رب«جل جلاله» د هغه علیه السلام دعا قبوله کړه فَصَرَفَ او لرې یې کړو عَنۡهُ د هغه علیه

السلام څخه كَيۡدَهُنَّ د هغوی مکر(يعني د ښځو د فريب څخه يې بچ
کړو) إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ بېشکه هغه«جل جلاله» ښه
اوريدونکئ(او)ښه پوه دی. ﴿٣٤﴾ ثُمَّ بَدَا لَهُم مِّنۢ بَعۡدِ مَا رَأَوُاْ ٱلۡأٓيَٰتِ
لَيَسۡجُنُنَّهُۥ حَتَّىٰ حِينٖ بيا هغوی(يعني عزيز او نورو معزيزينو چون
خپلې ښځې نه شوي کنټرولولئ،نو!) هغوی ته دا فکر ورغئ(چې
مصلحت او فايده په دې کې ده) چې د يوې مودې دپاره هغه عليه
السلام بندي کړي،په داسې حال کې چې هغوی(د هغه عليه السلام د
پاک لمنی او د خپلو ښځو د ناوړه چلند) څرګندې نښانې ليدلې وې.
﴿٣٥﴾ وَ او(کله چې د ناپاکو او ګنهګارو په ځای په پاک او بې ګناه
يوسف عليه السلام په زندان کې د اچولو فيصله وشوه،نو زندان ته د
ننوتلو په وخت کې!) دَخَلَ مَعَهُ ٱلسِّجۡنَ فَتَيَانِۖ د هغه عليه السلام سره
دوه نور ځوانان(هم) زندان ته داخل شو. قَالَ أَحَدُهُمَآ (يوه ورځ)يو
د هغوی څخه(يوسف عليه السلام ته) وويلې إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ بېشکه
زه(په خوب کې) ځان ګورم أَعۡصِرُ خَمۡرٗاۖ چې د شرابو دپاره
(انګور) زبيښم وَقَالَ ٱلۡأٓخَرُ او بل(ځوان) وويل إِنِّيٓ أَرَىٰنِيٓ بېشکه
زه(په خوب کې) ځان ګورم أَحۡمِلُ فَوۡقَ رَأۡسِي خُبۡزٗا چې زما په
سر باندې ډوډۍ ايښې وې تَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِنۡهُۖ (او) مرغان يې ورڅخه
خوري نَبِّئۡنَا بِتَأۡوِيلِهِۦٓۖ (دواړو وويل چې) مونږ ته د
دې(خوبونو)تعبير وکړه إِنَّا نَرَىٰكَ مِنَ ٱلۡمُحۡسِنِينَ بېشکه مونږ ګورو
تا،چې ته د نيکانو څخه يې(يعني مونږ وينو چې ته ډېر نيک سړی
يې.د دې آيت څخه په واضح ډول معلوميږي چې يوسف عليه السلام
ته چا د مجرم په صفت نه کتل،او د زندان په داخل کې او د زندان
څخه دباندې د يو نيک او متقي انسان په صفت په خلکو کې مشهور
و) ﴿٣٦﴾ قَالَ هغه عليه السلام(ورته)وويل چې: لَا يَأۡتِيكُمَا طَعَامٞ
تُرۡزَقَانِهِۦٓ إِلَّا نَبَّأۡتُكُمَا بِتَأۡوِيلِهِۦ قَبۡلَ أَن يَأۡتِيَكُمَاۚ مخکې د دې څخه چې
تاسو ته د نن ورځې خواړه راشي،زه به مو د خوبونو تعبير
وکړم(يعني د ډوډۍ خوړلو څخه به مخکې د خوبونو تعبير درته
ووايم) ذَٰلِكُمَا مِمَّا دا(د خوبونو تعبيرول) هغه علم دی عَلَّمَنِي رَبِّيٓۚ

چې ماته خپل رب«جل جلاله»راښودلئ دى إِنِّي تَرَكْتُ مِلَّةَ قَوْمٍ
(او)بېشکه ما د هغو خلکو دین پرېښئ دى لَّا يُؤْمِنُونَ بِٱللَّهِ چې په
الله تعالى باندې ایمان نه راوړي وَهُم بِٱلْأَخِرَةِ هُمْ كَٰفِرُونَ او هغوى
چې د آخرت څخه منکر وي ﴿٣٧﴾ وَٱتَّبَعْتُ مِلَّةَ ءَابَآءِيٓ إِبْرَٰهِيمَ
وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ او ما د خپلو پلرونو(او مشرانو) ابراهیم،اسحق او
یعقوب علیهم السلام دین منلئ دى، مَا كَانَ لَنَآ أَن نُّشْرِكَ بِٱللَّهِ مِن
شَيْءٍ زمونږ سره نه ښایې چې د الله تعالى سره نور څه شریک کړو
ذَٰلِكَ مِن فَضْلِ ٱللَّهِ عَلَيْنَا وَعَلَى ٱلنَّاسِ دا په مونږ او په ټولو انسانانو د
الله تعالى مهرباني او احسان دى(چې پرته د خپل ځان څخه یې د بل
چا بندګان نه یو کړځولي) وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَشْكُرُونَ خو لیکن
اکثره خلک شکر نه وباسي(د نورو انسانانو او بتانو بندګې کوي،او د
هغه«جل جلاله سره شرک کوي) ﴿٣٨﴾

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجْنِ ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ أَمِ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ ﴿٣٩﴾ مَا
تَعْبُدُونَ مِن دُونِهِۦٓ إِلَّآ أَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا
مِن سُلْطَٰنٍ إِنِ ٱلْحُكْمُ إِلَّا لِلَّهِ أَمَرَ أَلَّا تَعْبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلْقَيِّمُ وَلَٰكِنَّ
أَكْثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ ﴿٤٠﴾

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجْنِ (اوس یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته دعوت
ورکوي،ورته فرمایې:) اى زما د زندان ملګرو(تاسو فکر
وکړئ،چې:) ءَأَرْبَابٌ مُّتَفَرِّقُونَ خَيْرٌ آیا ډېر بیل بیل خدایان ښه دي
أَمِ ٱللَّهُ ٱلْوَٰحِدُ ٱلْقَهَّارُ یا که یو زورور الله تعالى؟ ﴿٣٩﴾ مَا تَعْبُدُونَ مِن
دُونِهِۦٓ پرته د الله تعالى څخه تاسو عبادت(او بندګي) نه کوئ إِلَّآ
أَسْمَآءً سَمَّيْتُمُوهَآ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُم مګر هسې نومونه دي چې تاسو او
ستاسو پلرونو په هغوى ایښې دي(یعنې د غیرالله څخه مو خدایان
جوړ کړي دي،مختلف نومونه مو ورباندې ایښې دي،حال دا چې

هغوی هیڅ نشي کولای،تاسو هغوی جوړ کړي دي،هغوی نه ستاسو او نه ستاسو د پلرونو سره څه کومک کړئ دی ،او نه یې کولای شي) مَّآ أَنزَلَ ٱللَّهُ بِهَا مِن سُلۡطَٰنٍۚ او نه الله تعالی د دوی(د الوهیت)په باره کې کوم دلیل(او سند) نازل کړئ إِنِ ٱلۡحُكۡمُ إِلَّا لِلَّهِ مطلق اختیار صرف الله تعالی لره دی(یعني د قانون جوړولو او د هغه مطابق د حکم کولو اختیار صرف الله تعالی ته دی) أَمَرَ أَلَّا تَعۡبُدُوٓاْ إِلَّآ إِيَّاهُۚ د هغه«جل جلاله»حکم دی چې:پرته د هغه«جل جلاله»څخه د بل هیڅچا بندګي مه کوئ ذَٰلِكَ ٱلدِّينُ ٱلۡقَيِّمُ دا سم(او د همیشه نه قائم او دائم) دین دی وَلَٰكِنَّ خو لیکن أَكۡثَرَ ٱلنَّاسِ لَا يَعۡلَمُونَ اکثره خلک نه پوهیږي. ﴿٤٠﴾

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ أَمَّآ أَحَدُكُمَا فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ فَيُصۡلَبُ فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ ٱلَّذِي فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ ﴿٤١﴾ وَقَالَ لِلَّذِي ظَنَّ أَنَّهُۥ نَاجٖ مِّنۡهُمَا ٱذۡكُرۡنِي عِندَ رَبِّكَ فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ ذِكۡرَ رَبِّهِۦ فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجۡنِ بِضۡعَ سِنِينَ ﴿٤٢﴾

اوس یوسف علیه السلام د زندان ملګرو ته د خوب تعبیر کوي،ورته وایې چې!

يَٰصَٰحِبَيِ ٱلسِّجۡنِ ای زما د زندان ملګرو أَمَّآ أَحَدُكُمَا ستاسو نه به یو فَيَسۡقِي رَبَّهُۥ خَمۡرٗاۖ په خپل مالک شراب څښي(یعني کوم یو چې په خوب کې د شرابو جوړولو دپاره انګور زبیښل،هغه د باچا ساقي و،د هغه تعبیر دا شو چې د زندان څخه به خلاص شي،او بیرته به ورته خپل کار وسپارل شي) وَأَمَّا ٱلۡأٓخَرُ او بل یو چې دی فَيُصۡلَبُ هغه به په دار وځړول شي فَتَأۡكُلُ ٱلطَّيۡرُ مِن رَّأۡسِهِۦۚ او مرغان به یې د سر نه په ټونګو-ټونګو غوښې خوري قُضِيَ ٱلۡأَمۡرُ د هغه کار فیصله وشوه ٱلَّذِي فِيهِ تَسۡتَفۡتِيَانِ د کوم په باره کې چې تاسو پوښتنه

کوله ﴿٤١﴾ وَقَالَ او هغه علیه السلام وویلي لِلَّذِي هغه کس ته
ظَنَّ چې هغه علیه السلام ګومان کولو أَنَّهُۥ چې هغه نَاج
خلاصیږي(زندان نه) مِّنۡهُمَا د دې دواړو څخه(یعني هغه یو چې د
بند نه خلاصیدلو، ورته یې وویلي) ٱذۡكُرۡنِي زما ذکر وکړه عِندَ
رَبِّكَ ستا د مالک په وړاندې(یعني که موقع برابره شوه نو باچا ته
ووایه،چې په زندان کې یو بې ګناه کس بندي دی ،چې هیڅ جرم یې
نه دی کړیٔ،لیکن د زندان څخه د وتلو وروسته هغه په خپلو کارونو
مصروف شو! ) فَأَنسَىٰهُ ٱلشَّيۡطَٰنُ نو شیطان یې هیر کړل ذِكۡرَ رَبِّهِۦ
د هغه مالک(پاچا) ته یادول(یعني شیطان داسې په غفلت کې
وغورځاوه،چې پاچا ته یې د هغه علیه السلام وریادول هېر کړل
فَلَبِثَ فِي ٱلسِّجۡنِ بِضۡعَ سِنِينَ او هغه علیه السلام څو کلونه نور هم په
زندان کې پاتې شو. ﴿٤٢﴾

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ إِنِّيٓ أَرَىٰ سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعَ سُنۢبُلَٰتٍ
خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖۖ يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ أَفۡتُونِي فِي رُءۡيَٰيَ إِن كُنتُمۡ لِلرُّءۡيَا تَعۡبُرُونَ
﴿٤٣﴾ قَالُوٓاْ أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٖۖ وَمَا نَحۡنُ بِتَأۡوِيلِ ٱلۡأَحۡلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ ﴿٤٤﴾ وَقَالَ
ٱلَّذِي نَجَا مِنۡهُمَا وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ أَنَا۠ أُنَبِّئُكُم بِتَأۡوِيلِهِۦ فَأَرۡسِلُونِ ﴿٤٥﴾ يُوسُفُ
أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ أَفۡتِنَا فِي سَبۡعِ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ وَسَبۡعِ
سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖ لَّعَلِّيٓ أَرۡجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ لَعَلَّهُمۡ يَعۡلَمُونَ ﴿٤٦﴾
قَالَ تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا فَمَا حَصَدتُّمۡ فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ إِلَّا قَلِيلٗا مِّمَّا
تَأۡكُلُونَ ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ سَبۡعٞ شِدَادٞ يَأۡكُلۡنَ مَا قَدَّمۡتُمۡ لَهُنَّ إِلَّا
قَلِيلٗا مِّمَّا تُحۡصِنُونَ ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ عَامٞ فِيهِ يُغَاثُ ٱلنَّاسُ وَفِيهِ
يَعۡصِرُونَ ﴿٤٩﴾

څوکلونه وروسته پاچا خوب ګورې!

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ او پاچا وويلي إِنِّيٓ أَرَىٰ بېشکه زه په خوب کې ګورم
سَبۡعَ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ اوه چاغې غواګانې يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ چې اوه
خوارې غواګانې يې خوري وَسَبۡعَ سُنۢبُلَٰتٍ خُضۡرٖ او اوه شنه وږي
وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖۖ او نور(اوه وږي) وچ وي يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمَلَأُ اى درباريانو
أَفۡتُونِي فِي رُءۡيَٰيَ ماته زما د خوب تعبير راکړئ إِن كُنتُمۡ لِلرُّءۡيَا
تَعۡبُرُونَ که تاسو د خوبونو په تعبير پوهېږئ ﴿٤٣﴾ قَالُوٓاْ
هغوى(يعنې درباريانو پاچا ته) وويلې أَضۡغَٰثُ أَحۡلَٰمٖۖ دا ګډوډ(
خيالي) خوبونه دي وَمَا نَحۡنُ بِتَأۡوِيلِ ٱلۡأَحۡلَٰمِ بِعَٰلِمِينَ مونږ د داسې
خوبونو په تعبير نه پوهېږو ﴿٤٤﴾ وَقَالَ (کله چې درباريانو پاچا ته
وويلې چې مونږ ستا د خوب په تعبير نه پوهېږو نو!)هغه کس وويلې
ٱلَّذِي نَجَا مِنۡهُمَا کوم چې نجات پيدا کړئ و د هغه دوه(بنديانو څخه
چې د يوسف عليه سلام سره يوځاى په زندان کې وو،ومو ويل چې
يو په دار وځړول شو،او يو بيرته په خپله وظيفه مقرر شو يعنې د
پاچا ساقې شو،څو کلونه يې يوسف عليه السلام هير شوئ و،څو کله
چې د پاچا د خوب خبره راغله، سدستې!) وَٱدَّكَرَ بَعۡدَ أُمَّةٍ ورروسته
د ډيرې مودې هغه عليالسلام ورپه ياد شو(او وېې ويلي چې) أَنَا۠
أُنَبِّئُكُم بِتَأۡوِيلِهِۦ زه تاسو ته د دې(خوب)تعبير درکوم فَأَرۡسِلُونِ خو
تاسو ما(زندان ته يوسف عليه السلام ته)وليږئ. ﴿٤٥﴾ (همداسې
وشو،کله يې چې ساقې زندان ته وليږلو،د يوسف عليه السلام سره يې
ملاقات وشو،او ورته يې وويلې،اى) يُوسُفُ يوسفه أَيُّهَا ٱلصِّدِّيقُ
اى ريښتيا ويونکيه أَفۡتِنَا فِي سَبۡعِ بَقَرَٰتٖ سِمَانٖ مونږ ته تعبير
راکړه(د دې خوب)په باره کې چې اوه چاغې غواګانې(وي او)
يَأۡكُلُهُنَّ سَبۡعٌ عِجَافٞ اوه خوارې غواګانې يې خوري وَسَبۡعِ سُنۢبُلَٰتٍ
خُضۡرٖ او اوه شنه وږي وي وَأُخَرَ يَابِسَٰتٖ او نور(اوه وږي) وچ
وي لَّعَلِّيٓ أَرۡجِعُ إِلَى ٱلنَّاسِ چې بيرته خلکو ته لاړ شم لَعَلَّهُمۡ
يَعۡلَمُونَ چې هغوى پوه شي(يعنې ته چې کوم تعبير وکړې زه به هغه

خلکو ته ووایم) ﴿٤٦﴾(ساقيِ یوازيِ یو د خوب تعبیر غوښتئ و،لیکن
یوسف علیه السلام ورته دريِ شیان ورکړل،اول د خوب تعبیر،دوهم-
تدبیر،دریم-زیریٔ) قَالَ هغه علیه السلام(ساقيِ ته) وویلي
تَزۡرَعُونَ سَبۡعَ سِنِينَ دَأَبٗا چيِ تاسو به مسلسل(لکه د خپل پخواني
عادت مطابق)اوه کلونه (فصلونه)کرئ فَمَا حَصَدتُّمۡ خو(په دي اوه
کلونو کيِ)چيِ کوم فصلونه تاسو لو کوئ(ریبئ) فَذَرُوهُ فِي سُنۢبُلِهِۦٓ
نو په وږو کيِ يې پریږدئ إِلَّا قَلِيلٗا مګر لږ غونديِ مِّمَّا د
هغه(ریبل شوو فصلونو څخه پاکوئ،یعني په دومره اندازه) تَأۡكُلُونَ
چيِ تاسو يې خورئ. ﴿٤٧﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ سَبۡعٞ شِدَادٞ وروسته
د دي(ابادو اوه کلونو څخه) به اوه سخت(د قحط کلونه)راشي يَأۡكُلۡنَ
چيِ هغوی به وخوريِ(چيِ خلک به وخوريِ په دي اوه کلونو کيِ)
مَا قَدَّمۡتُمۡ هغه(غلي) چيِ تاسو مخکي (په اوه ابادو کلونو کيِ) تیاريِ
کړيِ ويِ لَهُنَّ د دوی دپاره(یعني د دي اوه سختو کلونو دپاره)
إِلَّا قَلِيلٗا پرته د لږيِ(غلي) مِّمَّا چيِ د هغي څخه تُحۡصِنُونَ به يې
تاسو ساتئ(د تخم دپاره) ﴿٤٨﴾ ثُمَّ يَأۡتِي مِنۢ بَعۡدِ ذَٰلِكَ بیا به وروسته د
دي(قحطی) څخه راشي عَامٞ (داسي) یو کال فِيهِ چيِ په هغه کيِ
به يُغَاثُ ٱلنَّاسُ په خلکو بارانونه وي(یعني ابادي به راشي،او میوي
او غلي به دومره زیاتي شي) وَفِيهِ يَعۡصِرُونَ چيِ خلک به په(دي
کال) کيِ(میويِ او دانيِ)زبیښيِ(لکه انګور،شړشم،زیتون.....) ﴿٤٩﴾

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ فَسۡـَٔلۡهُ مَا
بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ ﴿٥٠﴾ قَالَ مَا
خَطۡبُكُنَّ إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ قُلۡنَ حَٰشَ لِلَّهِ مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن
سُوٓءٖۚ قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡـَٰٔنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ
وَإِنَّهُۥ لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٥١﴾ ذَٰلِكَ لِيَعۡلَمَ أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ بِٱلۡغَيۡبِ وَأَنَّ ٱللَّهَ لَا
يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ ﴿٥٢﴾

کله چې ساقي د خوب تعبير بيان کړو،نو شايد چې پاچا د خپل خوب د تعبير او بيا د هغه عليه السلام د اعلی تدبيرونو څخه زيات متاثر شوئ وي،او کيدای شي چې فکر يې کړئ وي،چې دومره ذهين شخص بايد په زندان کې نه وي،بلکې د پاچا مشير وي،نو حکم يې وکړو چې دا بندي فورً ما ته راولئ!

وَقَالَ ٱلۡمَلِكُ او پاچا وويلې ٱئۡتُونِي بِهِۦۖ چې:دا شخص ما ته راولئ فَلَمَّا جَآءَهُ ٱلرَّسُولُ خو کله چې(د پاچا د پيغام سره استازی يا)قاصد هغه عليه السلام ته راغئ(نو يسف عليه السلام د تلو څخه انکار وکړو،چې زه اوس په دې قسم د زندان څخه وتل نه غواړم،اول دې تحقيق وشي،چې زه په کوم جرم کې زندان ته ليږل شوئ يم،که چيرته په ما کوم تهمت وي،د هغې دې صحيح تحقيق وشي،که بې ګناه يم،نو علی الاعلان دې بې ګناه او ازاد ثابت شم،نو!) قَالَ ٱرۡجِعۡ إِلَىٰ رَبِّكَ هغه عليه السلام(قاصد ته)وفرمايل چې:بيرته خپل مالک(يعنې پاچا) ته ورشه فَسۡـَٔلۡهُ او پوښتنه ترې وکړه مَا بَالُ ٱلنِّسۡوَةِ چې د هغو ښځو څه معامله وه(څه قصه وه،څه واقعه وه) ٱلَّٰتِي قَطَّعۡنَ أَيۡدِيَهُنَّۚ چا چې(د عزيز مصر د ښځې په ميلمستيا کې)خپل لاسونه پرې کړې وو إِنَّ رَبِّي بِكَيۡدِهِنَّ عَلِيمٞ بېشک زما رب د هغوی په مکر باندې پوه دی(کله چې قاصد پاچا ته د يوسف عليه السلام خبرې ورسولې،نو هغه ټولې ښځې راوغوښتلې!) ﴿٥٠﴾ قَالَ (او ورته يې) وويلې مَا خَطۡبُكُنَّ ستاسو څه معامله وه إِذۡ رَٰوَدتُّنَّ يُوسُفَ عَن نَّفۡسِهِۦۚ کله چې تاسو د يوسف عليه السلام څخه د ګناه غوښتنه کړې وه قُلۡنَ هغو(ښځو) وويلې حَٰشَ لِلَّهِ پاکې ده الله تعالی لره مَا عَلِمۡنَا عَلَيۡهِ مِن سُوٓءٖۚ مونږ د هغه«عليه السلام»په هيڅ بدی باندې پوه شوي نه يو(يعنې په هغې وخت کې چې څه شوي دي،ټول زمونږ د خوا نه وو،او د يوسف عليه السلام د خوا نه مونږ د څه غلطې خبرې احساس نه دی کړئ) قَالَتِ ٱمۡرَأَتُ ٱلۡعَزِيزِ (او) د

عزیز مصر ښځې وویلې ٱلۡـَٔـٰنَ حَصۡحَصَ ٱلۡحَقُّ اوس حقیقت ښکاره
شو أَنَا۠ رَٰوَدتُّهُۥ عَن نَّفۡسِهِۦ ما د هغه «علیه السلام»څخه د ګناه کولو
غوښتنه کړي وه وَإِنَّهُۥ او بېشکه هغه«علیه السلام» لَمِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ
په یقیني توګه د ریښتیا ویونکو نه دی(یعني زه په خپله ګناه او د
یوسف علیه السلام په پاکۍ اقرار کوم،چې یوسف علیه السلام نه په
ژبه څه غلطه خبره کړي،او نه یې عملاً کوم غلط کار کړئ دی.)
﴿٥١﴾ (یوسف«علیه السلام» وویل چې:) ذَٰلِكَ دا (پوښتنه مې ځکه
وکړه) لِيَعۡلَمَ تر څو چې هغه(یعني عزیز) پوه شي أَنِّي لَمۡ أَخُنۡهُ
بِٱلۡغَيۡبِ چې ما د هغه په غیاب کې د هغه سره(پټ)خیانت نه دی
کړئ وَأَنَّ ٱللَّهَ او پرته د شکه چې: الله تعالی لَا يَهۡدِي كَيۡدَ ٱلۡخَآئِنِينَ
د خاینانو دسیسې نه کامیابوي. ﴿٥٢﴾